IslamHouse.com
مركز أصول Osoul Center www.osoulcenter.com
ربوة Rabwah

# مونږ او سلف صالحين .. موازنه او پرتله



Pashto
پشتو

ليکوالان
عبدالعزيز بن ناصر الجليل
بهاء الدين العقيل

پښتو ترجمه
لقمان حکيم حکمت

# أين نحن
# من أخلاق السلف

المؤلف
عبدالعزيز بن ناصر الجليل
بهاء الدين العقيل

المترجم
لقمان حكيم حكمت

PASHTO
بشتو

ⓗ **المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد و توعية الجاليات بالربوة، ١٤٤١هـ**

**فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر**

عبدالبصير، لقمان حكيم

أين نحن من أخلاق السلف: اللغة البشتو . / لقمان حكيم عبدالبصير. - الرياض، ١٤٤١هـ

١٨٠ ص، ١٤ سم x ٢١ سم

ردمك : ٥-٤٧-٨٢٤٩-٦٠٣-٩٧٨

١- الاخلاق الإسلامية ٢- الصحابة والتابعون أ. العنوان

**ديوي ٢١٢ ١٤٤١/١٥٦٣**

**رقم الايداع: ١٤٤١/١٥٦٣**

**ردمك : ٥-٤٧-٨٢٤٩-٦٠٣-٩٧٨**

أُعد هذا الكتاب وصمِّم من قبل مركز أصول، وجميع الصور المستخدمة في التصميم يملك المركز حقوقها، وإن مركز أصول يتيح لكل مسلم طباعة الكتاب ونشره بأي وسيلة، بشرط الالتزام بالإشارة إلى المصدر، وعدم التغيير في النص، وفي حالة الطباعة يوصي المركز بالالتزام بمعاييره في جودة الطباعة.

+966 504 442 532

+966 11 445 4900

+966 11 497 0126

P.O.BOX 29465 Riyadh 11457

osoul@rabwah.com

www.osoulcenter.com

بسم الله الرحمن الرحيم



# لړليک


| | |
|---|---|
| نوملړ | ٧ |
| ١ – د ژباړن پېلیزه | ٩ |
| ٢ - د دوهم چاپ پیلیز | ١١ |
| ٣ - پېلیزه | ١٣ |
| ٤ - په اخلاص او صدق کې د سلفو صالحينو نمونې | ١٩ |
| ٥ - د الله تعالی نه د سلفو صالحينو د وېرې نمونې | ٢٩ |
| ٦ - له شهرت نه د سلفو صالحينو کرکه | ٣٥ |
| ٧ - د ځان خوښۍ نه د سلفو صالحينو وېره | ٣٩ |
| ٨ - له دنيا څخه د سلفو صالحينو بې رغبتي | ٤٣ |
| ٩ - له مشرتابۍ نه د سلفو صالحينو کرکه او نفرت | ٥١ |
| ١٠ - په ديني زده کړو کې د سلفو صالحينو مينه او رغبت | ٥٥ |
| ١١ - د سلفو صالحينو حق ته د انقياد نمونې | ٦٥ |
| ١٢ - له فتوا څخه د سلفو صالحينو خوف او ډار | ٦٩ |
| ١٣ - د سلفو صالحينو د قران کريم سره اړيکې | ٧٣ |
| ١٤ - په عبادتونو کې د سلفو صالحينو کوښښ | ٧٧ |
| ١٥ - په نېکيو د امر او له بدو څخه په راېندولو کې | ٨٣ |
| ١٦ –: په جهاد في سبيل الله کې د سلفو د اخلاص نمونې | ٩١ |

| | |
|---|---|
| ۱۷ - په ناورينو کې د سلفو صالحينو د صبر د نمونې | ۱۰۵ |
| ۱۸ - په دين کې له فتنو څخه د سلفو صالحينو ځان ژغورنه | ۱۰۹ |
| ۱۹ - خپل منځنۍ فتنو کې د سلفو دريځ | ۱۱۵ |
| ۲۰ - د شاهانو درګاوونو اړوند د سلفو صالحينو دريځ | ۱۲۱ |
| ۲۱ - د ښځو له فتنو څخه د سلفو د ځان ژغورنې نمونې | ۱۲۷ |
| ۲۲ - د سلفو صالحينو خپلو مورګانو سره د نيکۍ نمونې | ۱۳۷ |
| ۲۳ - په ښه ملګرتوب کې د سلفو صالحينو د کردار نمونې | ۱٤۱ |
| ۲٤ - د خلکو حقوق او د سلفو صالحينو ذمه واري | ۱٤۵ |
| ۲۳ - د خلکو په خطاګانو د سلفو صالحينو پټ سترګي | ۱٤۹ |
| ۲٤ - سلف صالحين او د علماوو د ادب خيال ساتل | ۱۵۵ |
| ۲۵ - په خبرو اترو کې د سلفو صالحينو ادبونه | ۱۵۷ |
| ۲٦ - د وخت په ساتلو کې د سلفو صالحينو د حرص نمونې | ۱٦۱ |
| ۲۷ - په خندا او ټوکو کې د سلفو صالحينو انداز | ۱٦۷ |
| ۲۸ - پای | ۱۷۱ |
| ۲۹ - د اخستنليکونو نوم لړ | ۱۷۳ |

# د ژباړن سریزه

الحمدلله رب العلمين، والصلاة والسلام على سيد الانبياء والمرسلين، محمد وعلى اله واصحابه اجمعين، وكل من سار بنهجه وتمسک بسنته الى يوم الدين، اما بعد:

ولې به د لارې مشالونه نه وي چې خوږ پيغمبر ﷺ يې په ښه ديانت، صبر او زغم زيرى وركړى دى [خَيْرُ الْقُرُوْنِ قَرْنِيْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ]!

ولې به يې زندګي له خېره ډکه نه وي چې پل په پل، لحظه په لحظه يې د قبر تورتمونه په ياد وو.

ولې به د الله متقي او ولي بندګان نه ول چې خپل ټول ځانونه يې الله ته ورکړي ول، په دنيا کې به يې د اخرت کروندې کولې، په دنيا کې يې ځان ته د اخرت سرمدي لوړ پوړې ماڼۍ ودانولې.

ايا مونږ د هغوى په څېر مسلمانان يو؟ کله هم راته رایاد شوي دي؟ په کوم درېځ کې مو وريسې اقتدا کړېده؟

څوک؟ اه!! اه!! دا څوک دي؟؟

هغوى! هغوى! دا دى ستا مخې ته يې نمونې بږدم، صحابه يادوم، تابعين يادوم، تبع تابعين يادوم، هغه هستې يادوم چې تر اوسه نه بلکې تر قيامته يې نيک عملونه جاري او دوامداره دي، لکه حديث کې چه راځي [أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ] تر اوسه ورته ثوابونه ورکول کيږي، ستاسو د روڼ او ديني راتلونکي لپاره مې له عربې نه وژباړه (أين نحن من اخلاق السلف)

**لقمان حکيم حکمت**



# د دوهم چاپ سريزه

ان الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور انفسنا و من سيئات اعمالنا. من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له، واشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريک له، واشهد آن محمدا عبده ورسوله -صلي الله عليه وسلم-.

امابعد:

د دې کتاب په لومړي چاپ يوه مياشت لا نه وه تېره چې ټولې نسخې يې ختمې شوې نو د دوهم چاپ غوښتنې راڅخه وشوې، په دې مو زړونه ډېر خوشحاله محسوسه شول چې کتاب د خلکو خوښ راغی او اسلامي بېداري هم له مونږه غواړي چې د سلف صالحينو لارښوونې او نيک حالات د خپلو عملونو د تقويې مرستندويه کړو.

د دغو عملونو د لا زيات اهتمام له کبله د کتاب د لوست ښه نوره هم پسې په ښه کول غواړوو او په دې باب کې به ان شاء الله مزيد نور زيار هم وباسو.

مونږ هوډ وکړ چې په دوهم چاپ کې هغه تېروتنې او مطبعي خطاګانې اصلاح کړو چې په لومړي چاپ کې يې شتون درلود او تر څنګ يې ځينې هغه کلمات چې مفهوم يې ګران برېښېده څه انداز شرح او توضيح کړو.

په دې عمل کې له الله څخه د اخلاص غوښتونکي يو الله دې په ښه توګه راڅخه قبول کړي او الله لره په هر وخت کې حمد او ثنا ده.

په دار طيبه کې د کره کتنې او څېړنې هيئت

**بهاء الدين عقيل**



# سريزه

ان الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور انفسنا و من سيئات اعمالنا، من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له، واشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريک له، واشهد أن محمدا عبده ورسوله ﷺ.

امابعد:

هغه مسلمان چې دنيوي او اخروي سعادت او نجات غواړي پرې پته نه ده چې د سلفو صالحينو په فهم قران کريم او نبوي سنتو باندې التزام د نجات کشتۍ ده.

له طالب العلم څخه بايد پټه نه وي چې د (سلف صالحينو) اصطلاح د نبي کريم ﷺ په شمول صحابه کرامو او تابعينو ته ويل کيږي.

خو د اړتيا وړ اړخ چې د سلفو صالحينو په منهج کې له اهتمام څخه بې غوره پاتې شوی دی د هغوی اخلاقي کردار او سلوک دي، که څه هم قناعتورباندې لرو خو په عملي تربيه کې ترې پاتې يو.

مونږ چې د سلفو صالحينو د منهج متعلق کله هم خبرې اترې کوو موخه به ترې دا نه وي چې په دماغو کې يې د يو علمي فن په څير کېږدو او بس، نا بلکې د هغوی منهج عقيدې ته، تصور ته، سلوک او اخلاقو ته شمول لري.

په وروستيو کې زمونږ د اهل السنت و الجماعت خلک د ژور غور له مخې د علمي او نظري اړخ د سلوکو او اخلاقو اړخونو ترمنځ ډېر يا کم توپير په ګوته کوي چې زمونږ داعي کله نا کله د سلفو صالحينو د سلوکو او دعوتي اسلوبو په پرتله خپل ځان يا نور ډېر لرېويني، ضرور ده چې د سلفو صالحينو عقيدې او منهج ته د دعوت په مهال بايد د هغوی عقيدوي، فقهي، سلوک او انساني رويې ته يې دعوت عام او تام وي، لکه څنګه چې د سلفو اخلاق خپلول او عقيدوي اړخ يې پرېښودل له انسان څخه د قبول وړ نه شي ګرځېدای، دغه څېر ترې دا هم نه شي

قبلېدای چې عقیدوي اړخ یې خپل کړي خو په سلوکي او اخلاقي اړخ یې هېڅ پاملرنه نه کوي، خو که د سلفو صالحینو سیرت ته لږ ځېر شو راته به جوته شي چې هغوی د پوره منهج غوره ترینه نمونه ده. که مونږ د خپل ژوند نیمګړتیاوې د سلفو صالحینو ژوند ته په دغسې هر اړخیزې کتنې پوره کړو د الله پاک په اذن به وکولای شو چې د ژوند خوګانې فیصله کړو.

که دغسې وشوای مونږ به داسې څوک ونه وینو چې په توحید الوهیت، توحیدربوبیت، توحید الاسماء والصفات، د بدعتونو ضد مبارزې کې د سلفو صالحینو پیروکار وي خو له بل اړخه په ظلم او بربریت، دروغ، غیبت، کینه او پر نفسي خواهشاتو اخته او د سلفو صالحینو مخالفت کوي.

یا په بل تعبیر که د ژوند د ښه کېدو لپاره مونږ دغه بشپړ منهج خپل کړو، زمونږ هغه مشکلات او ستونزې چې اوسمهال ترې سر ټکوو، له منځه به ولاړې شي.

د سلفو صالحینو په منهج کې د اخلاقي اړخ اهمیت د علماوو له لیکنو څخه څرګندیږي لکه عقیدة الواسطیة، عقیدة الطحاویة او داسې نور...

د نمونې په توګه امام صابوني د اهل السنت والجماعت د عقیدې اړوند وایي: «هغوی -اهل السنت والجماعت- په شپه کې له خوب وروسته د لمونځ په کولو امر کوي، د ډول ډول حالتونو باوجود د خپلولۍ په پاللو امر کوي، د سلام په اچولو، د خوراک په ورکولو، پر غریبانانو او فقیرانو او یتیمانانو رحم کولو، د مسلمانانو په چارو پاملرنه، په خوراک، څښاک، پوښاک، نکاحونو، په خرچ کې له حرامو څخه ځان ژغورلو او نېکو کارونو ته ګړندیتوب کې، په ښو کارونو د امر او له بدو څخه په ځان رابندولو کې، د طمع توقع له شر څخه په ځان ساتلو کې، د حق په ویلو او د حق په لاره کې په ستونزو یو بل ته د صبر کولو وصیت کوي.[۱]

شیخ الاسلام ابن تیمیة هم په عقیدة الواسطیة کې د سلفو د عقیدې له ذکر وروسته وایي: د دې برسېره د اسلامي شریعت واجباتو له مخې هغوی په نیکیو امر او له بدو څخه منع کوي، د حج، جهاد او په جمعه د ټولواکانو سره - ښه وي او که

(۱) عقیدة السلف وأصحاب الحدیث: (۸٦) د ابوعثمان اسمعیل بن عبدالرحمن الصابوني لیکنه، تحقیق: نبیل بن سابق السبکي.

بد- اخترونه يوځاي كول، د جماعت په لمونځونو خيال ساتل، ګرد امت ته د ديني فريضي په حيث نصيحت كول او د نبي كريم ﷺ په دې قول عقيده لري چې: [الْمُؤْمِنُ بَالبُنْيَانِ المَرْصُوصِ يَشُدّ بَعْضُهُ بَعْضاً، وَشَبّكَ بَيْنَ اصَابِعِه](١).

ژباړه: يو مومن د بل سره د قوي ابادۍ مثال لري چې يوه برخه بله پياوړې كوي او ګوتې يې سره په يو بل كې ننويستې.

او په دې قول يې عقيده لري چې [مَثَلُ الْمُؤْمِنِيْنَ فِيْ تَوَادِّهِمْ وَتَرَاحُمِهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ مَثَلِ الجَسَدِ اِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الاعْضَاءِ بِالْحُمّى وَالسّهَرِ](٢).

ژباړه: د يو بل سره په مينه او مهربانۍ او شفقت كې سره مومنان د يو بدن صفت لري، كه يو غړى يې و درديږي د بدن ټول غړي د درد او شوګير (شبګير) له امله نا ارامه وي.

په مصيبتونو كې په حوصلې او خوشحاليو كې په شكر ويستلو او د تقدير پر پريكړو د خوشحاليدو امر كوي، نيكو خويونو او ښايسته علمونو ته خلك رابولي او د نبي كريم ﷺ په دې قول غوڅه عقيده لري چې [أكْمَلُ الْمُؤْمِنِيْنَ اِيْمَاناً احْسَنُهُمْ اخْلَاقاً](٣).

ژباړه: پوره مومن هغه څوک دى چې ښايسته اخلاقي جانب ولري.

خلك دېته رابلي چې كه چا درسره خپلولي نه پالـلـه ته به ورسره خپلولي پالې، هغه چا ته به نفقه وركوې چې تا ته څه نه دركوي، هغه ته به بخشش كوې چې ظلم يې درسره كړى وي، د مور او پلار سره په ښه رويه امر كوي، په خپلولۍ پاللو، په ښه ګاونډتوب، د يتيمانو سره په ښه چلند، ناداره او مسافرو سره ښه رويه، په غلامانو نرمې كولو امر كوي، خلك له فخر او وياړ، تكبر او له حدودو څخه

(١) صحيح البخاري: كتاب الصلاة، باب تشبيک الأصابع في المسجد وغيره، حديث شمېر: (٤٨١). مسلم: البر والصلة والاداب، باب تراحم المؤمنين وتعاطفهم وتعاضدهم، حديث نمبر: (٢٥٨٥).

(٢) بخاري: الأدب: باب رحمة الناس والبهائم، حديث نمبر: (٦٠١١). مسلم: البر والصلة والأداب: باب تراحم المؤمنين، حديث نمبر: (٢٥٨٦).

(٣) سنن أبي داود: كتاب السنة، باب الدليل على زيادة الايمان ونقصانه، حديث نمبر: (٤٦٨٢). جامع الترمذي: كتاب الرضاع، باب ما جاء في حق المرأة على زوجها، حديث نمبر: (١١٦٢). صحيح سنن أبي داود: (٣/ ٨٨٦، حديث شمېر: ٣٩١٦).

سرغړونې، حق یا په ناحقه څوک په بدو یادولو څخه رابندوي، په لوړو او پیاوړو اخلاقو امر او له ټیټو نسکورو اخلاقو څخه نهې کوي[1].

دا ټول پر دې څرګند دلالت کوي چې د سلفو صالحینو تګلاره له عقیدوي او اخلاقي دواړو اړخونو څخه جوړه وه، که په یوه خواه کې نقص او کمې محسوس شي نو د دې عظیم منهج په التزام کې پرې هومره نقص منځ ته راتلای شي.

د سلفو صالحینو د ځینو احوالو او اخلاقو د ثبتولو لپاره الله تعالی ځینو خلکو ته توفیق ورکړی و چې یو یې هم امام ذهبي دی چې د [سير اعلام النبلاء] په نوم او امام ابن الجوزي د [صفة الصفوة] په نوم کتاب چې په اصل کې د [حلية الاولياء] د ابو نعیم د کتاب لنډیز دی، په خورا جامعو کتابونو کې یې یادونه کړېده، مونږ هڅه وکړه چې دغه بېلګې د حجم له لحاظه په کوچني کتاب کې چې لوستل یې اسان وي راغونډ کړو ترڅو لوستوال په اسانه سره وکولای شي دغه اخلاق د ځان په ګټه راولي او د سلفو پېروکار جوړ شي.

له تعلیق پرته مو دغه فقرات په ترتیبي شکل د ذکر وړ وبولل، خپله به درسره خبرې وکړي، مونږ یې یواځې سرمضمون ایښی دی، د ایتونو تخریج مو هم کړی دی او ګران فهمه لغتونو مو معنا کړي دي او هر قول مو خپل مصدر (سير اعلام النبلاء) او یا (صفة الصفوة) ته منسوب ذکر کړی دی.له لوستوال څخه دې پټه نه وي چې دا کتاب د سلفو صالحینو د ژوند مش نمونه یې خروار ده ټولې زندګۍ ته یې نه دی شامل، په دې کتاب کې به زمونږ موخه څه دومره ښکاره شي! اوحالانکه د هغوی ټول سیرت په دې ګواه دی.هغه څوک خوش نصیب دی چې د نبي کریم ﷺ د منهج په حقیقت لرې خبرې یې راهنمایې وکړي.

د کتاب د فقراتو ترتیب په دې ډول دي:

١ په اخلاص او صدق کې د سلفو صالحینو نمونې.

٢ د الله تعالی نه د سلفو صالحینو د وېرې نمونې.

٣ سلف صالحین او له شهرت نه کرکه.

---

(١) شرح العقيدة الواسطية: (١٥٥).

۴ د ځان خوښۍ نه د سلفو صالحينو وېره.

۵ د دنيا څخه د سلفو صالحينو بې رغبتي.

۶ له مشرتابۍ نه د سلفو صالحينو کرکه او نفرت.

۷ په ديني زده کړو کې د سلفو صالحينو مينه او رغبت.

۸ د سلفو صالحينو حق ته د انقياد نمونې.

۹ د سلفو صالحينو له فتوا ورکونې څخه خوف او ډار.

۱۰ د سلفو صالحينو د قرانکريم سره تعلق او اړيکې.

۱۱ د سلفو صالحينو په عباداتونو کې کوښښ او ونډه.

۱۲ په نېکيو د امر او له بدو نه په رابندولو کې د سلفو صالحينو کردار.

۱۳ په جهاد في سبيل الله کې د سلفو صالحينو د اخلاص نمونې.

۱۴ په ناورينو کې د سلفو صالحينو د زغم نمونې.

۱۵ په دين کې له فتنې څخه د سلفو صالحينو ځان ژغورنه.

۱۶ په منځنۍ فتنو کې د سلفو صالحينو دريځ.

۱۷ د شاهانو درګاونو اړوند د سلفو صالحينو دريځ.

۱۸ د ښځو له فتنې څخه د سلفو د ځان ژغورنې نمونې.

۱۹ د سلفو صالحينو مورولۍ پاللو کې د نيکۍ نمونې.

۲۰ په ښه ملګرتوب کې د سلفو صالحينو د کردار نمونې.

۲۱ د خلکو حقونه او د سلفو ذمه واري.

۲۲ د خلکو له تېروتنو نه د سلفو صالحينو پټ سترګي (تغابي).

۲۳ سلف صالحين او د علماوو ادب.

۲۴ سلف صالحين او د خبرو ادبونه.

٢٥ د وخت خيال ساتلو کې د سلفو صالحينو نمونې.

٢٦ په خندا او ټوکو کې د سلفو انداز.

له الله پاک څخه غواړو چې د کتاب فقراتو په راغونډولو او ترتيبولو سره لوستوال او اوريدونکي ته خير او فايده ورسوي، الله پاک ډېر ښه اوريدونکی او د دعا قبلونکی دی.

وړاندې له دې چې د پېليزې له پای څخه قلم کېږدم او تاسو د خېرخواه امامانو رڼې چېنې څخه خړوبولو ته پرېږدو ستاسو خبرول غواړو چې دغه څه شمېر فقرات د ستر او خورا لوی د خير کار څخه يوه برخه ده، د خېر په دې کار کې به د قراني او نبوي نصوصو او صحابه کرامو او د تابعينو له سيرت څخه په ګټه اخستلو د منهج د اصلاح او تغيير اړوند په مخ تګ کوو، په راروانو فصلونو کې به په ترتيب سره چې بابونه به سره منځنې نسق ضبط ولري ذکر کړو.

له الله څخه غواړو چې دا کار په خير سره سرته ورسوي او راته په دغې کارونو کې ښه توفيق راکړي او د دې کتاب خير او فايده ټولو مسلمانانو، نيکانو، دينې داعيانو ته ورسوي.

واخر دعوانا ان الحمدلله رب العلمين.

په دار طيبه کې د کره کتنې او څېړنې هيئت

**عبدالعزيز بن ناصر الجليل**

**بهاء الدين عقيل**

# په اخلاص او صدق کې د سلفو صالحينو نمونې

بکر بن ماعز رحمه الله وايي: ربيع رحمه الله د خپل قوم په مسجد کې د يو ځل نفل لمونځ پرته نورنه دی ليدل شوی[١].

سفيان رحمه الله وايي: ما ته مرية الربيع بن خُثَيم وويل: د ربيع ټول نيک عملونه د خلکو نه پناه و، که څوک به راغی او هغه سره به قران کريم و، په خپلو جامو (کاليو) کې به يې پټ کړ[٢].

منذر وايي: ربيع بن خُثَيم به ويل: هغه عمل به له زوال سره مخ شي چې د الله رضا پرې نه وي غوښتل شوې[٣].

ابوحمزة الثمالي وايي: علي بن الحسين به د شپې له مخې د ډوډۍ بار پر شا کړ او خيرات به يې پرې کو او دا به يې ويل: [پټ خيرات د الله پاک غصه ختموي][٤].

عمرو بن ثابت وايي: کله چې علي بن الحسين ومړ، د غسل په وخت کې يې خلکو پر شا تور داغونه وليدل، هغوی وپوښتل چې دا ولې؟ کورني غړو يې وويل: د شپې له مخې به يې په شا د وړو بارونه د مدينې د ناداره او غريبانو کورونو ته وړل[٥].

ابن عائشه وايي: زما پلار ويل: د مديني نادارو به ويل: کله چې علي بن الحسين مړ شوی دی له چا څخه مو پټ خيرات هم نه دی ليدلی[٦].

(١) صفة الصفوة: (٦١/٣)
(٢) صفة الصفوة: (٦١/٣)
(٣) صفة الصفوة: (٦١/٣)
(٤) صفة الصفوة: (٩٦/٢). او د [پټ خيرات کول د الله پاک غصه ختموي] د ډېرو سندنو له مخې نبي ﷺ ته مرفوعاً حديث ذکر شوی دی، که څه يې هم په هر سند کې مقال دی خو په مجموع توګه يې الباني رحمه الله حدث صحيح کړی دی.
(٥) صفة الصفوة: (٩٦/٢)
(٦) صفة الصفوة: (٩٦/٢)

۞ محمد بن مالک بن ضيغم وايي: مونږ ته ابو ايوب وويل چې يوه ورځ راته ابومالک وويل: ابو ايوبه! پرځان دې له ځانه وډار شه، زما د علم له مخې په دنيا کې د مومن انسان غمونه نه ختميږي، قسم پر الله چې که مسلمان ته په اخرت کې خوشحالي نه ورکول کېده دوه غمونه به پرې پراته وای: د دنيا غمونه او د اخرت بدبختي، ما وويل: زما پلار درنه لوګی او زار شه اخرت به مسلمان ته ولې خوشحالي نه او حالانکه مسلمان الله ته په عبادتونو ځان ستومانه کوي! هغه وويل: که عبادت روغ نه وي او قبول نه شي نو بيا؟ بيا يې وويل: ډېرى خلک باور لري چې ځان يې قابو کړی دی، په صدقه او خيرات کې يې ځان ښودنه نشته، عزم يې سم دم دی، عملونه يې نېک او صالحه دي، خو د قيامت په ورځ به يې تول له مخ نه ووېشتل شي(۱).

۞ امام ذهبي له احمد نه، هغه له حماد نه، هغه له ايوب څخه روايت کوي چې: ما دلته ډېرى خلک ليدلي دي چې ويل به يې: که تقدير کې وي وبه شي.

او ايوب به ويل: هغه سړی دې له الله پاک څخه وډار شي که عبادتونه کوي بايد خپل عبادت پر خلکو عذاب ونه ګرځوي، د ښکاره عبادتونو نه پټ عبادتونه ډېر ښه دي(۲).

۞ جعفر بن برقان وايي: زه د يونس بن عبيد له ښه سړيتوب او دينداري نه خبر شوم ما ورته وليکل: ګرانه وروړجانه! زه ستا له دينداري او ښه سړيتوب نه خبر شوم، د مينې او محبت له مخې مې تا ته ليک درواستو، ډېره مهرباني به دې وي که ستا نيک عملونه راته راواستوې.

هغه راته ليکلي و: ستا ليک راورسېد او زما د عملونو متعلق دې غوښته کړېوه، ما خپل ځان سره فيصله کړېده چې څه مې خوښ وي هغه به د نورو لپاره هم خوښ ګڼم، کوم څه چې مې بدي شي هغه به د نورو لپاره هم بد ګڼم، ومې کتل نفس مې له دې څخه ډېر لرې و، بيا مې له نفس څخه وغوښتل چې له ښو صفتونو پرته به خلک په نور څه نه يادوې، نو د بصرې په ښار کې ګرمۍ کې روژه نيول راته

(۱) صفة الصفوة: (۳/۳٦۰)
(۲) سير أعلام النبلاء: (٦/۱۹)

د هغوی د نه يادولو نه ډېر اسان ښکاره شول، دغه زما عملونه دي نور دې په الله سپارم[١].

محمد بن المثنى وايي: ما ته عبدالله بن سنان وويل: زه په طرسوس کې د عبدالله بن مبارک او معتمر بن سليمان سره ملګری وم، نا څاپه خلکو نارې کړې چې جهاد ته تيار شئ، عبدالله بن مبارک هم د خلکو سره ووت، د جنګ دواړه خواوې سره مخامخ شوې، يو رومي راووت او د مقابلې غوښتنه يې وکړه، يو مسلمان يې مقابلې ته ووت خو مسلمان يې د سختو ګوزارونو له مخې شهيد کړ تر دې چې شپږ مسلمانان يې شهيدان کړل، د جنګي صفونو ترمنځ په ډېرې لوبې او تکبر سره ګرځېده او د مقابلې نارې يې وهلې، له دې وروسته چا ورسره مقابلې ته زړه ښه نه کړ، ما ته عبدالله بن مبارک وکتل او راته يې وويل: که زه مړ شوم داسې او داسې به وکړې، خپل اس ته يې حرکت ورکړ او د مقابلې ميدان ته ووت، د کافر سره يې لږه اندازه مقابله وکړه او بيا يې کافر مردار کړ، بيا يې د مقابلې اواز پورته کړ بل کافر ورته راووت تر دې چې شپږ کافران يې ووژل، مقابله پسې نوره هم اوږده شوه، کافرانو د بوزديلې له وجې ورته مقابلې لپاره زړه ښه نه کړ، خپل اس ته يې قمچينه ورکړه او د دواړو صفونو ترمنځ وځغليد، لاړ او له سترګو پناه شو خو مونږ پرې هېڅ پوهه نه شو، لږ ځنډ وروسته مې په خپل ځای کې وليد راته يې کړه چې: پام کوه عبدالله که دا خبره دې چا ته کړېوه نو... يوه سخته خبره يې راته وکړه[٢].

احمد بن اسحاق وايي: فتح بن عبدالسلام وويل چې هريو محمد بن عمر، ابو غالب محمد بن علي، او محمد بن احمد الطرائفي ټولو راته د ابوجعفر بن محمد نه هغه د عمرو بن عثمان الحمصي نه، هغه د بقية نه، هغه د صفوان بن عمرو نه، هغه د سليم بن عامر نه، هغه د جبير بن نفير نه روايت کړي دي چې ما د ابودرداء رضي الله عنه نه په اخر لمونځ کې د نفاق نه ډېره پناه غوښتل واورېدل، ما ورته وويل: ستا او د نفاق ترمنځ خو ډېره فاصله ده؟ هغه وويل: دغه خبرې مونږ ته مه کوه په يو ساعت کې سړی له خپل دين څخه په څو څو وارې اړول کيږي چې بالاخره له دين څخه ووځي[٣].

---

(١) صفة الصفوة: (٣/٣٠٣)

(٢) سير أعلام النبلاء: (٨/٤٠٨ - ٤٠٩)

(٣) سير أعلام النبلاء: (٦/٣٨٣) ذهبي سند ته صحيح ويلي دي.

۞ فريابي له ابوبکر سعيد بن يعقوب طالقاني نه، هغه يې له عبدالله بن مبارک نه، هغه يې له اوزاعي نه، هغه له هارون بن رئاب نه نقلوي عبدالله بن عمرو چې کله مړ کېده وېويل: فلانکی قريشي راوغواړئ، ما ورته د خپلې لور متعلق د عدّت په خېر بهانه کړېوه، او زه دا نه خوښوم چې د الله پاک سره د نفاق په دريمه حصه ملاقات وکړم، تاسو ټول په دې ګواهان شئ چې ما خپله لور هغه ته په نکاح ورکړه[1].

۞ موسى بن معلى وايي: ما ته ابوحذيفه وويل: که په تا کې درې خصلتونه (خويونه) شته شول نو له اسمان نه چې څومره خير او برکت راښکته کيږي ته به په کې برخوال يې: چې عمل دې خالص د الله د رضا لپاره وي، خلکو لپاره به هغه څه خوښوې چې ستا د ځان لپاره خوښ دي، او د خپل توان په اندازه خوراک له حلالې لارې وکړه[2].

۞ ويل کيږي چې د محمد بن واسع تر څنګ يو قصه ګو خلکو ته وويل: ولې په زړونو کې الهي خشيت نشته؟ سترګو کې ژړا او د الهي خوف له کبله په بدن وېښته نه وديږي؟ محمد بن واسع ورته وويل: ای سړيه! خلک هغه څېر دي چې څنګه ته يې، خبره چې له زړه نه ووځي په زړه کې ځای نيسي[3].

۞ عبدالصمد بن عبدالوارث له محمد بن ذکوان څخه، هغه له خالد بن صفوان نه نقلوي چې زه د مسلمة بن عبدالملک سره مخامخ شوم هغه راته وويل: خالده! د حسن بصري احوال را ته بيان کړه، ما ورته وويل: د هغه متعلق به درته ډېر رښتوني معلومات درکړم، زه يې ديوال شريک ګاونډي يم، د مجلس ملګری يې يم، چې څنګه ښکاره مسلمان دی هغسې په باطن کې دی، خبره او کار يې دواړه يو څېر دي، د ناستې او ولاړې خبره يې يوه وي، چې په کومه خبره امر کوي خپله يې ډېر زيات مني، او له هغه کار څخه ځان ساتي چې ورڅخه منعه وکړي، دومره راته معلوم دی چې خلکو ته محتاج نه دی او خلک ورته محتاج دي، هغه راته وويل: بس بس هغه قوم به څه تباه شي چې داسې سړی پکې وي[4].

(١) سير أعلام النبلاء: (٣٩٦/٨).
(٢) صفة الصفوة: (٢٩٦/٤).
(٣) سير أعلام النبلاء: (١٢٢/٦)
(٤) سير أعلام النبلاء: (٥٧٦/٢).

۞ عون بن عمار وايي: ما له هشام الدستوائي نه واورېدل چې: زما دې په الله قسم وي زه هېڅکله هم داسې نه شم ویلاې چې زه د الله د رضا په خاطر د حدیث زده کړې لپاره چرته تللی یم.

ذهبي وايي: زه هم دغسې نه شم ویلای، سلفو صالحینو به علم د الله پاک د رضا لپاره طلب کوو نو د عزت سره سره ورپسې په دین کې اقتدا هم کيږي، او ځينې داسې خلک وو چې د زده کړو په لومړیو کې یې د الله رضا نوه خو چې علم یې کله حاصل کړ د ځانونو سره یې محاسبه شروع کړه نو د لارې په منځ کې علم د اخلاص په لور روان کړل، لکه مجاهد او نور علماء وايي: مونږ علم زده کړ خو دومره لوی نیت مو ورته نه و کړی، بیا الله پاک رحم وکړ او وروسته مو نیت نیک او صالحه شو، نورځينې علماء وايي: په لومړیو کې مونږ علم د الله پاک لپاره نه و یاد کړی، خو علم انکار وکړ چې خالص باید د الله لپاره وي، دا هم ډېره ښه ده، له دې وروسته یې بیا علم په نیک نیت باندې نشر او شایع کړ.

او ځينې نور داسې خلک وو چې په فاسد نیت یې علم د دنیا لپاره حاصل کړ د دې لپاره چې خلک یې صفتونه وکړي، دوی ته د خپل نیت ثمره ورکړل شوه، نبي ﷺ فرمايي: [مَنْ غَزَا يَنْوِي عِقَالاً فَلَهُ مَا نَوى][1].

که چا د پړي په نیت غزا وکړه هغه څه به ورکړل شي چې نیت یې وي.

داسې خلکو نه خو له علم څخه وړانګې واخستې او نه یې علم په نفسونو کې کوم اثر وکړ، او نه یې علم په اعمالو کې مثبته نتیجه ورکړه، عالم هر هغه څوک دی چې له الله تعالی څخه ډار ولري.

او ځينې نور داسې وو چې د ځان سره یې ناروا وکړه، په علم یې دنیاوي منصبونه ترلاسه کړل، د علم پورې یې ځان تړلی ونه بولو، د دې سره سره یې د لوی ګناهونو ارتکاب او ناروا عملونه وکړل، دوی هېڅکله علماء نه شي بلل کېدای، دوی دې برباد او مړه شي.

او ځينې نور د علم په حصول کې له الله څخه نه ډارېږي، د چل او پراډ په سورلۍ

(۱) حدیث امام أحمد په خپل مسند (۳۱٥/٥) کې دارمي په (٦٥٤/۲) کې نسائي په (۲٤/٦) د عبادة بن صامت ﷛ په روایت په دې لفظ [مَنْ غَزَا فِیْ سَبِیْلِ اللهِ وَ لَمْ یَنْوِ الاَّ عقَالاً فَلَهُ مَا نَوَی] روایت کړی دی.

سپور وي، تل لپاره په رخصتونو او اسانتياو فتواګانې ورکوي، روايتونه يې ټول شاذ حديثونه وي، او ځينې خو يې لا بيخي په الله تعالی دومره جراتمند وي چې د درواغو حديثونه جوړوي، بالاخره الله تعالی يې وشرموي، علم يې له منځه ولاړ شي او اور يې توخه شي، دغې ټولو خلکو د علم ډېره برخه روايت کړېده خو ولې پای يې په دې تمامه شوېده چې له علم څخه لوڅ او لغړ شوي دي، له دوی څخه وروسته نور داسې خلک منځ ته راغلل چې له تېرو خلکو نه په علم او عمل دواړو کې پس پاتې وو، د دوی پسې نور داسې خلک راغلل چې په ظاهره کې علم ته منسوب وو خو له لږ علم پرته يې نور هېڅ نه و ياد، پخپلو ځانونو يې د ښه علماو ګومان کوو خو دايې بيخي په ذهن کې نه وه چې الله پاک ته خپل ځانونه په علم ورنزدې کړي، دا ځکه چې دوی د اقتداء لپاره وړ ديندراه عالم ښوونکی نه و ليدلی، د خورې ورې رمې په څېر بې نظمه او بې ضبطه شول، په دوی کې د استاذ موخه دا جوړه شي چې ډېر کتابونه راغونډ کړي او کله کله يې ګوري، پخپلو روايتونو کې تصحيفات کوي او هېڅ خيال يې نه ساتي، د الله تعالی نه د خلاصون او بخښش سوال کوو، او لکه د يو عالم په څېر مونږ هم وايو چې: زه نه عالم يم او نه مې کوم عالم ليدلی دی[١].

۞ محمد بن عيسي وايي: عبدالله بن مبارک به طرسوس ته ډېر زيات تلوراتلو او هلته به په خانقاه کې پاتې کېده، يو ځوان هلک به ورته ډېر زيات راتو حديثونو به يې ترې هم اورېدل او ابن مبارک به ورله د ژوند اړوند اړتياوې هم پوره کولې، د عادت سره سم عبدالله بن مبارک يو ځل (رقي) ته راغی د ډېرې تونديـ له کبله غزا ته ووت خو دغه ځوان يې ونه ليد، چې له غزا نه بېرته راستومن شو د ځوان متعلق يې پوښتنه وکړه، ورته وويل شول چې د پور له کبله په محبس خانه کې دی، عبدالله بن مبارک وويل: څومره پور وړی دی؟ هغوی ورته وويل: لس زره درهم، له ډېرې پوښتنې وروسته يې هغه سړی پيدا کړ چې قرض يې ورپورې و، د شپې له مخې يې ورله لس زره درهم ورکړل او قسم يې ورکړ چې ترڅو زه ژوندی يم چا ته به يې قيصې نه کوي، او چې څنګه سبا شي سړی له بند څخه خلاص کړه.

عبدالله بن مبارک بېرته د شپې ولاړ او سهار ځوان له بند څخه خلاص شو، چا

(١) سير أعلام النبلاء: (١٥٢/٧ – ١٥٣).

هلک ته وويل: عبدالله بن مبارک دې پوښتنه کوله لږ څه وخت کيږي چې ولاړ، ځوان ورپسې وځغليد او له (رقي) څخه بهر يې دوه يا درې ميله وړاندې راونيو هغه ورته کړه: ځوانه چرته وې؟ ډېر وخت کيږي چې په خانقاه کې دې نه وينم؟ هغه ورته وويل: هو ابوعبدالرحمن! زه لږ قرض کې بندي وم، عبدالله بن مبارک ورته وويل: څنګه له بند څخه راخلاص شوې؟ هغه ورته وويل: نه پوهېږم چې څوک به و خو راغلی و او زما له پلوه يې قرض ادا کړی و، دغه دی چې له بند څخه راووتم، عبدالله بن مبارک ورته وويل: ستا د قرض په ادا کولو د الله پاک شکر ادا کړه.

سړي دا کهاني هله بيان کړه چې کله عبدالله بن مبارک ﷬ ومړ[١].

ابو جعفر الحذاء وايي: ما له سفيان بن عيينة نه اوريدلي دي چې که د انسان ظاهر او باطن سره يوشان وي دېته عدل ويل کيږي، او که باطن د انسان د ظاهر نه غوره وي ورته فضل ويل کيږي، او که ظاهر يې له باطن نه غوره وي ورته ظلم او زياتی ويل کيږي[٢].

عبدالله بن مبارک وايي: حمدون بن احمد ته وويل شول: د سلفو په خبرو کې زمونږ له خبرو نه وزن ولې ډېر دی؟ هغه وويل: ځکه چې هغوی به د اسلام د سرلوړۍ، د نفسونو د عام نجات او خلاصون او د الله تعالی د رضا په خاطر خبرې کولې، او مونږ خبرې د نفسي عزت، د دنيا غوښتنې او د خلکو د رضا لپاره کوو[٣].

نضر بن شُميل وايي: يو ځای و چې وړۍ به پکې ګرانه شوه نو په بصره کې به هم وړۍ ګرانېده، نو هلته وړۍ ګرانه شوه، چونکه يونس بن عبيد خپله د وړۍ کاروباري و په دغه کار وپوهېده له يو سړي څخه يې د دېرش زره روپو مال واخست، څه موده وروسته بېرته دوکاندار ته ورغی او ورته يې وويل: ايا تا ته معلومات و چې په فلانکي ځای کې وړۍ ګرانه شوې وه؟ هغه وويل: نا که ما ته معلومات ول ما نه خرڅوله، يونس بن عبيد وويل: ما ته مې روپۍ راکړه او بېرته دې مال واخله[٤].

---

(١) صفة الصفوة: (٤/١٤١ – ١٤٢).
(٢) صفة الصفوة: (٢/٢٣٤).
(٣) صفة الصفوة: (٤/١٢٢).
(٤) سير أعلام النبلاء: (٦/٢٩٣).

۞ له بِشر څخه خلک روايت کوي چې چا ورته وويل: راځه چې ساعت تېرى وکړو! هغه ورته وويل: ګف ته مې ډېر زړه کيږي خو چې څه شي ته مې زړه وشي پرېږدم يې[١].

۞ فضيل بن عياض وايي: خوار شئ، ايا د بدو کارونو سره بيا هم ځان ته ښه سړي وايې، د جهل سره بيا هم ځان ته عالم وايې، بخل کوې او بيا هم لا ځان ته سخي وايې، له حماقت نه ډک يې او بيا هم ځان ته هوښيار وايې، ارزوګانې دې اوږدې دي او اجل دې ډېر لنډ دى.

زه [ذهبي خپله وايي] وايم: لوړه په رب لايزال چې فضيل بن عياض رښتيا وايي، انسانه! ظلم هم کوې او ځان ته مظلوم هم وايې، د حرام خورۍ سره ځان ته پرهيزګاره وايې، د فسق او فجور کولو سره ځان ته عادل او نېک سړى وايې، د دنيا لپاره علم کوې او دعوه لرې چې زه يې د الله پاک لپاره طلب کوم[٢].

۞ يوسف شيرازي په خپل کتاب [اربعين البلدان] کې وايي: زه چې کله د خپل استاذ او د وخت مستند عالم د زيارت لپاره روان شوم، الله تقدير کړېوه چې د کرمان په لرې پرته سيمه کې مې ورسره ليدل کتل وشول، سلام مې پرې وکړ، ښکل مې کړ او مخې ته يې کېناستم، راته يې کړه چې دلته ولې راغلې؟ ما ورته وويل: ته مې موخه وې، او له الله وروسته مې ټول باور په تا دى، له تا څخه مې په خپل قلم ليکل کړي و، او مزل مې ستا حضور ته را لنډ کړم، په دې چې برکتونه درڅخه حاصل کړم او له (علوّ السند) څخه برخمن شم.

هغه راته وويل: مونږ او تا ته دې الله خپله رضا را نصيب کړي، زمونږ هڅې دې الله خالص د هغه لپاره وګرځوي، که زه دې سم صحيح پېژندلاى واى، سلام به دې راباندې هم نه واى کړى، او نه به مې مخې ته دومره په ادب ناست واى، بيا يې تر ډېر وژړل او شته خلک هم په ژړا شول، بيا يې وويل: اى الله! ستا په ښائسته پرده کې مو پټ کړه، د پردې تر شاه مو داسې کړه چې ته راڅخه خوشحاله يې.

اى ځويه! زه د لسو کالو ووم چې د پلار سره مې له هرات څخه بوشنج ته د علم

(١) سير أعلام النبلاء: (١٠/٤٧٠).
(٢) سير أعلام النبلاء: (٨/٤٤٠).

د حصول لپاره شیخ داوودي ته پیادل سفر وکړ، پلار مې راته په دواړو لاسونو کې کانې کېښودل او راته يې کړه چې دا ونه غورځوې، له وېرې مې نه شو غورځولای او ډېر به يې ستړی ستومانه کړم، پلار به مې راته زما ساه تیګاه ولیده راته به يې وويل: يو کانې وغورځوه، يو به مې وارتو او سفر مو جاري ساتو، چې پلار مې بیا ساه تیګاه ولیده راته يې کړه چې ستومانه شوې؟ له وېرې به مې ورته وويل چې نا، هغه به راته کړه چې ولې نو بیا مزل نه شې کولی؟ تر لږه ګړې به يې مخې ته چابک چابک لاړم، بیا به ستومانه شوم، هغه بل کانی به يې راڅخه هم لرې کړ، سفر به مو جاري ساتو خو چې ښه به ستړی ستومانه شوم، په شا به يې کړم، په لاره کې به د زمیندارو یا نور چاسره سره مخ شول او سورلي به ورسره وه، زما پلار ته به يې وويل: ای شیخ عیسی! که دې خوښه وي تر بوشنج پورې به تا او ماشوم دواړه په سورليو سپاره يوسو، هغه به ورته وويل: اعوذ بالله چې د نبي کریم ﷺ د حديثونو په طلب کې سپاره لاړ شو، نا بلکې مونږ پیادل ځو، چې کله به هغه نور له مزل څخه ودرېد، د نبي ﷺ د حديثونو د احترام له کبله به بیا ما په شا کړ تر څو رب کریم ثوابونه راکړي، اوس له هغه ملګرو څخه يو زه پاتې یم، د حديثونو زده کړې لپاره ډلې ډلې خلک اوس ما ته راروان دي.

بیا يې زمونږ ملګري عبدالباقي بن عبدالجبار هروي ته وويل چې ما ته حلوا راکړې، ما ورته وويل: شیخ! که د ابو الجهم د حديثونو ټوک راته ووایې له حلوا څخه راته پسند دی! هغه وخندل او راته يې کړه چې خواږه راشي خبرې ختمې شي، لويه کاسه يې د حلوا ډکه راوړه او مونږ وخوړه، بیا مې ورڅخه وغوښتل چې اصلي نسخه راته راکړي، نسخه يې راوړه او راته يې وويل: هېڅ ترس او حرص مه کوه، ډېری مخلوق ته مې دا معلومات ورکړي دي، له الله څخه عافیت غواړه، بیا مې ورته د حديثونو ټوک واورو او ډېر ترې خوشحاله وم، د صحیح البخاري سره سره مې ترې نور ډېر څه بار بار واورېدل، او تر هغه مې ورسره صحبت دوام ودرلود چې د سه شنبې په ورځ د ذي الحجې په میاشت کې په بغداد کې وفات شو[١].

---

(١) سير أعلام النبلاء: (٢٠/٣٠٧ – ٣٠٨).



# د الله تعالى نه د سلف صالحينو د وېرې نمونې

عبدالله بن مسعود ﷺ به کله کيناست ويل به يې: د ورځې او شپې په تېرېدو سره ستاسو اجلونه رانزدې کيږي، مرګ نا څاپه راځي او ټول عملونه مو ثبت کيږي، د خير کروندې چې څوک کوي په مينه به خپل فصل وريبي، او په ډېره پښېمانتيا به د شر کرونده ګر خپل کرلى فصل وريبي، څوک چې څه کري هغه به ريبي، ناراسته له خپلې برخې څخه نه محرومه کيږي او د مقررې اندازې پرته حريص ته مزيد نور څه نه ورکول کيږي، که چا ته خير په لاس ورشي نو خير الله پاک ورکړ، او که له شر څخه په ډډه کړى شي الله پاک له شره وساتو، پرهيزګاره خلک مشران او سرخيل دي، عالمان قائدين دي، او مجلسونه يې د خير او برکت مجلسونه دي[1].

فسوي وايي مونږ ته ابواليمان، هغه ته حريز بن عثمان، او هغه له ابو الحسن عمران بن نمران نه نقلوي چې ابوعبيده به په جنګي ليکو کې روان و او ويل به يې: اى خلکو واورئ! ډېر خلک پر تن سپين پوښاک لري خو عقيده يې ګنده وي، ځينې نه پوهيږي د خپل عزت په ځاى د ځان بي عزتي کوي، ټول خپل مخکنې ګناهونه په نوي ښائسته نيک عملونه باندې ختم کړئ[2].

ابن شوذب وايي: ابوهريرة ﷺ چې کله مړ کېده ژړل يې، چا ورته وويل ولې ژاړې؟ هغه ورته کړه: په دې ژاړم چې سفر اوږد دى او توښه مې کمه ده، مخې ته مې پرته غونډۍ ډېره سخته ده معلومه نه ده چې ښکته کيدل به ترې جنت ته او که اور ته وي[3].

عبيدالله بن السرّي وايي: ابن سيرين ويلي دي: ما ته مې هغه ګناه معلومه ده چې له کبله يې زه قرضدارى شوى يم، ما څلويښت کاله مخکې يو سړي ته ويلي و: اى ناداره. دا خبره ما ابو سلميان داراني ته وکړه، هغه وويل: د هغوى ګناهونه

---

(١) سير أعلام النبلاء: (٤٩٧/١).

(٢) سير أعلام النبلاء: (١٨/١).

(٣) صفة الصفوة: (٦٩٤/١).

ډېر کم و، نو معلومات ورته کېدای شول چې سخته پرې له کومه راځي، او زمونږ ګناهونه ډېر دي مونږ ته د دې معلومات نشته چې له کومه به نيول کيږو[١].

عبدالله بن عبدالرحمن بن يزيد بن جابر وايي: ما ته مې تره يزيد بن يزيد بن جابر د عطاء خراساني نه روايت کو چې: زه درته د دنيا په ګټلو وصيت نه کوم، په دې خو درته پند درکړل شوی دی او بيا هم تاسو په دنيا ډېر حرص کوئ، زه درته په اخرت ګټلو وصيت کوم چې له دې فاني دنيا نه د تل پاتې کور لپاره توښه واخلئ، او دنيا داسې وشمارئ چې ګنې تاسو ورڅخه تللي ياست، او زما دې په الله قسم وي چې له دنيا څخه به هرومرو ځئ، او مرګ داسې وشمارئ چې ګنې تاسو ګوټ کړی دی او زما دې په الله قسم وي چې مرګ به خامخا څښئ، او اخرت داسې وشمارئ چې ګنې تاسو ورته ورغلي ياست او زما دې په الله قسم وي چې هرومرو به اخرت ته ورځئ، اخرت د ټولو خلکو کور دی، هر څوک چې په سفر روانيږي د ځان سره توښه اخلي، که د سفر په دوران کې چا سره توښه وي ډېر به ورته خوشحاله وي، او که چا توښه وانه خسته ډېر زيات به خفه وي، په ګرمۍ کې به وسره سيوری او په تنده کې به ورسره دومره اوبه نه وي چې تنده پرې خروب کړي، د دنيا سفر پای لري ختم به شي خو هوښيار او دانا سړی هغه دی چې د نه ختميدونکي سفر لپاره پوره تياری ونيسي[٢].

قيبصة بن قيس العنبري وايي: ضحاک بن مزاحم به هر ماښام ژړل، چې چا به ورته وويل: ولې ژاړې؟ هغه به ويل: په دې ژاړم چې نن به الله پاک ته زما څنګه عملونه پورته شوي وي[٣].

کنانة بن جبلة السلمي وايي: بکر بن به عبدالله به ويل: چې له ځان څخه مشر ووينې داسې ووايه چې دا رانه په ايمان او نيکو علمونو کې ډېر مخکې دی، او که کشر دې وليد داسې ووايه چې دا رانه ځکه ښه دی چې زما بد عملونه ترې ډېر دي، او که ورونو دې عزت وکړ داسې ووايه چې په فضل او خيريت کې درنه مخکې شول، که له ورونو دې تقصيرات وليدل داسې ووايه چې دا زما د ګناه سزا ده[٤].

(١) صفة الصفوة: (٣/٢٤٦).
(٢) صفة الصفوة: (٤/١٥١).
(٣) صفة الصفوة: (٤/١٥٠).
(٤) صفة الصفوة: (٣/٢٤٨).

قاسم بن محمد وايي: مونږ به د عبدالله بن مبارک سره سفرونه کول، زما په زړه کې به دا ګرځېدل چې عبدالله بن مبارک په مونږ باندې دومره فضيلت او شهرت په کوم عمل ګټلی دی؟ که هغه لمونځونه کوي مونږ يې هم کوو، که روژه نيسي مونږ يې هم نيسو، که جهادونه کوي مونږ يې هم کوو، که هغه حج کوي مونږ هم حج کوو، د سفر په دوران کې شام ته روان وو، په يو کور کې مو د ماښام ډوډۍ خوړله نو ډيوه مړه شوه، زمونږ يو ملګری د ډيوې پسې ووت چې رڼا يې راوړه ما د عبدالله بن مبارک ږيري ته وکتل په اوښکو لمده شوې وه، ما له ځان سره وويل چې عبدالله بن مبارک ته د الله تعالی څخه په خوف او خشيت دومره فضل او بهتري ورکړل شوې ده، شايد د ډيوې د بې نوره کېدو په وخت کې به دې ځان ته د قيامت تاريکې او تورتمونه ياد کړي وي[1].

امام مرّوذي وايي: ما يوه ورځ احمد بن حنبل ته وويل: څنګه يې او ورځ دې څنګه ده؟ هغه راته وويل: د هغه چا ورځ به څه ښه وي چې الله پاک ترې د فرائضو ادا غواړي، رسول الله ﷺ ترې د سنتو ادا غواړي، دواړه ګمارل شوې ملائک ترې د عملونو تصحيح غواړي، نفس ترې خپل خواهشات غواړي، ابليس ورته د فحش او فجور امر کوي، او ملک الموت يې د دې انتظار وباسي چې روح به ترې کله اخلي، او بچيان ورته وايي چې زمونږ د ورځې د روزۍ غم وخوره[2]!!

ابن خُبيق وايي: ما ته حذيفه مرعشي وويل: څلور شيان قابو کړه: دواړه سترګې، ژبه، نفس پرستي او زړه، په سترګو دې حرامو ته مه ګوره، په ژبه دې د زړه ضد خبرې مه کوه، هېڅ مسلمان ته په زړه کې کينه او بغض مه ساته، او نفسي غوښتنې دې قابو کړه چې هېڅ ونه غواړي، که دغه څلور خويونه درپکې نه و، پوهه شه چې په سر دې خاورې پرتې دي[3].

قاضي حسين د خپل استاذ قفّال متعلق وايي چې هغه به مونږ ته د درس راکولو په وخت کې ډېر څله ژړل، بيا به يې سر پورته کړ او وبه يې ويل: په مونږ څه څه نه کيږي او مونږ څومره غافله يو[4].

(١) صفة الصفوة: (١٤٥/٤).
(٢) سير أعلام النبلاء: (٢٢٧/١١).
(٣) صفة الصفوة: (٢٦٨/٤).
(٤) سير أعلام النبلاء: (٤٠٧/١٧).

**مخوّل** وايي: يوه ورځ راته بهيم العجلي وويل: ستا په ګاونډ او ورونو کې داسې څوک نشته چې ما سره د حج لپاره ملګرتيا وکړي؟ ما ورته وويل: ولې نه، زه لا ړم او په کلي د دينداره سړي سره مې مخامخ کړ او دواړو سره په نيته اتفاق وکړ بيا بهيم خپل کور ته ولاړ، په سبا مې کور ته کليوال راغی او راته يې ويل: ما نه تېر شه او د بهيم لپاره د بل ملګري تالاش وکړه، ما ورته وويل: خوار شئ ولې؟ په ټوله کوفه کې له دېنه بل ديندار او اخلاقي څوک نشته، ما ورسره ډېر بحري سفرونه کړي دي له ښواخلاقو پرته مې ترې نور څه نه دي ليدلي، هغه راته وويل: ما ته چا وويل چې دا ډېر ژاړي او نه غلې کيږي هسې نه په مونږ ټول سفر خراب کړي، ما ورته وويل: خوارشئ! ولې ته کله ناکله نه ژاړې چې زړه دې نرم شي؟؟ داسې هغه هم دی زړه يې نرم شي نو په ژړا شي، هغه وويل: ولې نه، خو زه خبر شوم چې دا په بله نمونه ژاړي، ما ورته وويل: ملګرتوب ورسره هرومرو وکړه ډېر خير به درته ورسيږي، هغه وويل: استخاره به وکړم.

په تعين کړې نيټې سره دواړه يوځای شول او دواړو ته سورلۍ تيارې کړی شوې، بهيم د يوې ونې د سيوري لاندې کېناست او لاس يې د ږيرې لاندې کېښود په ژړا يې شروع وکړه او اوښکې يې له سترګو په مخ دومره رارواني شوې چې له مخ نه ږيرې ته او بيا ګريوان ته، قسم په رب لايزال چې ما يې اوښکې په ځمکه وليدې.

ملګري مې راته وويل: مخوله! ملګري ته دې وګوره کنه زه ورسره ملګرتوب ته تيار نه يم، ما ورته وويل: کېدای شي ښځه او بچې يې راياد شوي وي او ژاړي، زمونږ خبرې بهيم واورېدې ويويل: نه نه وروره! حج ته سفر راته د اخرت کوچ راياد کړ، بې قابو نور هم په ژړا شو.

ملګري مې راته وويل: تا ماسره څو څو وارې داسې بد کړي دي، تا راسره ملګری کړ که نه بهيم ما څه پېژنده؟ تا ته په کار و چې بهيم دې د داود الطائي او د سلام ابو الاحوص[1] سره ملګری کړی و چې ټولو يو بل ته ژړل، يا خو به ټول مړه شوي وو او يا به يې يو بل ته تسلّي ورکړې وه.

(۱) په صفة الصفوة کې په (سلام بن الأحوص) ياد شوی دی، او صحيح نوم يې (ابوالاحوص) دی، کولای شئ چې ترجمه يې په (التقريب: ۲۷۰۳) کې وګورئ، خپل نوم يې سلام بن سليم الحنفی الکوفی دی او په (۱۷۹) کې وفات دی.

خو ما به ورته د خير دی خبرې کولې او ورته به مې ويل: دا به ستا غوره ترين سفر وي.

زما دغه کليوال به هر وخت حج ته تلو، د نيک عمل او ښه سرېتوب سره تاجر هم و، هر چا سره به يې اساني کوله، ډېر خفګان او ژړا به يې نه کوله، ما ته يې وويل: دا سفر خو مې دې سره شو خو کيداې شي چې ډېر خير او فايده په کې وي.

زما او د کليوال خبرو اترو نه بهيم خبر نه و، که خبرشوی وای نو ملګرتوب يې ورسره نه کو.

دواړه د حج په سفر ووتل او بېرته راغلل او دواړه سره لکه د خپلو ورونو په څېر وو، زه ورغلم هغه راته وويل: الله دې درته نېکه بدله او خېرعظيم درکړي، زما هېڅ يقين نه راتو چې د ابوبکر رضي الله عنه په څېر خلک به دې امت کې وي، هغه خپله ډېر ناداره و، که زه ترې د ماليت له نګاه نه ډېر ښه هم وم خو خرچه راباندې هغه کوله، که څه هم زه ځوان وم خو هغه به مې خدمت کو سره له دې چې بوډا هم و، هغه به روژه و خو زما لپاره به يې خوراک تيار و.

ما ورته وويل: د ډېرې ژړا سره يې څنګه وې؟ هغه وويل: زړه مې ترې ايله بيله خوشحاله شو زه يې هم ځان سره په ژړا راواړولم، ملګري رانه لومړی لږ په تنګ راغلل خو چې کله به يې بيا مونږ په ژړا وليدو هغوی به هم راسره ژړل، هغوی سره خپل منځ کې يو بل ته وويل: مونږ او دوي سره يوشان مړه کيږو، هغوی ژاړي او مونږ نه ژاړو؟ مونږ چې به کله په ژړا شول هغوی به هم راسره ژړل.

بيا بهيم ته ورغلم او سلام مې پرې وکړ ورته ومې ويل: په لاره کې ملګري سره څنګه وې؟ هغه وويل: ډېر ښه ملګری و، د الله ذکر، د قران کريم تلاوت به يې ډېر زيات کو، له اوښکو نه به يې سترګې ډکې وې، او د برداشت څښتن و، په دغې غورچاڼ دې درته الله پاک نېکه بدله درکړي[1].

(١) صفة الصفوة: (٣/١٧٩ – ١٨٢).



# سلف صالحين او له شهرت نه کرکه

حبيب بن ابي ثابت وايي: يوه ورځ عبدالله بن مسعود راووت خلک ورپسې روان شول، هغه ورته وويل: ايا څه کار مو راسره دی؟ هغوی ورته وويل: څه کار مو نشته خو مونږ ويل چې له تاسره لاړ شو، هغه ورته وويل: بېرته ستانه شئ، داسې تلل د مشرتابه لپاره فتنه او د ورپسې خلکو لپاره هلاکت دی[١].

حارث بن سويد وايي: عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وايي: که تاسو ته زما صحيح معلومات وای نو زما په سر به مو خاورې اچولی وای[٢].

بسطام بن مسلم وايي: د محمد بن سيرين سره چې به څوک روان شول هغه به ورته وويل: څه خو نه وايې؟ که د چا به ورسره څه کار و نو ورله به يې وکړ، چې په راستنېدو کې به ورسره بيا څوک پاخېد بيا به يې ورته وويل: ولې؟ څه کار خو دې نشته؟[٣].

حسن[٤] وايي: زه يوه ورځ د عبدالله بن مبارک سره وم، يوې چينې ته راغلو خلکو ترې اوبه څښلې، چونکه خلکو ونه پېژند، تېل ماتال يې ورسره وکړ خو چې له کڅې کونې راووت ما ته يې وويل: ژوند داسې خوند کوي چې هېڅ څوک مو نه پيژني او نه راله عزت کوي.

بيا په کوفه کې وربانديې کتاب المناسک لوستل کېده چې دې ځای ته ورسېد: عبدالله وايي: دا زما مذهب دی. نو ويويل: زما دا خبره چا ليکلې ده، چا چې ليکلې وه هغه ورته وويل: ما ليکلې ده، تر هغه يې په لاس کرو کرو چې تر څو يې وران کړ، بيا يې وويل: زه لا څوک يم چې خبره هم مې ليکل کيږي؟[٥].

(١) صفة الصفوة: (٤٠٦/١).
(٢) صفة الصفوة: (٤٠٦/١ – ٤٠٧).
(٣) صفة الصفوة: (٣٤٣/٣).
(٤) حسن بن الربيع، او حسن بن عرفطة، او حسن بن عيسى بن ماسرجي درېواړه د عبدالله بن مبارک شاګردان دي، قايل هم په درېواړو کې يو دی.
(٥) صفة الصفوة: (١٣٥/٤).

۞ حسين بن الحسن المروذي وايي: عبدالله بن مبارک وايي: له شهرت څخه ځان پټ وساته، او دا هم خلکو ته مه ښايه چې ته شهرت نه خوښوې، ولې چې د ځان لپاره په زهد دعوه کول د زهد نه خپله وتل دي، د دې داسې معنی ده چې ته پخپله ځان ته د خلکو مدح او ثنا راکاږې[1].

۞ احمد بن يونس اليربوعي وايي: ما ته معاوية بن حفص هغه ته داود بن مهاجر ويلي و چې ابن محيريز ويل ما فَضَالة بن عبيد ته وويل: ما ته نصحيت وکړه. هغه وويل: يو څو خويونه دي چې الله پاک به پرې تا ته ډېر خېر دوررسوي: چې وسع دې کېږي خلک وپېژنه خو په خلکو ځان مه پېژنه، چې وسع دې کېږي خبرې اوره خو خبرې مه کوه، چې وسع دې کېږي بل ته کېنه خو ځان ته څوک مه کېنوه[2].

۞ يو سړی وايي: ابو عبدالله احمد بن حنبل ﷬ مې په ډېر خفګان کې وليد په دې حالت کې يې يو سړي صفت وکړ چې [جزاک الله عن الاسلام خيراً] الله تعالی دې تا ته د اسلامي خدماتو نيکه بدله درکړي، هغه ورته وويل: الله تعالی دې زما له خوا اسلام ته خير ورکړي، زه لا څوک يم او څه مې کړي دي[3]؟

۞ محمد بن المنکدر وايي: د رسول الله ﷺ په مسجد کې به زه همېشه لپاره د يوې ستنې په خوا کې د شپې لمونځ ته ودرېدم، په مدينې والا باندې يو کال قحط راغی که څه هم د استسقا لپاره ووتل خو باران پرې ونه شو، د شپې له مخې چې مې د ماسخوتن لمونځ وکړ د عادت سره سم خپلې ستنې ته راغلم او ورته تکيه شوم، په دې جريان کې له رنګه تور سړی چې زيړوالي ته ورته و راغی، لنګ يې وهلی و او په وولو يې څادرګی هم پروت و، له ما نه مخکې ستنې ته ودرېد، دوه رکعتونه يې وکړل او بيا کېناست او وېويل: ای الله! ستا د پېغمبر د حرم اوسيدونکي د باران غوښتو لپاره دروتل خو تا پرې باران ونه کړ، زما دې په تا قسم وي چې باران پرې وکړه.

(١) صفة الصفوة: (١٣٧/٤).
(٢) سير أعلام النبلاء: (١١٦/٣).
(٣) سير أعلام النبلاء: (٢٢٥/١١).

ما له ځان سره وويل: شايد لېونى وي. خو لاس يې لا نه و ښکته کړى چې ما د اسمان غرارى واورېد او باران وشو، ماغوښتل چې کورته مې ولاړ شم په دې کې هغه د باران اواز واورېد د الله پاک دومره حمد او ثنا يې بيان کړه چې ما دغسې حمد او ثنا چرته نوه اورېدلې، بيا يې وويل: زه لا څوک يم چې تا راله دعا هم قبوله کړې، ستا په قوت او حمد پورې مې دې پناه وي، له کوم څادر څخه چې يې لنګ ترلى و هغه يې پر ځان راخپور کړ او د اوږو څادر يې د خپو منځ کې واچو او تر سهاره په لمونځ باندې ولاړ و، چې کله پوهه شو سبا راختو والا دى سجده يې وکړه او بيا وتر وکړل، له هغې وروسته يې دوه رکعته د سهار سنت وکړل او په جماعت سره يې د سهار لمونځ ادا کړ، زه هم د خلکو سره په سهار لمونځ کې شامل شوم، لمونځ نه وروسته زه او هغه پاڅېدو اوبه په لښتو کې رواني وې زه او هغه په اوبو ورګډ شول خو بيا ما ته معلومات ونه شول چې چرته ولاړ.

په دوهمه شپه زه بيا د عادت سره سم خپلې ستنې ته تکيه شوم هغه بيا راغى او خپل لنګ يې په اوږو او د اوږو څادر يې د خپو ترمنځ واچو، تر سبا يې لمونځونه وکړل، د سبا د راختو په وخت کې يې سجده او بيا وتر وکړل او بيا يې د سهار دوه رکعته سنت وکړل، د جماعت لمونځ ودرېد زه او هغه دواړه په جماعت کې داخل شوو، زه او هغه دواړه له مسجد نه ووت او ورپسې شوم کور مې ورله وپېژنده چې د مدينې اوسيدونکى دى.

د لمر راختو سره سم يې کورته ورغلم چې ومې کتل موچي و، زه يې د ليدو سره وپيژندم پاڅېد او ښه راغلاست يې راته ووايو، بيا يې راته وويل: څه خدمت دې وکړم؟ که خوښه دې وي چې موزې درله جوړې کړم؟ لږ څه کېناستم بيا مې ورته وويل: ته هغه بيګانى سړى نه يې؟ سم دلاسه يې مخ تک تور شو او راته يې وويل: ابن المنکدره! ستا په دې خبرو کې څه کار دى؟ دومره غصه او قهر شو چې نور زه دېته تيار شوم چې ورڅخه راووځم.

په دريمه شپه چې مې د نبي ﷺ په مسجد کې لمونځ وکړ، د عادت سره سم خپلې ستنې ته راغلم او ورته تکيه شوم خو دغه سړى رانغى، ما له ځان سره وويل: انا لله وانا اليه راجعون، دا مې څه وکړل؟ چې کله سهار شو له لمونځ نه وروسته

تر لمرخاته پورې په مسجد کې کېناستم بيا يې کور ته ورغلم څه ګورم چې کور خالي پروت دی او هېڅ شي په کې نشته، د کور والا راته وويل: تا پرون سرې ته څه وويل؟ ما وويل: ولې؟ هغوی راته وويل: چې ته څنګه ووتې هغه خپل ټول سامان، قالبونه او هر څه په څادر کې واچول او له کور ووت، مونږ نه پوهيږو چې هغه به چرته تللی وي؟

ما د مدينې هر کور ولټو خو پيدا مې نه کړ -الله دې پرې ورحميږي-[(١)].

(١) صفة الصفوة: (١٩٠/٢ – ١٩٢).

# له ځان خوښۍ نه د سلفو صالحينو وېره

ثابت البناني وايي: ابوعبيده يوه ورځ وويل: ای خلکو! زه د قريشو شخه يو فرد يم، که په تاسو کې هر سور يا تور راباندې په تقوا کې برتري ولري، زه دوسته ګڼم چې پيروکار يې جوړ شم[1].

معمر پخپل سند له ايوب او هغه له نافع شخه نقلوي چې يو سړي عبدالله بن عمر رضي الله عنه ته وويل: ای خلکو کې ښه سړی! يا ای د ښه سړي ځويه! هغه ورته وويل: نه زه ښه سړی يم او نه د ښه سړي ځوی يم، بس د الله يو بنده يم، اميد او وېره دواړه ترې لرم، تاسو هم چې څوک تباه کړي نه وي نه يې پرېږدئ[2].

ابو الاشهب وايي: مطرّف بن عبدالله بن الشخير وايي: چې ټوله شپه وده يم او سهار پښېمانه راپاڅم دا مې له دېنه خوښ دي چې ټوله شپه ولاړ يم او ځان ته غره شم[3].

ذهبي وايي: لوړه په رب لايزال چې څوک ځان خوښی وي يا د ځان تزکيه کوي هيڅکله به کامياب نه شي[4].

وهب بن منبه وايي: زما نه درې خبرې يادې کړئ:

١ هوا پرستي مه کوئ.

٢ د بد ملګري سره مه ګرځئ.

٣ د ځان خوښۍ نه ځان وساتئ[5].

ابو وهب المروزي وايي: ما د عبدالله بن مبارک نه پوښتنه وکړه چې کبر

(١) سير أعلام النبلاء: (١/١٨).
(٢) سير أعلام النبلاء: (٣/٢٣٦).
(٣) حلية الأولياء: (٢/٢٠٠).
(٤) سير أعلام النبلاء: (٤/١٩٠).
(٥) سير أعلام النبلاء: (٤/٥٤٩).

څه ته ویل کیږي؟ هغه وویل: کبر خلکو ته کم کتلو ته وایي، بیا مې ورځخه وپوښتل چې عُجُب څه ته ویل کیږي؟ هغه وویل: عجب دېته ویل کیږي چې ته داسې عقیده ولرې چې خلکو سره هغه څه نشته چې کوم تا سره دي، او په لمونځ ګوزارانو کې ماته بې کاره شې ځان خوښي ښکاري[1].

احمد بن ابي الحَوَاري وایي: ما ته عبدالله انطاکي وویل: فضیل او ثوري دواړه سره یوځای شول او مذاکره یې شروع کړه، سفیان ثوري وژړل، بیا یې وویل: دا مجلس شاید په مونږ د رحمت او برکت سبب شي، فضیل ورته وویل: زه په دې وېرېږم چې مجلس مو راته عذاب نه شي! ایا مونږ دواړه یو بل ته په ښو خبرو ښه ښکاره نه شو؟ سفیان بیا وژړل او ویویل: الله دې ژوندی لره ایله بیله دې ژوندی کړم[2].

اما شافعي رحمه الله فرمایې: چې کله د نیک عمل په کولو د ځان خوښی نه ویریږئ نو دا ځان ته یاد کړئ چې:

١ څوک رضا کول غواړئ؟

٢ کوم نعمتونه غواړئ؟

٣ له کوم عقاب نه ډارېږئ؟

په دې کې چې څوک فکر یوسي خپل نیک عملونه به ورته ډېر لږ ښکاره شي[3].

رشدین بن سعد وایي: ما ته حجاج بن شداد وویل: ما د عبیدالله بن ابي جعفر چې خورا پیاوړی هوښیار او ځیرکه دی واورېدل: که په مجلس کې چا خبرې کولې او خپلې خبرې یې خوښې شوې چپ دې شي، او که خاموش ناست وي او خپله خاموشي ورته ښه ښکاره شوه نو خبرې دې وکړي[4].

سعید بن عبدالرحمن له ابو حازم نه نقلوي چې: ځینې وختونو کې څوک ښه کار وکړي نو په کولو یې ډېر خوشحاله شي سره له دې چې له تمامو بدو کارونو نه

(١) سير أعلام النبلاء: (٨/٤٠٧).
(٢) سير أعلام النبلاء: (٨/٤٣٩).
(٣) سير أعلام النبلاء: (١٠/٤٢).
(٤) سير أعلام النبلاء: (٦/١٠).

ورله دغه نيک کار ډېر ضررناک وي، او کله سړی بد کار وکړي نو ډېر پرې خفه شي سره له دې چې دغه خفګان ورله د ډېرو نيکو عملونو نه ښه وي، دا ځکه چې د خير کار په کولو ځان په هر چا لوړ بولي او غرور پرې کوي، او کېدای شي چې الله تعالى يې ورسره نور ډېر نېک عملونه هم برباد کړي، او چې کله انسان بد عمل وکړي او بېرته ترې په وېره کې وي کېدای شي چې د الله تعالى سره مخامخ شي او وېره يې په زړه کې وي(١).

د امام ابن حزم رحمه الله په دې قول (زه د حق پيروکار يم اجتهاد کوم خو د چا تقليد نه کوم) امام ذهبي رحمه الله تعليق کوي چې: څوک چې د اجتهاد رتبه حاصله کړي او څه شمير علماء يې معتبر وبولي هغه له تقليد کول هم ناروا دي، خو څوک چې ايله بيله د قران کريم حافظ او يا د فقه لومړني کتابونو زده کوونکی وي کله هم اجتهاد نه شي کولای، دا به لا څنګه اجتهاد وي؟ او په اجتهادي مسايل به يې څه وي؟ په کومو قواعدو به فروع بنا کوي؟ چې وزرې يې نه وي الوتل به لا څنګه وکولای شي؟.

دريم قسم: بېدار فقيه او زيات زيرکه محدث چې په فروعو کې يې مختصر، د اصولو په قواعدو کې کوم کتاب، او نحو يې هم لوستلې وي، د دې برسېره د قران کريم حافظ او په تفسير يې مشغول وي، د مناظرې کولو قوّت او نور څه فضيلتونه هم ولري د مقيّد اجتهاد درجې ته رسيږي، کولای شي چې د امامانو دليلونه سره پرتله کړي، چې کله ورته حق څرګند او نص ورته ثابت شي، يا د کوم معتمد امام لکه ابوحنيفه رحمه الله د مثال په توګه يا مالک، يا سفيان ثوري، اوزاعي، شافعي، ابوعبيد، احمد يا د اسحاق بن راهويه عمل وي، نو رخصتونو ته دې نه ګوري او حق پلوي دې وکړي، له احتياط نه دې کار واخلي او له دې وروسته پرې د هر چا تقليد کول حرام دي.

که له دې څخه ډار محسوسوي چې فقهاء به پرې تعليقات او نيوکې وکړي ځان دې چا ته نه ښايې او خبره دې پټه وساتي، کله ناکله په انسان کې ځان خوښي پيدا شي، يا شهرت سره مينه ولري نو سزا پرې ورته ورکړل شي.

(١) صفة الصفوة: (٢/١٦٤).

نفس يې خپله ازاروي، داسې ببلګې ډېرې دي چې که حق هم ووايي او په نېکيو خلکو ته امر هم کوي خو الله پاک پرې فقهاء مسلَط کړيوي، دا رنځ په مالداره طبقه خلکو او صدقه کوونکو کې هم شته، دا پټ رنځ د مجاهدينو، اميرانو، او اسلامې لښکرو په صفونو کې هم شتون لري، د کفر او اسلام دواړه جنګې ليکې به سره مخامخ جنګيږي خو د مجاهدينو په نفسونو کې به دغه پټ رنځ ښه په مخ تګ کې وي په دې خاطر چې د شجاعت، قيصې يې خلک وکړي[(١)]، يا يې بې لستوڼو قيمتي چپنې اچولې وي چې خلک يې د لباس قيصې وکړي، ځان خوښې پکې دکره ځغلانده اسونو له کبله، په اسبابو سمبالو کورونو له کبله راشي، په لمونځونو کې ترې کمې محسوس شي، په رعيت د ستم او استبداد لړي پيل کړي، نشه يې توکې په استعمال کې راولي، د داسې مسلمان نصرت او مرسته به الله پاک څنګه وکړي؟ او نور به لا څنګه نه شرميږي؟ اى الله! د خپل دين مرسته خپله وکړه، او ستابندګانو ته توفيق ورکړه.

څوک چې علم د عمل لپاره کوي علم ورپکې اثر کوي او په ځان هم ژاړي، او که علم څوک د مدرسو لپاره، د فتواګانو لپاره، د فخر او وياړ لپاره حاصل کړي، تکبر او حماقت، خلکو ته په سپک نظر کتل په کې پيدا شي، بالاخره يې ځان خوښې برباد کړي، او د خلکو له پامه هم بدي راشي، الله پاک فرمايې: ﴿قَدۡ أَفۡلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ۝٩ وَقَدۡ خَابَ مَن دَسَّىٰهَا﴾ [سورت شمس: ٩-١٠][(٢)].

ژباړه: څوک چې ځان له ګناه نه پاکوي هغه به کامياب وي او څوک چې په ګناه ځان ګنده کوي هغه به خوار او ذليله وي.

❁ ❁ ❁

(١) او په حديث کې راغلي چې په دريو کسانو به د جهنم اور غومبره شي، وګوره: (صحيح مسلم کتاب الامارة، حديث نمبر: ١٩٠٥ (٣/ ١٥١٤).

(٢) سير أعلام النبلاء: (١٨/ ١٩١ - ١٩٢).

# له دنيا څخه د سلفو صالحينو بې رغبتي

عبدالله بن مبارک رحمه الله په خپل [کتاب الزهد] کې فرمايي: ما ته معمر هغه ته هشام بن عروة، هشام ته خپل پلار عروة ويلي و: عمر رضي الله عنه شام ته راغی ټولو ګورنرانو او مشرتابه ورسره ليدل کتل وکړل، هغه وويل: زما ورور ابوعبيده چرته دی؟ ټولو ورته وويل: اوس به راشي، لږ څنډ وروسته په اس باندې چې د واګو پرځای د اس خوله کې پړی پروت و، سپور راغی او سلام يې پرې وکړ، عمر رضي الله عنه خلکو ته وويل: له مونږ څخه جلا شئ، بيا د ابوعبيده رضي الله عنه کور ته ولاړ او ورسره مېلمه شو، په کور کې يې ورله له تورې، ډال، او زين پرته نور څه ونه ليدل، عمر رضي الله عنه ورته وويل: بايد ضرور درسره کور کې څه سامان وي! هغه ورته وويل: اميرالمومنين! شته سامان مو تر شپې رسوي[1].

نعيم بن حماد وايي: ما ته عبدالله بن مبارک هغه ته محمد بن مطرّف، هغه ته ابوحازم، هغه ته عبدالرحمن بن سعيد بن يربوع، هغه ته مالک الدار[2] ويلي و چې عمر رضي الله عنه څلور سوه ديناره خپل غلام ته ورکړل او ورته يې وويل دا به ابو عبيدة بن عامر الجراح رضي الله عنه ته ورکړې او هلته لږ تم شه وګوره چې هغه په دې دينارو باندې څه کوي؟ غلام ولاړ او هغه ته يې دينار ورکړل چې اميرالمؤمنين درته رالېږلي دي، هغه وويل: په اميرالمؤمنين دې الله تعالی رحم او فضل وکړي، بيا يې وويل: ای وينځې! دا پينځه ديناره فلانکي ته يوسه، دا اووه ديناره فلانکې ته يوسه تر دې چې ټول دنانير يې په صدقه ختم کړل، غلام بېرته راغی څه ګوري چې عمر رضي الله عنه دغه مقدار دنانير معاذ بن جبل رضي الله عنه ته تيار کړي دي بيا يې هغه ته واستاوه، معاذ رضي الله عنه هم وويل: په اميرالمؤمنين دې الله تعالی رحم او فضل وکړي، ای وينځې! فلانکې کور ته دومره او فلانکي کور ته دومره دومره دينار يوسه، په دې دوران کې د معاذ رضي الله عنه بي بي سر راښکاره کړ چې مونږ خو هم ناداره يو، مونږ ته ترې هم

(١) سير أعلام النبلاء: (١/١٦).

(٢) مالک الدار د عمر رضي الله عنه غلام و او د عمر او ابوبکر رضي الله عنهما دواړو نه يې روايتونه هم کړيدي، د مزيد معلوماتو لپاره (الطبقات: ٥/٨) وګوره.

څه راکړه، دوه ديناره پاتې و هغه يې دېته وغورځول، غلام بېرته اميرالمومنين ته راغئ او د دواړو قيصه يې ورته وکړه، هغه وويل: دوی سره خپلمنځي وروڼه دي[١].

ابواسماعيل الترمذي وايي: ما ته سليمان بن ايوب بن عيسی بن موسی وويل هغه ته يې پلار له نيکه څخه نقل کړيدي چې طلحه له خپل پلار نه روايت کوي چې له حضرموت نه ورته اووه لکه درهم راوړل شول، ټوله شپه يې په ځان تنګه تېره کړه، ښځې يې ورته وويل: ولې دې طبيعت وران دی؟ هغه ورته وويل: له شپې راهيسې په دې سوچ کې يم چې هغه سړی په خپل رب څه ګومان لري چې دومره ماليت يې په کور کې وي او شپه پرې تېره شي؟ هغې ورته وويل: ستا خو ډېر دوستان دي چې شپه سبا شي په لپو لپو او په کاسو کاسو يې پرې وويشه، هغه ورته وويل: الله درباندې رحم وکړه! په رښتيا چې د ښه سړي لور يې ښه خبره دې وکړه (هېره دې نه وي چې ښځه يې د ابوبکر رضي الله عنه لور ام کلثوم وه) د سهار په مهال يې ټول ماليت په کاسو کاسو د مهاجرينو او انصارو ترمنځ وويشو، علي رضي الله عنه ته يې هم په کې يوه کاسه وليږدوله، خپلې ښځې يې ورته وويل: ابو محمده! زمونږ برخه په کې نه شته؟ هغه ورته وويل: ټوله ورځ چېرته وې؟ چې څه پاتې دي هغه ستا شول، ښځه يې وايي: ما ته يې يوه کڅوړه راکړه چې زر درهمه پکې و[٢].

سفيان ثوري رحمه الله د ابو قيس نه، هغه يې د هُزيل بن شُرحبيل نه، هغه يې د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت کوي چې: که څوک اخرت ودانول غواړي نو دنيا به زيانمنوي، او که دنيا ابادول غواړي نو اخرت به زيانمنوي، ای خلکو! په فاني دنيا باندې اخرت مه خرابوئ[٣].

عبدالرحمن بن يزيد د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت کوي چې: د نبي صلی الله عليه وسلم له ملګرو نه که څه هم تاسو اوږده لمونځونه او ډېر کوښښ کوئ خو هغوی درڅخه ډېر غوره دي، چا ورته وويل: په څه شي غوره دي؟ هغه وويل: ستاسو نه د هغوی د اخرت سره له دنيا نه مينه ډېره وه[٤].

(١) سير أعلام النبلاء: (٤٥٦/١).
(٢) سير أعلام النبلاء: (٣١/١).
(٣) سير أعلام النبلاء: (٤٩٦/١).
(٤) صفة الصفوة: (٤٢٠/١).

اوزاعي رحمه الله له بلال بن سعيد نه روايت کوي چې ابوالدردا رضي الله عنه فرمايي: اى الله! د زړه له تفرقې نه درپورې پناه غواړم.

چا ورته وويل: د زړه تفرقه څه شی دی؟ هغه وويل: چې په هر ځای کې مې ماليت وي[1].

ابوعبيدة بن معن له اعمش نه روايت کوي چې ابوالبختري وايي: اشعث بن قيس او جرير بن عبدالله د سلمان فارسي رضي الله عنه خوا ته راغلل، سلام يې پرې وکړ او ورته يې وويل: د نبي کريم ﷺ ملګری ته يې؟ هغه ورته وويل: ما ته پته نشته، دواړه په شک کې پاتې شول، سلمان رضي الله عنه ورته وويل: د هغه ملګری هغه څوک دی چې جنت ته ورسره يوځای ننوځي، دواړو ورته وويل: مونږ د ابوالدرادا رضي الله عنه لخوا نه راغلو، هغه ورته وويل: د هغه ډالۍ ما ته راکړئ، دواړو ورته وويل: مونږ ته خو يې څه نه دي راکړي، هغه ورته وويل: د الله نه ويريږئ او امانت راته راکړئ، د هغه له اړخه چې هرڅوک ما ته راځي هرومرو راته ډالۍ راليږدوي، دواړو ورته وويل: په مونږ دغه ګمان مه کوه، مونږ د ډېرو شتمنيو څښتنان يو، هغه ورته بيا وويل: نا نا زما هديه او ډالۍ راته راکړئ، دواړ ورته وويل: هغه مونږ ته هيڅ هم نه دي راکړي خو دومره يې وويل: په تاسو کې يو سړی دی چې نبي کريم ﷺ به ورسره کله هم يواځې شو د نور څه تالاش به يې بيا نه کو، چې تاسو دواړه کله هغه ته ورشئ نو زما سلا م به ورته وواييئ، هغه ورته وويل: له دې پرته مې درنه نور څه نه غوښتل، ايا له دې څخه بله ښه ډالۍ شته؟[2].

قتادة رحمه الله وايي: عامر[3] رحمه الله ته چې کله مرګ راغی په ژړا شو، چا ورته وويل: ولې ژاړئ؟ هغه وويل: له مرګ نه د وېرې له کبله نه ژاړم او نه په دنيا راته ژړا راځي، په دې ژاړم چې د اوړي د ګرمۍ روژې او د شپې عبادتونه به مې قبول شوي وي او که نه؟[4].

(١) سير أعلام النبلاء: (٣٤٨/٢).
(٢) سير أعلام النبلاء: (٥٤٩/١).
(٣) اسم کنيه يې ابو عبدالله نوم يې عامر د پلار نوم يې قيس په قبيله تميمي او په وطن بصري و، ډېر لمونځ ګوزار تابعي تېر شوی دی، کعب الأحبار چې کله وليد ويويل: دا د دې امت پير دی. (سير أعلام النبلا: ١٥/٤).
(٤) سير أعلام النبلاء: (١٩/٤).

۞ موسی تیمي له [عبدالرحمن بن ابان بن عثمان بن عفان] په صفت کې وايي: هغه په دين، دنيا، عزت او شرف کې له هر چا پورته و، ويل کيږي چې د مريانو ټوله کورنۍ به يې واخسته، پوښاک به يې ورته ورکړ او ازاد به يې کړل او دا به يې ويل چې دا به راسره د مرګ په سختو جټکو کې مرسته وکړي، هغه په داسې حالت کې مړ شو چې په مسجد کې په خوب ويده و، ويل کيږي چې هميشه لپاره به يې عبادتونه او ذکرونه ويل، علي بن عبدالله بن عباس چې وليد د خير په کارونو کې يې پسې اقتدا شروع کړه [۱].

۞ ابوالعبّاس السّراج وايي: د ابراهيم بن بشّار نه مې واورېدل چې علي بن الفُضَيْل وايي: زما پلار عبدالله بن مبارک ته وويل: ته مونږ ته وايي چې له دنيا څخه بې رغبتي وکړئ او خپله تجارتونه کوې؟ هغه ورته وويل: فضيله! د مخ د اوبو ساتلو او د عزت د خوندي کولو لپاره يې کوم، ترڅو د الله پاک عبادت ورباندې وکړم، زما پلار ورته وويل: چې دنيا او نيک عملونه سره يو ځاي شي څومره خوند کوي [۲].

۞ زياد بن ماهک وايي: شداد بن اوس به ويل: تاسو د خير او شر له اسبابو پرته نور څه نه دي ليدلي، ټول خير په جنت کې دی او ټول شر په جهنم کې دی، د دنيا په خوراک ښه او بد دواړه انسانان بوخت دي، اخرت هغه رښتني وعده ده چې زورور باچا به پکې فيصلې کوي، دنيا او اخرت دواړه بچې لري، د اخرت بچې جوړ شئ او د دنيا بچې مه جوړيږئ [۳].

۞ عبدالله بن اخت مسلم بن سعد وايي: د حج لپاره مې اراده وکړه نو ماما مې راله لس زره درهم راکړل چې دا به په مدينه کې ډېرې ناداري کورنۍ ته ورکړې، مدينې ته په رسېدو مې د نادراې کورنۍ پوښتنه وکړه چا راته وښوده ورغلم دروازه مې ټک ټک کړه، ښځې له دننه عږ وکړ چې څوک يې؟ ما ورته کړه: زه له بغداد نه راغلی يم، چا راته لس زره درهم راکړي دي چې په مدينه کې به يې ډېرې ناداري کورنۍ ته ورکړې تاسو راته چا په نښه کړئ درهم مو واخلئ. هغې راته وويل:

(۱) سير أعلام النبلاء: (۵/۱۰).
(۲) سير أعلام النبلاء: (۸/۳۸۷).
(۳) صفة الصفوة: (۱/۷۰۹).

تا ته ويل شويدي چې ډېرې نادارې کورنۍ ته يې ورکړه، او زمونږ ګاونډيان له مونږ څخه ډېر ناداره دي، هغوی مې پرېښودل او بلې کورنۍ ته راغلم، دروازه مې ټک ټک کړه، ښځې جواب را کړ ټول هغه څه مې ورته وويل چې مخکې مې بلې ښځې ته ويلي و، هغې راته وويل: مونږ او ګاونډيان مو په ناداری کې يو شان يو راته تقسيم يې کړه[1].

ابراهيم بن شبيب وايي: مونږ به د جمعې په هره ورځ خپل منځ کې سره کېناستو، يو سړی راغی او څادر کې يې ځان تاو کړی و، فقهي پوښتنه يې وکړه، مونږ د مجلس تر اخره پورې پر دغې مسئلې خبرې وکړې، د راروانې جمعې په ورځ بيا راغی مونږ ترې وپوښتل چې کور دې چرته دی؟ هغه وويل: په (حربيه) کې، بيا مو ترې وپوښتل چې کنيت دې څه دی؟ هغه وويل: ابو عبدالله، چونکه مجلس يې علمي او فقهي مجلس و زمونږ هم ډېر زيات خوښ شو، که څه هم ډېر وخت راتو خو بيا غيب شو او رانغي، مونږ سره خپل منځ کې يو بل ته وويل: زمونږ مجلس په ابو عبدالله خومره ودان و، او اوس په مجلس کې دومره مزه نشته، خپل منځ کې مو سره اتفاق وکړ چې سبا به (حربيه) ته ځو او ملاقات به ورسره کوو، چونکه مونږ يو کڅ کسان وو (حربي) ته په رسيدو مو له خلکو نه حيا راتله چې پوښتنه مو ورنه کړې وه، څه ماشومان مو وليدل چې له ښونځي نه راروان وو، د ابو عبدالله اړوند مو ترې پوښتنه وکړه، هغوی وويل: ايا ښکارګر ابو عبدالله يادوئ؟ مونږ وويل: هو. هغوی وويل: دا يې د راتګ وخت دی، مونږ لا انتظار کې ناست وو چې راغی او شا يې په ټوټه ترلې وه په اوږه يې ژوندي او حلال شوي دواړه ډول مارغان ايښي وو، د ليدو سر يې راته وخندل چې څنګه راغلي ياست؟ مونږ ورته وويل: ستا پوښتنه کوو زمونږ مجلس دربانديې ډېر اباد و، خير خو و څنګه تر ډېره مهاله ورک وې؟ هغه وويل: اوس به درته رښتيا ووايم: زما يو مسافر ګاونډي و ما به ورڅخه لنګ په امانت واخست او تاسو ته به په کې درتلم، چونکه هغه خپل وطن ته ولاړ او زما نور پوښاک نه و چې تاسو ته پکې درغلی وم، نو ځکه نه شوم درتللای، راځئ ماسره لاړ شئ د الله پاک راکړی رزق به وخورئ؟ مونږ سر يو بل ته وويل: راځئ چې ورسره لاړ شو، هغه کورته ننوت

(۱) صفة الصفوة: (۲/۲۰٦).

لږ وروسته راووت او مونږ ته يې د ننوتلو اجازت وکړ، د ننوتلو سره سم يې پزه کې راوړ او مونږ پرې کېناستو، حلال شوي مارغان يې خپلې ښځې ته ورکړ او ژوندي مارغان يې بازار ته يوړل، مونږ ته يې وويل: زه لږ وروسته راځم، هغه يې خرڅ کړي وو او مونږ له يې ډوډۍ اخستې وه د هغه د راتګ سره ښځې يې هم مارغان وريت کړي وو، ډوډۍ او مارغان يې زمونږ مخې ته کېښودل لاړ او مالګه يې راوړه، د تلو سره مونږ يو بل ته وويل چې د سړي حالت خو تاسو پخپله وليد حالانکه مونږ د بصرې مشران يو دومره مرسته بايد ورسره وکړو چې د ژوند حالت يې پرې کم ازکم ښه شي، چا پينځه سوه چا اته سوه درهمه او چا... درهمه ومنل ځينو يې دا هم ومنله چې له نورو څخه به هم ورته څه راغونډ کړي خو مجموعه نزدي پينځه زره درهمو ته خبره ورسېده، بيا مو وويل: پاځيږئ او ولاړشئ هر څوک خپله برخه سړي ته ورکړئ چې د ژوند حالت پرې بدل کړي.

پر خپلو سورليو باندې سپور په لاره روان وو چې د بصرې ګورنر محمد بن سليمان د مربد بازار په لوړه څوکه ناست و، خپل غلام يې راواستو چې ابراهيم بن شبيب ته ووايه: راشه، زه ورغلم پوښتنه يې وکړه چې چرته تللي وئ او له کومه راغلئ، ما ورته رښتيا رښتيا وويل، هغه راته وويل: لومړی زه د دغې سړي سره مرسته کوم، د درهمونو کڅوړه يې راوړه او يو يې د خدمت لپاره غلام راوغوښت او ورته يې وويل چې دې سړي سره لاړشه او د درهمو دغه کڅوړه به هغه چاته ورکړئ چې زه يې درته پرې امر کوم.

زه ډېره خوشحاله شوم او په توندۍ پورته شوم او د ابو عبدالله په لور روان شوم چې په دروازه ودريدم سلام مې وکړ ابو عبدالله راغی د غلام په څټ چې يې د درهمو کڅوړه وليده لکه ما چې ورله په سترګو کې خاورې اچولې وي، داسې يې راته کتل لکه مونږ چې سره يو بل هېڅ نه پېژنو، او راته يې وويل: دا دې څه وکړل؟ ته زما لپاره فتنې غواړې، ما ورته وويل ابو عبدالله! لږ زما خبره واوره! تا ته خو د محمد بن سليمان ګورنر پته ده چې ظالم دی هغه راته ستا لپاره راکړې، که هغه راته ويلی وی چې که په هر ځای کې دې نفقه کړل سمه ده نو ما به بل چا ته ورکړې وی، لږ پر ځان رحم وکړه الله دې خير درکړي، نور هم راته په غصه او قهر شو، پاڅېد او دروازه يې راباندې په درز راپورې کړه زه هک پک حيران

دریان پاتې شوم چې ګورنر ته به څه ځواب وایم، بېرته ګورنر ته راغلم چونکه د خلاصون بله لاره نه وه رښتیا مې ورته وویل، ګورنر وویل: قسم په رب لایزال چې دا خو حروري دی، غلام ته یې امر وکړ چې زر کوه توره راوړه او د دې غلام سره لاړ شه چې کور دروښايي سړی مړ کړه او سر یې ما ته راوړه.

ابراهیم وايي: ما ګورنر ته ډېره زاري وکړه چې مرګ پسې یې ځوک مه لیږدوه او قسم په الله چې هغه حروري نه دی، زه به لاړشم او زه به یې درته راولم، ګورنر رانه ضمانت هم واخست خو چې کورته یې راغلم او پر دروازه یې ودرېدم سلام مې وکړه ښځه یې ناسته او ژاړي، ما دروازه بېرته کړه ښځه یو اړخ ته شوه او ما ته یې اجازه وکړه، زه چې څنګه ننوتم هغې راته وویل: په سړي مو څه وکړل؟ ما ورته وویل: ولې؟ هغې وویل: راننوت او به یې راواخستې اودس یې وکړ او ترې وامې اوریدل چې: ای الله! ما ځان ته درواخله او په فتنه کې مې مه اخته کوه، دغه کلمات یې تکرارول چې زه یې ترڅنګ راغلم نو ساه یې ورکړې وه.

ما ورته وویل: مونږ او دا سره ډېره لویه قیصه لرو نور څه پټکې مه ننباسئ، زه محمد بن سلیمان ته راغلم او په قیصه مې خبر کړ، ګورنر وویل: په دې باندې د جنازې لمونځ زه کوم، په بصره کې خبره خپره شوه د بصرې ټول خلک یې جنازې ته ولاړل -الله دې پرې رحم وکړي-[١].

(١) صفة الصفوة: (٩/٤ – ١٢).



# له مشرتابۍ نه د سلف صالحينو کرکه او نفرت

سفيان وايي چې احنف به ويل: مونږ ته عمر بن الخطاب رضي الله عنه وويل: له مشرۍ غوښتو نه مخکې علم او فقاهت حاصل کړئ.

سفيان وايي: ځکه انسان چې کله علم حاصل کړي مشري نه غواړي(۱).

موسي بن عقبة پخپل کتاب (المغازي) کې وايي: د شام په پولو ذات السلاسل غزا د عمرو بن العاص رضي الله عنه په مشرۍ کې وشوه، د شام له پلوه يې د نظامي بريد ويره محسوسه کړه له رسول الله ﷺ نه يې د مزيدو مجاهدينو غوښتنه وکړه، د مهاجرينو په پيادلو کې ابوبکر او عمر رحمه الله هم روان شو، د مجاهدينو په ګروپ باندي نبي ﷺ ابوعبيده رضي الله عنه امير وګمارو، عمرو بن العاص رضي الله عنه ته په رسيدګۍ يې ورته سمدستي وويل: پام کوئ ګوره زه ستاسو امير يم، مهاجرينو ورته وويل: ته په خپلو ملګرو امير يې زمونږ امير ابوعبيده رضي الله عنه دی، عمرو بن العاص رضي الله عنه ورته وويل: زه امير يم او تاسو ما ته مدد او مرسته راليږدول شوي ياست، چونکه ابوعبيده رضي الله عنه د نېکو اخلاقو څښتن، نرم مزاجه، او د نبي ﷺ د خبرو پيروکار انسان و د خبرې د اورېدو سره سم يې ورته امارت وسپاره (۲).

امام ذهبي وايي: ما ته اسمعيل بن عبدالرحمن له عبدالله بن احمد نه هغه له احمد بن محمد نه، هغه له محمد بن عبدالباقي نه، هغه له ابوالفضل بن خَيرون نه، هغه له احمد بن محمد بن غالب نه چې په علي بن العباس يې دغه روايت لوستلی دی چې تاسو ته محمد بن ايوب د ابو الوليد نه هغه د شعبة نه، هغه له ابواسحاق نه روايت کړي دي چې صلَةَ بن زُفَر د حذيفة رضي الله عنه نه اورېدلي دي چې رسول الله ﷺ فرمايي: زه به تاسو ته ډېر امانتګر سړی درواستوم، د نبي ﷺ ملګرو يې انتظار وويست چې دا به څوک وي؟ نو ابو عبيده بن الجراح رضي الله عنه يې ورته وليږدو (۳).

---

(۱) صفة الصفوة: (۲/۲۳٦).

(۲) سير أعلام النبلاء: (۸/۱ – ۹) د ذات السلاسل د غزا ښه تفصيل په تاريخ الطبري: (۳/۳۲)، الكامل فى التاريخ: (۲/۱٥٦) کې، او په الاصابة: (٥/۲۸٦) کې وګوره.

(۳) سير أعلام النبلاء: (۸/۱ – ۹). او حديث په صحيح بخاري فضائل الصحابة باب مناقب =

۞ ابوبکرعبدالکبير الحنفي وايي: مونږ ته بُکير بن مسمار، هغه ته عامر بن سعد ويلي و چې زما پلار سعد خپله رمه څروله، خپل ځوی عمر ورته په اس سپور راوان و، د ليدو سره سم يې وويل: د راروان سړي له شر څخه الله پورې پناه غواړم، د رارسيدو سره سم يې ورته وويل: تا ته دا دوسته ده چې خپله رمه لکه د بانډه چې په څېر څروئ او په مدينه کې خلک سره په واک او اختيار باندې په جنګ اخته دي؟ هغه د عمر سينه ووهله او ورته يې وويل: چپ شه ما د نبي ﷺ نه اوريدلي دي: ډېر تقوادار، شتمن او پټ خيرات کونکی د الله پاک ډېر خوښ شي[١].

۞ ابن سعد د عبدالعزيز اويسي نه، هغه له عبدالله بن جعفر نه، هغه له ام بکر نه، هغه له خپل پلار مسوَر نه روايت کوي چې عبدالرحمن بن عوف چې کله د شورى غړی وګمارل شو، ما ته دا دوسته وه چې عبدالرحمن د واک په ګدۍ کيني، که هغه نه وي بايد سعد بن ابي وقاص مشرتابه جوړ شي، عمرو بن العاص راپسې راغی او راته يې وويل: ستا ماما عبدالرحمن بن عوف په الله څه ګومان لري چې د دې په شتون کې بل څوک واک ته ورسيږي او دا په دې پوهه وي چې زه ترې افضل او ښه يم؟ زه راغلم او عبدالرحمن ته مې دغه خبره وکړه، هغه راته وويل: زما دې په الله قسم وي چې که چاړه مې په مرۍ تر هغه راښکل شي چې څټ ته ورسيږي دا به راله له دېنه ښه وي چې په مشر وبلل شم[٢].

۞ ابن وهب وايي: ما ته ابن لهيعة، هغه ته يحيي بن سعيد، هغه ته ابوعبيد، هغه يې له خپل پلار عبدالله او هغه يې له خپل پلار عبدالرحمن بن ازهر نه روايت کوي چې عثمان بن عفان ﷺ له پوزې وينه راماته شوه، حُمران ته يې غږ کړ چې له ما څخه وروسته د خلافت عُهده د عبدالرحمن بن عوف ﷺ په نوم وليکه،

= أبي عبيدة بن الجراح حديث نمبر: (٣٧٤٥). فتح الباري: (١١٦/٧). صحيح مسلم: (٢٤٢٠) باب فضل أبي عبيدة، دلته د حديث د نقلولو موخه دا وه چې صحابه کرامو ﷺ يواځې د نبي ﷺ د ګواهۍ په خاطر د امارت تمنى کړېده چې ډېر امين انسان به وليږدوي.

(١) سير أعلام النبلاء: (١٠٢/١). او حديث په صحيح مسلم: (٢٩٦٥) کتاب الزهد کې او امام احمد ﷺ پخپل مسند: (١٦٨/١) کې روايت کړی دی.

(٢) سير أعلام النبلاء: (٨٧/١ – ٨٨) طبقات ابن سعد: (٩٤/١/٣ – ٩٥) دأم بكر بنت المسور نه بغير د سند نور راويان ثقه دي د بنت المسور معلومات نشته چې څوک ده؟

حُمران عهد لاسليک کړ او عبدالرحمن بن عوف ﷺ ته د مبارکۍ لپاره ولاړ او ورته يې وويل: مبارک شه!

عبدالرحمن: ولې؟

حُمْران: عثمان ﷺ ستا لپاره د خلافت عهدنامه لاسليک کړه.

عبدالرحمن: اى الله! که عثمان ﷺ په رښتيا د خلافت لپاره زما اختيار کړى وي له هغه نه مې مخکې وفات کړه، هغه و چې شپږ مياشتې وروسته وفات شو[١].

❁ جُوَيْرِيَة بن اسماء له مالك نه، هغه له زهري نه، هغه له سعيد نه روايت کوي چې سعد بن ابي وقاص ﷺ عبدالرحمن بن عوف ﷺ ته استازى واستو چې له خلکو نه بيعت واخله، هغه ورته وويل: مور دربندې وژاړه چې له عمر ﷺ نه وروسته هر څوک تړالواکي غواړي خلک به ورپسې خبرې کوي[٢].

❁ امام ذهبي وايي: د عبدالرحمن بن عوف ﷺ غوره ترين کار دا و چې د شورى په وخت کې يې ځان له خلافت څخه ګوښه کړ، او د امت د سربراهۍ لپاره يې هغه څوک وړ وبولو چې اهل الحل و العقد يې مشري تاييد کړي، په عثمان ﷺ يې د امت په راټولولو کې لوي کردار ادا کړ، که عبدالرحمن بن عوف ﷺ په رښتيا د ټولواکۍ مينه لرله نو د ځان لپاره به يې غوره کړېوه، او يا به يې د خپل تره ځوي او ورته نژدې ترين د شورا غړى سعد بن ابي وقاص ﷺ ته ورکړېوه[٣].

❁ احمد بن عبدالرحمن بن وهب وايي: ما ته مې تره، هغه ته عبدالله بن عياش، هغه ته خپل پلار ويلي و چې يزيد بن مهلب چې کله د خراسان ګورنر وګمارل شو وېويل: ما ته داسې سړى وښايئ چې د خېر ټول خويونه پکې وي، نو ابو بردة اشعري ورته په ګوته کړى شو، چې ابوبرده راغى د ليدو سره سم يې وازمول چې سړى کمالي دى، په خبرو اترو کې يې معلوم کړ چې باطن يې له ظاهر نه ډېر غوره دى، بيا يې ورته وويل: تا ته ما خپل فلانکى او فلانکى کار در وسپارت، ورته يې وويل: وبښه زه دغه کارونه نه شم کولى، که څه هم دى انکار وکړ خو يزيد

(١) سير أعلام النبلاء: (٨٨/١).
(٢) سير أعلام النبلاء: (٨٨/١) د سند ټول راويان ثقه دي. او له سعيد نه مراد سعيد بن المسيب دى.
(٣) سير أعلام النبلاء: (٨٦/١).

بن مهلّب يې انکار ونه منو، بيا يې ورته وويل: زه به درته د خپل پلار په روايت له نبي ﷺ نه يو حديث بيان کړم چې هغه ورځخه اوريدلي دي: **[مَنْ تَوَلَّى عَمَلًا وَهُوَ يَعْلَمُ انَّهُ لَيْسَ لِذَلِكَ الْعَمَلِ بِاهْلٍ فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ]**(١).

ژباړه: چا چې د داسې کار واګې په لاس کې واخستې چې ځان يې د دغې کار مستحق نه ليد نو په اور کې يې د ځان لپاره ځای تيار کړ.

ګورنر صاحب! زه په دې ګواهي کوم چې د دغې اهل نه يم.

ګورنر ورته وويل: داسې دې هېڅکله هم نه پرېږدم، تاخو نور پسې هم ځان راته وښود او ودې هڅولم چې هرومرو به دغه کار ته کوې، زه دې نه معاف کوم، بيا پاڅېد او ووت څه موده يې کار وکړ، بيا راغی او يزيد بن مهلّب ته يې وويل: ما مې د پلار نه يو حديث اورېدلی دی چې رسول الله ﷺ فرمايي: **[مَلْعُونٌ مَنْ سَالَ بِوَجْهِ اللهِ، وَمَلْعُونٌ مَنْ سُئِلَ بِوَجْهِ اللهِ ثُمَّ مَنَعَ سَائِلَهُ مَا لَمْ يَسْالْهُ هُجْرًا]**(٢).

ژباړه: د الله په نوم چې څوک څه وغواړي او د الله په نوم چې له چا نه څه وغوښتل شي خو چې ګناه نه يې او سائل ته څه ورنه کړی شي هغه سړی ملعون دی.

او زه د الله په نوم ستا نه استعفا غواړم، هغه و چې معاف يې کړ(٣).

يوسف بن اسباط وايي: ما له سفيان ثوري نه واورېدل چې: له مشرۍ او رئاست نه په ځان ساتلو کې ما په بل څه کې پرهيزګاري نه ده ليدلې، ځينې په خوراک او څښاک او پوښاک کې زهد او پرهيزګاري کوي خو چې د رياست وخت راشي جنګ ورباندې کوي(٤).

(١) مسند الروياني: (٤٩٥). د سير أعلام النبلاء محقق وايي: د عبدالله بن عيّاش پرته نور د سند راويان ثقات دي، ابو حاتم وايي: عبدالله بن عياش قوي نه دی خو رښتنی دی حديثونه يې ليکل کېدای شي دا او ابن لهيعه يو شان دي، خو ابوداود او نسائي دواړو ضعيفه کړی دی، مسلم ورله صرف په شواهدو کې روايتونه کړيدي، د روياني په روايت ابن عساکر هم ټول حديث پخپل تاريخ (٣٨٧) کې راوړيدي.

(٢) المعجم الكبير للطبراني: (٤٥٩) د أبوموسى أشعري رضي الله عنه په روايت، حافظ عراقي ورته حسن ويلي دي، هيثمي وايي: دغه حديث طبراني د خپل استاذ يحيى بن عثمان بن صالح نه روايت کړی دی او هغه ثقه دی خو لږ کمزوری دی، نور ټول راويان يې د بخاري راويان دي، دا حديث چې د امام روياني روايت کړي حديث سره يو ځای شي قوت افاده کوي.

(٣) سير أعلام النبلاء: (٣٤٥/٤).

(٤) سير أعلام النبلاء: ٢٦٢/٧).

## په ديني زده کړو کې د سلفو صالحينو مينه او رغبت

ابن عيينة وايي: يوه ورځ عمرو بن العاص وويل: ځيرک هغه نه دی چې له شر څخه خير وپېژني، ځيرک هغه دی چې په دوو شرونو کې اسانترين شر وپيژني(۱).

نُعيم وايي: ما ته احمد بن جعفر بن سَلم له احمد بن ابار نه، هغه له مَنصور بن ابي مُزاحم نه، هغه له عنبسة الخثعمي نه روايت کو چې ما له جفعر بن محمد نه اورېدلي دي: په دين کې جګړې او دليل بازي مه کوئ، له دې څخه منافقت او په زړه کې حسد راولاړيږي(۲).

حافظ ابن عبدالبر په [التمهيد] کې وايي: دغه مې له خپل ياده وليکل او اصل يې را څخه ورک شوی دی چې عبدالله العمري امام مالک ته ليک واستو او په نېکو عملونو او ګوشه شينۍ هڅولی و، امام مالک ورته ځواب واستو چې: د بندګانو ترمنځ الله پاک عملونه داسې تقسيم کړيدي لکه رزقونه چې يې تقسيم کړيدي، چا ته الله پاک د لمونځ دروازه بېرته کړې وي په روژه کې ډېر برخوال نه وي، څوک په صدقاتو کې ډېره برخه لري خو په روژه کې برخوال نه وي، چا ته يې د جهاد دروازه کولاو کړې وي، او د علم نشر اشاعت په ټولو نيک عملونو کې ستر او غوره عمل دی، کوم عمل چې په تقسيم کې الله پاک ما ته راکړی دی زه پرې خوشحاله يم، شايد زما او ستا عملونه هم سره بېل بېل وي، او امېد لرم چې دواړه په خير او سعادت روان يو(۳).

ابن عبدالبر په خپل کتاب [العلم] کې ذکر کوي چې ابن وهب وايي: عبادت مې د علم له زده کړې وړاندې ښه ېېشه وه، شېطان راته وسوسه واچوله چې: الله پاک به عيسى بن مريم عليه السلام څنګه پيدا کړی وي؟ او دېته ورته نور سوچونه....

(۱) سير أعلام النبلاء: ۷٤/۳).
(۲) سير أعلام النبلاء: ۲٦٤/٦).
(۳) سير أعلام النبلاء: (۱۱٥/۸).

له دغې وسوسو مې يو عالم ته ګيله وکړه، هغه راته وويل: ابن وهبه! ما وويل: جناب! هغه وويل: علم زده کړه، نو دغه وسوسه مې د علم د زده کړې سبب شوه[1].

علي بن محمد بن ابان القاضي وايي: ما ته زکريا الساجي له مُزني څخه روايت وکړ چې ويل يې: زما په زړه او تصور کې چې د توحيد اړوند څومره پوښتنې راتلې ومې ويل چې له شافعي پرته ورته نور هېڅوک ځواب نه شي ويلای نو د شافعي په لور رهی شوم، هغه د مصر په مسجد کې و، چې مخې ته يې په دواړو زنګونو کېناستم او ورته مي کړه: په زړه کې مې يوه مسله ده چونکه زما په نېز ستا نه بل څوک ستر عالم نشته تا ته عارض شوم چې ته په کې څه وايې؟ هغه ډېر زيات غصه شو او راته يې وويل: په دې پوهېږې چې چرته يې؟

زه: هو.

شافعي: دا هغه خبرې دي چې الله پاک ورباندې فرعون تباه او نيست نابود کړ، ايا نبي کريم ﷺ دغه ډول پوښتنو باندې امر کړی دی؟

زه: نا.

شافعي: دا موضوع چرته صحابه کرامو رضي الله عنهم څېړلې ده؟

زه: نا.

شافعي: په اسمان کې څومره ستوري دي؟

زه: معلومات نه لرم.

شافعي: په اسمان کې څومره سيارې دي؟ هره يوه يې څومره غښتوالی لري؟ څنګه راخيژي او څنګه ډوبيږي؟ له څه شي الله پيدا کړي دي؟

زه: معلومات نه لرم.

شافعي: داسې مخلوق چې ته يې پخپلو سترګو وينې اړوند يې هېڅ معلومات نه لرې او د خالق په علم کې يې خبرې کوې؟

(١) سير أعلام النبلاء: (٩/٢٢٤).

بیا یې راځخه د اودس متعلق پوښتنه وکړه مایې ځواب ناسم ورکړ، خو هغه ترې بېرته څلور داسې فرعي مسایل راوویستل چې زه یې په ټولو فروعو کې خطا شوم، نو هغه راته وویل: داسې یو شي چې ته یې په ورځ کې پینځه ځله کوې علم یې درته نشته او په تکلیف او زحمت د الله علم متعلق خبرې کوې؟ چې داسې خبرې دې کله زړه ته راشي په توندۍ الله پاک پورې پناه وغواړه او دې ایت ته رجوع وکړه چې ﴿وَإِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلرَّحۡمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ١٦٣ إِنَّ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ﴾ [سورت بقره: ١٦٣-١٦٤].

ژباړه: ستاسو برحق معبود یو دی، له هغه پرته بل هېڅ حق معبود نشته او هغه ډېر رحم کونکی او مهربانه ذات دی د اسمانونو او ځمکو په پېدائښت او د شپې او ورځې په ردوبدل کېدو کې او.. د عقلمند قوم لپاره عبرت دی.

د خالق پېژندنه په مخلوق سره وشوه، د عقل نه په پورته علم ځان مه تکلیفوه. د دې خبرو په اورېدو سره ما توبه وویسته[1].

ابوالحسن عبدالملک الميموني وايي: یو سړي احمد بن حنبل ته وویل: زه خَلف بزار ته ورغلم او نصیحت مې ورته کو، له هغه څخه راته رسیدلي و چې له احوص او هغه یې د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روایت کوي چې [الله پاک دکرسي نه لوي نور څه نه دي پیدا کړي] او ټول حدیث یې ورته واورو، احمد بن حنبل ورته وویل: په دې ورځو کې -د محنت زمانه ترې مراده ده- د داسې حدیثونو تعلیم مناسب نه دی، او متن داسې دي [**مَا خَلَقَ اللَّهُ مِنْ سَمَاءٍ وَلَا ارْضٍ اعْظَمَ مِنْ آيَةِ الكُرْسِيِّ**][2].

ژباړه: له ایت الکرسي نه نور هېڅ الله پاک لوی مخلوق نه دی پیدا کړی.

او احمد بن حنبل رحمه الله د محنت په ورځ هم وویل: دلته تخلیق په اسمان او ځمکې او په مابینهما باندې واقع دی، په قرانکریم باندې نه شي واقع کېدای.

ذهبي وايي: د محدث د شان سره دغسې ښائیږي چې د فتنو په دور کې هغه

(١) سير أعلام النبلاء: (٣١/١٠).
(٢) حدیث امام سیوطي په (الدرر المنثور: ٣٣٢/١) کې دې کلماتو ته په نږدې کلماتو روایت کړې دی او نسبت یې ورله أبوعبید، ابن الضریس، او محمد بن نصر ته کړې دی چې دا د عبدالله بن مسعود قول دی.

حديثونه چې له ظاهره ورڅخه د نبوي سنتو دښمنان لکه جهميه او... نفس پرست ګټه اخلي مخه ونيسي، او يا هغه حديثونه چې داسې صفتونو ته شمول لري چې ثابت نه وي، که څوک حديث داسې خلکو ته بيان کړي چې هغوی يې په خپل عقل ادراک نه شي کولای مګر ضرور به پکې ځينې په فتنه اخته کيږي[١]علم مه پټوه او مه يې هغه خلکو ته بيانوه چې په غور يې نه اوري او يا ترې ناوړه ګټه واخلي چې په زيان يې تماميږي[٢].

مرّوذي وايي: ما ابراهيم حُصري د ابو عبدالله خواته بووت، چونکه ابو عبدالله ډېر ښه او نېک سړی و، ابراهيم ورته د خپلې مور ليدلی خوب واورو چې ستا لپاره يې جنت ليدلی دی، هغه ورته وويل: سهل بن سلامة ته به هم خلکو دغسې خبرې کولې بالآخره د خلکو ويني تويولو ته راووت، مومن انسان په ښه خوب خوشحاليږي خو غره کيږي پرې نه [٣].

عبدالوهّاب بن عزيز تميمي حنبلي وايي: مونږ ته ابوالحسين عَتَكِيْ وويل چې د ابراهيم الحربي نه مې واوريدل چې له ځان سره ناستو خلکو ته يې ويل: تاسو دې وخت کې غريب چا ته وايئ؟ يو سړي ورته وويل: غريب هغه څوک دی چې له کور کلي نه لرې وي، بل وويل: غريب هغه څوک دی چې له ملګرو څخه جدا شوی وي، ابراهيم ورته وويل: د دې وخت غريب نېک او صالح انسان دی چې د نېکو خلکو په ملګرتيا کې ژوند کوي، که په نېکۍ خلکو ته امر کوي خلک يې تاييد کوي، که له بدو نه منعه کوي خلک يې مرسته کوي، که کوم دنياوي سبب ته اړتيا ولري خلک ورله اړتياوي ختموي، خو چې مړ شي له هر چانه هېر شي[٤].

د معتضد بالله په ترجمه کې امام ذهبي ذکر کوي چې اسمعيل القاضي وايي: يوه ورځ يې خوا ته ورغلم ما ته يې کتاب راکړ چې ومې کتو چا ورله د علماوو هغه رخصتونه راغونډ کړي وو چې هغوی پکې خپله اجتهاداً خطا شوي وو، ما ورته وويل: د دې مسئلو ليکوال زنديق دی. هغه راته وويل: ولې دغه حديثونه

(١) دعبدالله بن مسعود د قول اقتباس مسلم د خپل صحيح په مقدمه (١١/١) کې نقل کړی.
(٢) سير أعلام النبلاء: (٥٧٨/١٠).
(٣) سير أعلام النبلاء: (٢٢٧/١١).
(٤) سير أعلام النبلاء: ٣٦٢/١٣).

صحيح نه دي؟ ما ورته وويل: ولې نه، خو نشه يې توکې چې څوک مباح بولي متعه مباح نه بولي، او چې متعه مباح بولي ګاني بجانې (سندرې) مباح نه بولي، سره له دې چې هر عالم خطا لري، خو د علماؤ په خطاګانو چې څوک عمل درامد کوي له دين څخه به خلاص شي، معتضد ﷺ كتاب په سوزولو قرار صادر كړ[١].

ابن بطة وايي: ما له بربهاري نه واورېدل چې يو بل ته د نصيحت كولو لپاره ناسته د خير او فائدې دروازه بېرته كوي، او د مناظرې كولو لپاره ناستې پاستې د فائدې دروازه بنده وي[٢].

ابن الاعرابي د ابوالحسين النُّوري په ترجمه كې وايي: ابوالحسين د جنازې په كټ كې مړ پروت و، او خلكو يې ترڅنګ په داسې مسله بوخت وو چې سكوت او خاموشي ترې ډېره اولى وه، مشغولتيا يې تهوله بد ګماني او كهانت و، چې هغوى داسې و نو چې وروسته ترې څوک راغلي وي هغه به لا څنګه وي؟

بيا وايي: د [جَمْعُ] دكلمې صورت كې سره د تهولو نظرونه يو له بل نه مختلف وو، د [فَنَاء] په صورت كې هم سره مختلف وو، په اسمونو كې سره به مَتَّفِق وو خو په معنوي لحاظ سره به يې يو له بل څخه اختلاف كوو، او دا ځكه چې د غير محصور اسم لاندې - چونكه معرفه وي - نو ډېر څه راځي.

بيا وايي: د معرفې علم چونكه محصور نه دى نو تر لاندې يې بې نهايته ډېر څه راتلاى شي... دا خبره چا رښتيا كړيده چې كه داسې څوک دې وليد چې د [جَمْع او فَنَا] اړوند يې پوښتنې كولې پوهه شه چې وزګار دى، او د دغه علم اهل هم نه دى، ځكه په دغه علم پوهان پوهيږي چې په اوصافو يې ادراک نه شي كېداى. ذهبي وايي: لوړه په رب لايزال چې دغسې خلک سترو علمي رازونو ته ډېر ژور ورننوتي دي او په دعوه ورسره له اټكل او شبهې پرته نور هېڅ دليل نشته، د فناء او محو، صحو او سكر له تشو ستونزو او وسوسو پرته نور هېڅ هم نه جوته كيږي، دغو اړوند حالتونو باندې تر اوسه هېڅ صحابي يا ديني عالم، يا كوم تابعي نه دي غږيدلى، خو كه پر دغو دعواګانو ترې دليل وغواړې كينه او حسد درسره كوي

(١) سير أعلام النبلاء: ١٣/٤٦٥).
(٢) سير أعلام النبلاء: ١٥/٩١).

او وايي چې له خيره بې برخې دی، که خپل واک او اختيار دې وروسپارت په خپلو ايمانياتو به دې شکې کړي، ناشوني او حيرانتيا حالتونو کې به ښکيل شې، عابد انسان به دې له سترګو بدې راځي، قاري صاحبان او د نبوي حديثونو علماوو ته به پس پاتې خلک وايي، لاحول ولاقوة الا بالله دا خبره به دې ذهن ته راځي چې دا بې چاره ګان له علم او دين نه محرومه (بې برخې) دي.

تصوف[١] او عبادت، نېکه رويه، مينه او محبت، د الله پاک څخه دوامداره وېره، د هغه په لار کې جهاد کول، د شرعي ادابو له مخې قرانکريم په سوچ او غور سره لوستل، په خشوع او خشيت سره د لمونځ اداء کول، کله روژه او کله بوزه کېدل، هر چا سره نېکه رويه کول، بل په ځان غوره ګڼل او عوامو ته اسلام ښودل، مسلمان سره نرمي کول او کافرانو سره سختي کول، د الله پاک خوشحالول په داسې انداز چې د محمد الرسول الله ﷺ له ملګرو څخه يې ثبوت راغلی وي، خو بيا هم الله پاک ځينو خلکو ته د خپلې مهربانۍ له مخې نېغې لارې ته هدايت کوي.

سمه ده چې که عَالِم عبادتونه نه کول له علم څخه وزګار دی، لکه عَابِد انسان چې د سنت طريقې پرته عبادتونه کوي څرګنده ده چې له سمې لارې څخه په بله دي[٢].

د عباسي خليفه [مستنجد بالله] په ترجمه کې امام ذهبي تعليقا وايي: کله چې مشرتابه (ټولواک) به د پوخ عقل، پياوړي ديانت خښتن وي ټول قلمرو به يې په قابو کې وي، که د عقل مزی يې نری خو د ديانت له نګاه نه مضبوط وي، د دولت د چارو په ښه سمبالښت کې يې خپل ديانت دې ته اړکولی شي چې د اهل علمو سره مشوره وکړي، نو دنياوي چارې به يې سمې او حالات به هم په خپل نارمل انداز کې وي، که د عقل له مخې ښه خو ديانتداري يې کمه وي نو خلک او ځمکه ترې په يو ځېر اړا کړا وي، کله ناکله د رعيّت او ملک د ترقۍ لپاره ډېر ښه ګام هم پورته کړي خو د الله پاک رضا په کې نه وي، خو که له ديني نګاه نه ناقص او

(١) د (تصوف) نه د امام ذهبي موخه له دنيا څخه بې رغبتي او ډېر عبادت کول دي، ورنه د (تصوف) کلمې له يوې خواه په غوره پيړيو کې شتون نه درلود او له بلې خواه د هغه ډلو ټپلو نوم دی چې د بدعت له لارې د سنت او نبوي طريقې څخه کږې شوي دي.

(٢) سير أعلام النبلاء: (١٥/٤١٠).

د عقل له نګا نه پوره وي، وراني ويجاړې به يې د واک په دور کې زياتې شي، ګرد رعيّت به هم ورڅخه ضايع شي، که شجاعت او بهادري ولري لږ زره نقصانونه به يې جبيره شي خو که هغه هم نه وي نو په خلکو بوج شي، او که بوزديله هم وي دينداري يې هم کمه وي، له عقل نه خام وي نو که قتل نه ګړای شي د ټولواکۍ څخه خو ګوښه او يا هم بندي کول يې لرې نه بريښي، دنيا ورڅخه ولاړه شي، ګناهونه ورڅخه ګېرچاپېره شي، د پښيمانتيا په درياب لاهو شي خو پښامنتيا ورته کله خېر او فائده رسولای شي، د هرې نګاه نه مونږ نن ورځ د خېرخواه امام نه بې برخې يو، که الله پاک د خپل رحم له مخې داسې امام راته راکړي چې محاسن يې ډېر او بدياني يې کمې وي لرې نه ده، اې الله! باچا او ګدا دواړه سره اصلاح کړه، پخپلو بندګانو رحم وکړه او د خېر توفيق ورته ورکړه، باچا يې په خېر دائم او په خپل توفيق يې مرسته وکړه(۱).

۞ د وکيع بن الجراح د ابتلاء اړوند امام ذهبي وايي: د وکيع خبره که څه هم وړه وه او د خېر لپاره يې کړېوه خو بې احتياطي يې کړېوه، خاموشي ترې ورله بهتره وه، نبي ﷺ فرمايي: [كَفَى بِالمَرْءِ اِثْمًا انْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ] (۲).

د انسان لپاره همدومره ګناه بس ده چې څه واوري له تحقيق پرته يې خپروي.

د الله پاک څخه بايد انسان وويرېږي او له خپلې ګناه ډار محسوس کړي.

په خپل سند يې بيا د هغه ابتلاء ذکر کړې ده چې ما ته عليّ بن الخشرم، هغه ته وکيع، هغه ته اسمعيل بن ابي خالد، هغه له عبدالله البهيّ نه روايت کو چې د نبي ﷺ له مړينې وروسته ورته ابوبکر رضي الله عنه راغی او ورته يې وويل: [زما پلار او مور درنه قربان شه په ژوندينه او مړينه يوڅېر خوشبودار يې].

بيا بهيّ وايي: چونکه يوه ورځ او شپه پرېښودل شو نو خېټه يې وپړسېده، او د لاس کچې ګوتې يې کږې شوې، د وکيع د دې خبرو سره سمدستي قريش پرې راغونډ شول او دېته ته تيار شول چې په دار يې وځړوي، سفيان بن عيينة چې د دار لرګی وليد ورته يې وويل: د الله نه وډار شئ! دا خو د عراق لوی فقيه او د

(۱) سير أعلام النبلاء: ۲۰/۵۱۸).
(۲) سنن أبي داود: (۴۹۹۲). صحيح أبي داود: (۴۱۷۷). مقدمة مسلم: (۵).

لوی فقیه څوی دی، او دغه حدیث معروف او مشهور حدیث دی، سفیان وايي: که ما څه هم دغه حدیث بیخي اورېدلی نه و خو د وکیع د خلاصون لپاره مې دغه خبره وکړه.

عليّ بن الخشرم وايي: د قریشو له پرېکړې وروسته د دغې حدیث په بیانولو زه د وکیع بن الجراح زره ورتیا ته حېران لا ړم، داسې هم وخبرېدم چې وکیع په دغه حدیث دلیل نیسي چې د عمر ﷺ په شمول نور ځینو صحابه کرامو وویل چې: نبي ﷺ نه دی مړ شوی، نو الله پاک یې ورته د مړینې دغه نښه وښوده[1].

دېته د عَالِم خطا ویل کیږي، وکیع ولې په منقطع سند دغسې منکر حدیث نقلوي؟ دې روایت ورله نږدې ژوند د خطر سره مخ کړی و، سره له دې چې خلک په خپل کار کې معذور او ماجور وو که یې په دار ځړولی وای، هغوی د نبوت د لوړ منصب سره د مینې له کبله د دغې مردود خبر د مخنیوی لپاره دغسې اقدام وکړ[2].

❁ زکریا السَّاجي وايي: محمد بن عبدالله بن عبدالحکیم نه مې واورېدل چې امام شافعي راته وویل: محمده! که په منطق او فلسفه کې درنه چا پوښتنې کولې هېڅ ځواب مه ورکوه، که د دیت باره کې درنه وپوښتي او ته ځواب ورکړئ چې درهم یا دانق (نیم ګرام) دی، درته به وايي چې خطا شوې، او که په منطق کې یې درنه پوښتنه وکړه او خطا شوې نو درته به وايي چې کافر شوې[3].

❁ ربیع وايي: ما له شافعي نه واورېدل: په دین کې مناظرې کول زړه سختوي او کینه پیدا کوي[4].

❁ ذهبي وايي: مونږ ته مسلَّم بن علاَّن د کتابت له لارې ویلي دي هغه ته ابو الیُمن کندي، هغه ته عبدالرحمن بن محمد، هغه ته ابوبکر خطیب، هغه ته محمد بن الفرج بزار، هغه ته عبدالله بن ابراهیم بن ماسي، هغه ته جعفر بن شُعیب

---

(١) الكامل في التاريخ: (٦٥٤).
(٢) سير أعلام النبلاء: (٩/١٥٩ – ١٦٠).
(٣) سير أعلام النبلاء: (١٠/٢٨).
(٤) سير أعلام النبلاء: (١٠/٢٨).

شاشي، هغه ته محمد بن یوسُف شاشي، هغه ته ابراهیم بن امیّة، هغه ته طاهر بن خلف ویلي و چې د مهتدي بالله محمد بن واثق نه یې اوریدلي دي چې ویل یې: زما پلار چې به کله څوک واژه مونږ ټول به یې راغونډ کړو، یو سورګیری سړی لاس تړلی راوستل شو، زما پلار وویل ابو عبدالله ابن ابي دُؤَاد او ملګري یې راولئ، لاس تړلي زما پر پلار سلام وکړ چې: السلام علیک یا امیر المؤمنین! زما پلار ورته وویل: [**لاَ سَلَّمَ اللهُ عَلَيْك**]. هغه ورته وویل: ښوونکي دې ډېره بده تربیه کړېده، الله پاک وایي: ﴿وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّواْ بِأَحۡسَنَ مِنۡهَآ أَوۡ رُدُّوهَآ﴾ [سورت نساء: ٨٦].

ژباړه: په تاسو چې کله سلام وکړی شي نو ښائسته جواب ورته ووایئ او یا هم هغه جواب ورکړئ. ابن ابي دُؤَاد وویل: لکه چې سړی منطقي دی.

زما پلار: خبرې ورسره وکړه. ابن ابي دُؤَاد: د قران اړوند څه نظریه لرې؟

لاس تړلي: ډېر بې انصافه یې، لومړی پوښتنه باید زه وکړم.

ابن ابي دُؤَاد: وایه څه پوښتنه لرې؟ لاس تړلي: ته د قران اړوند څه فکره لرې؟ ابن ابي دُؤَاد: قران مخلوق دی. لاس تړلي: د قران د مخلوقیت علم نبي ﷺ، ابوبکر، عمر، عثمان، علي ﵃ ته و او که نه؟ ابن ابي دُؤَاد: هغوی ته د دې علم نه و. لاس تړلي: سبحان الله! دا څنګه علم دی چې ته پرې پوهېږې او نبي ﷺ ته یې علم او معرفت نه و؟ نو سړی ډېر خجالته شو. ابن ابي دُؤَاد: ما ته موقعه راکړه. لاس تړلی: بیا همدغه نفس مسله شوه.

ابن ابي دُؤَاد: هو نبي ﷺ او خلفاء راشدینو ﵃ ته یې علم و.

لاس تړلی: سبحان الله! علم او معرفت یې و او بیا یې هم ورته خلک نه دي رابللي؟ ابن ابي دُؤَاد: هو.

لاس تړلی: ایا ستا په خیر د دعوت توان هغوی نه لرو؟

مهتدي بالله وایي: زما پلار له مجلس څخه وپاڅېد ستوني ستاق پرېوت او باربار یې ویل: چې نبي ﷺ او خلفاء راشدین پرې نه پوهېدل او ته پرې پوهېږې؟ سبحان الله! که هغوی پرې پوهېدل نو ایا ستا په شان یې د دعوت توان نه درلود؟

بيا مې پلار د عالم د بند په خلاصولو امر وکړ او څلور سوه ديناره يې هم ورکړل، له دې وروسته ابن ابي دُؤَاد زما د پلار له سترګو هم ولوېد او د قران په مخلوقيت يې هېڅ څوک نه دي ازمولي[١].

د اهل السنّت د ځينو علماوو نه امام ذهبي نقل کوي چې د عبيدي دولت له منځه وړلو لپاره يې د خوارجو مشرتابه ابو يزيد الخارجي سره عملي ملاتړ اعلان کړ، په دغه ملاتړ چا ملامته کړ چې ولې؟ هغه ورته وويل: زه د عبيدي حکومت رنګوني لپاره ښنګه و نه وځم او کفر مې ترې پخپلو غوږونو اورېدلی دی، زه ورسره په يو مجلس کې ناست وم چې ډېر سنّي او مشارقه علماء هم ناست ول، د دوی سرخېل ابوقضاعة هم ناست و، چې کله يې مشرتابه راغی يو رافضي لوړپوړي ورته وويل: مشره! دلته د الله رسول (ابوقضاعه) خوا ته کېنه، د دغه باطل په ضد هېڅ چا هم اواز پورته نه کړ[٢].

د ابو يزيد الخارجي په ملاتړ کې ابو اسحاق الفقيه هم تللی و، او دا يې ويل: خوارج اهل قبله دي او روافض اهل قبله نه بلکې د الله د لوی دښمن نسل دی، که بريا مو تر لاسه کړه د ابو يزيد په طاعت کې هم نه داخلېږو ځکه چې خارجي دی[٣].

(١) سير أعلام النبلاء: (١١/٣١٢).
(٢) سير أعلام النبلاء: (١٥/١٥٤).
(٣) سير أعلام النبلاء: (١٥/١٥٥).

# د سلفو صالحينو حق ته د انقياد نمونې

امام ذهبي وايي: ما ته ليث، هغه ته عقيل، هغه ته زهري، هغه ته ابو ادريس خولاني ويلي و چې يزيد بن عُميرة -دا د معاذ رضي الله عنه شاګرد دی- وايي چې معاذ بن جبل رضي الله عنه به مجلس کې د ناستې پر وخت ويل: الله پاک د انصاف او عدل ذات او نومونه يې د برکت والا دي، د شکونو شبهاتو څښتنان غرق او پرق شول. او نور حديث يې ذکر کړ... بيا وايي: ما ورته وويل: ايا عالم د ګمراهۍ خبرې کوي؟ هغه وويل: ولې نه، د عالم مشهورو خبرو نه ځان وژغوره او کلک پرې مه ودرېږه، کېدای شي کله حق واوري او غاړه ورته کېږدي ځکه حق نور او رڼا لري [١].

عبدالرحمن د خپل پلار عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت کوي چې يو سړی ورته راغي او ويې ويل: ای ابوعبدالرحمن! ما ته د خير او فايدې نه ډک کلمات وښايه، هغه ورته وويل: د الله تعالی سره هيڅ شريک مه جوړوه او چې قرانکريم چرته لوستل کېده هرومرو يې اوره، که هر چا درته حق بيان کړ ترې قبول يې کړه ولو که راوي دې بدي هم شي، او که هر چا درته باطل بيان کړ ترې مه يې قبلوه اګر که راوي دې نزدې خپلوان يا دوست هم وي. [٢]

ابو الاحوص د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت کوي چې په دين کې د هيڅ چا تقليد مه کوئ، که هغه ايمان راوړي دا يې هم راوړي او که هغه کفر کوي دا يې هم کوي، که اقتداء هرومرو کوي د مړي پسې روان شئ شايد ژوندی په فتنه مبتلاء شي[٣].

عبدالرحمن بن يزيد د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت کوي چې له ځان څخه اِمَّعَة (بې وقوفه) مه جوړوه، شاګردانو وويل: اِمَّعَة څه ته ويل کېږي؟ هغه وويل: اِمَّعَة هغه څوک دی چې وايي: زه د خلکو ملګری يم، که خلک په حق وي

(١) سير أعلام النبلاء: (١/٤٥٧).

(٢) صفة الصفوة: (١/٤١٩).

(٣) صفة الصفوة: (١/٤٢١).

زه هم په حق یم او که هغوی ګمراه وي زه دې هم ګمراه یم، نا بلکې په تاسو کې هر څوک دې داسې شي چې که خلک کفر کوي خو دا به کفر نه کوي [1].

۞ ذهبي وايي: ما ته اسحاق بن ابي بكر، هغه ته ابن الخليل، هغه ته ابو المكارم اللبَّان، هغه ته عليّ المقرئ، هغه ته ابو نعيم الحافظ، هغه ته يوسف بن يعقوب نجيرمي، هغه ته حسن بن مثنّى، هغه ته عفَّان، هغه ته همَّام ويلي دي چې ما له قتادة نه اوريدلي دي چې مطرِّف راته وويل: مونږ به زيد بن صُوحان ته راتلو هغه به راته ويل: ای د الله بندګانو! ډیر باوقاره او په کارونو کې عمده او معياري کارونه وکړئ، الله پاک ته د انسانانو وسیله په دوه خصلتونو کېدای شي: له الله نه ویره، او له الله نه امید ساتل، بیا وروسته بله ورځ ورغلم خپل منځ کې يې سره عهدنامه په دې عبارت ليکلې وه: الله پاک مو رب، محمد ﷺ مو پيغمبر او قرانكريم مو امام دی، مونږ د هغه خلكو مل يو چې څمونږ ملتيا كوي، كه چا مو مخالفت وكړ ورسره به جنګ کو، دغه عهدنامه يې هر ګډونوال ته ورکوله او هغه به پرې اقرار کو، خو چې ما ته راورسېده ما وويل: زه پرې اقرار نه کوم، خلکو غال مغال جوړ کړ، زيد بن صُوحان ورته وويل: هلک ته څه مه وایئ، بیا يې له ما څخه وپوښتل: ته څه وايئ؟ ما ورته وويل: الله پاک چې له ما څخه کوم عهد په قران کې اخستی دی له هغې پرته نورو وعدو ته تیار نه یم، هغوی نزدې ډېرش خلک وو ټول ببرته له خپلو کړو وعدو د قران کریم وعدې ته راستانه شول[2].

۞ ربيع وايي: له شافعي نه مې واورېدل: كه زما په كتاب كې مو د نبي ﷺ مخالف څه وليدل، زما مخالفت پرېږدئ او نبوي سنت نقل او نشر کړئ[3].

۞ ربيع وايي: دا مې ترې هم اورېدلي دي: يو سړي ورته وويل: ايا دا حديث ستا مذهب دی؟ هغه ورته وويل: چې زه كله تاسو ته د نبي ﷺ له پلوه صحيح حديث ذكر كړم او عمل مې نه وي تاسو پوهه شئ چې ليونی یم[4].

۞ حُميدي وايي: شافعي يوه ورځ حديث روايت كړ ما ورته وويل: ايا ستا مذهب

---

(١) صفة الصفوة: (١/٤٢١).
(٢) سير أعلام النبلاء: (٤/١٩٣).
(٣) سير أعلام النبلاء: (١٠/٣٤).
(٤) سير أعلام النبلاء: (١٠/٣٤).

دا حديث دی؟ هغه راته وويل: ولې زه څه له کليسا نه راغلی يم؟ که نه د نصرانيانو په څېر مې ملا تړلې ده؟ ما ته به د نبي ﷺ نه حديث رارسيږي او زه به وايم چې دا زما مذهب نه دی؟(١).

❁ ربيع وايي: ما د شافعي نه دا هم اورېدلي دي چې کوم اسمان به رابانديې سيوري شي او کومه ځمکه به پناه راکړي چې د رسول الله ﷺ څخه درته حديث واوروم او مذهب يې د ځان جوړ نه کړم (عمل پرې ونه کړم)(٢).

❁ ذهبي وايي: په مسند شافعي کې سماعاً ذکر کوي چې هغه ته ابوحنيفة بن سمَّاک، هغه ته ابن ابي ذئب، هغه ته مُقْبَري د ابو شريح نه روايت کړيدي چې رسول الله ﷺ فرمايي: له چا څخه چې مړی شوی وي د هغه خوښه ده چې ديت اخلي او که قاتل پرې قصاص کوي(٣).

ابن ابي ذئب وايي: ما ورته وويل: ايا دا حديث ستا مذهب دی؟ نو زه يې په سينه کې ووهلم ډيرې خبرې يې هم راته وکړې او چيغې يې کړې: زه درته د رسول الله ﷺ حديث بيانوم او ته راته وايې چې دا ستا مذهب دی؟ هو دا زما مذهب دی عمل وربانديې په ما فرض دی، او چې څوک يې واوري عمل يې پرې فرض دی، الله پاک د خلکو لپاره محمد ﷺ استازی غوره کړی دی، او خلکو ته يې پرې هدايت کړی دی که د چا خوښه وي او که نه، خبره به يې مني، هېڅ مسلمان لپاره ترې د تېښتې لار نشته(٤).

❁ خطيب وايي: ما ته جوهري، هغه ته مرزباني، هغه ته احمد بن محمد بن عيسي، هغه ته ابوالعيناء ويلي و: مهدي چې کله حج کو او مسجد نبوي ته راغی د ابن ابي ذئب پرته ورته نور ټو خلک پاڅېدل، مسيب بن زهير ورته وويل: امير المؤمنين

---

(١) سير أعلام النبلاء: (١٠/٣٤).

(٢) سير أعلام النبلاء: (١٠/ ٣٥).

(٣) سنن أبي داود: (٤٥٠٤). په باب کې بل حديث هم شته د ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايي: (**مَنْ قُتِلَ لَهُ قَتِيْلٌ فَهَوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ اِمَّا اَنْ يُؤْدَيَ وَاِمَّا اَنْ يُقَادَ**) (بخاري: ٦٨٨٠) مسلم هم دېته په نږدې الفاظو حديث روايت کړی دی (مسلم: ١٣٥٥).

ژباړه: له چا څخه چې مړی شوی وي د هغه خوښه ده چې ديت اخلي او که قاتل پرې قصاص کوي.

(٤) سير أعلام النبلاء: (٧/١٤٢).

ته پاڅيږه، هغه ورته وويل: الله ته خلک پاڅيږي مشرانو ته نه پاڅيږي، مهدي ورته وويل: څه ورته مه وايئ پريږدئ د وېرې له کبله مې په سر ټول ويښتان ودرېدل[١].

۞ شافعي وايي: ما سره چې په حق چا ځان لوړ بولی دی زما له سترګو نه لوېدلی دی، او چې حق رانه هر چا قبول کړی دی زه ورڅخه ډاريږم او مينه ته يې ژمن يم[٢].

۞ حاتم الاصم وايي: ماسره چې علمي بحث څوک کوي او هغه په حق وي زه پرې خوشحالیږم، او چې کله هغه په خطا وي زه خفه کیږم [٣].

۞۞۞

(١) سير أعلام النبلاء: (١٤٣/٧).
(٢) سير أعلام النبلاء: (١٠/ ٣٣).
(٣) سير أعلام النبلاء: (٤٨٧/١١).

# د سلفو صالحينو له فتوا ورکونې څخه خوف او ډار

نافع وايي: يو سړي د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه پوښتنه وکړه نو هغه سر ښکته وځنډه تر ډېره دمه يې ځواب ورنه کړ، خلکو داسې وګڼل چې شايد پوښتنه يې اوريدلې نه وي، سائل ورته وويل: الله په تا رحم وکړه لکه چې زما پوښتنه دې وانه اورېده؟ هغه ورته وويل: ولې نه خو تاسو زمونږ اړوند داسې وينئ لکه الله پاک چې رانه ستاسو باره کې پوښتنه نه کوي؟ لږ مو پرېږده چې پوښتنه کې سوچ وکړم، که علم يې راسره و جواب به درکړو او که نه و، درته به ووايو چې مونږ پرې نه پوهيږو[1].

مالک له نافع نه، هغه د ابن عمر او ابن عباس رضي الله عنهم دواړو متعلق نقلوي چې حاجيانو ته به ناست وو، د هغوی پوښتنو ته به يې ځوابونه ويل، زه به يوه ورځ يو او بله ورځ به بل ته کېناستم، عبدالله بن عباس رضي الله عنهما به هرې پوښتنې ته ځواب ورکو، او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما لږې پوښتنې ځوابولې او ډېرې به يې نه ځوابولې[2].

شُعيب بن ابي حمزة د زهري نه روايت کوي چې مونږ ته له زيد بن ثابت رضي الله عنه نه راورسېدل چې له هغه نه به کله پوښتنه وشوه هغه به ويل: ايا دا مسله منځ ته راغلې ده؟ چې چا به ورته وويل: هو، نو د علم سره سم به يې پوښتنه ځواب کړه، او چې به ورته وويل شول: نا فرضي مسله ده، هغه به ويل: پرېږدئ چې کله شته شوه بيا به ګورو[3].

موسي د خپل پلار عُلَي بن رباح نه روايت کوي چې د زيد بن ثابت رضي الله عنه نه چې به کله چاپوښتنه وکړه هغه به ورته ويل: دا مسله منځ ته راغلې ده؟ چې چا به ورته وويل: هو، نو د علم سره سم به يې پوښتنه ځواب کړه، او چې به ورته وويل شول: نا فرضي مسله ده، هغه به ويل: پرېږدئ چې کله شته شوه بيا به ګورو[4].

---

(١) صفوة الصفوة: (٥٦٦/١).
(٢) سير أعلام النبلاء: (٢٢٢/٣).
(٣) سير أعلام النبلاء: (٤٣٨/٢).
(٤) سير أعلام النبلاء: (٤٣٨/٢).

سحنون وايي: محکنو علماوو به د ځان خوښې له وېرې ډېرې خبرې هم نه کولې، خو که خبرې يې کړې وی نو خلکو ته به يې ډېره ګټه رسولې وه، او چې په خاموشۍ کې به پر ځان ويريدل ويل به يې: د فتوا په ورکولو هغه څوک ډېر جرات کوي چې لږ علم ولري[١].

سحنون نه پوښتنه وشوه چې که عالم په مسله پوهيږي کولی شي چې و وايي زه نه پوهيږم؟ هغه وويل: که قراني ايت او نبوي حديث ورته په ياده مسله کې ياد وي بايد هرومرو ځواب ورکړي، خو که ځواب يې د راي پر بنسټ وي، بايد ځواب ورنه کړي، ځکه چې هغه نه پوهيږي چې دغه ځواب به درست او که خطا وي[٢].

زيادة الله ګورنر سحنون ته د پوښتنې لپاره استازی وليږدو خو هغه ورته ځواب ورنه کړ، محمد بن عبدوس ورته وويل: پرون دې د قاضي صيب پسې لمونځ هم ونه کړ او اوس دې ځواب هم ورنه کړ؟ څه له دې ګلي ووځه، سحنون ورته وويل: دوی زما او د نورو علماوو قولونه راغونډوي او خوند ترې اخلي، او که رښتيا يې دين موخه وه هرومرو به مې ځواب ورکړی و[٣].

احمد بن محمد بن ازهر وايي: د عثمان بن سعيد الدَّارمي نه مې واورېدل چې محمد بن الحسين السِّجري راته وويل او هغه د يزيد بن هارون او جعفر بن عون نه حديثونه ليکلي وو: ابوسعيده! ما ته خلک راځي او د حديثونو غوښتنه رانه کوي، او زه يې بېرته تش تور نه شم رخصتولی؟ ما ورته وويل: ولې؟ هغه وويل: د نبي ﷺ د حديث نه ډارېږم چې **[مَنْ سُئِلَ عَنْ عِلْمٍ فَكَتَمَهُ الْجِمَ بِلِجَامٍ مَنْ نَارٍ]**[٤].

ژباړه: له چا څخه چې پوښتنه وشي او د علم باوجود ځواب پټ کړي د اور واګې به ورته واچول شي. ما ورته وويل: نبي ﷺ خو هغه څوک يادوي چې علم ورسره وي او تاسره خو علم نشته[٥].

(١) سير أعلام النبلاء: (٦٦/١٢).
(٢) سير أعلام النبلاء: (٦٥/١٢).
(٣) سير أعلام النبلاء: (٦٦/١٢).
(٤) مسند أحمد بن حنبل: (٢/٢٦٣، ٣٠٥). سنن أبي داود: (٣٦٥٨ ٩) كتاب العلم، باب كراهية منع العلم. او البانی ورته صحيح ويلي دي: (صحيح سنن ابي داود: ٢/٢٩٦ حديث شمير: ٣١٠٦).
(٥) سير أعلام النبلاء: (٣٢٢/١٣).

ايوب وايي: له قاسم نه په منی کې پوښتنه وشوه هغه ورته وويل: نه پوهېږم. چې پوښتنې پرې بيخي زياتې شوې خلکو ته يې وويل: ستاسو پر ټولو پوښتنو مونږ نه پوهيږو، او که پوهيدلو بيا مو درنه ځواب نه پټه و، او نه راله د ځواب پټول حلال دي. يحيې بن سعيد وايي: ما د قاسم نه واورېدل: مونږ نه چې څومره پوښتنې کيږي په ټولو مونږ نه پوهيږو، د الله پاک د حق پيژندلو وروسته که څوک ناخبره پاتې شي دا به ورله له دېنه ښه وي چې پوهيږي نه او فتوا ورکړي[1].

(١) صفة الصفوة: (٨٩/٢).



# د سلفو صالحينو د قران كريم سره تعلق او اړيكي

عبدالله بن عمرو بن العاص ﵁ وايي ما ته رسول الله ﷺ وفرمايل: هره مياشت كې قران كريم يو ځل ووايه، ما ورته وويل: له يو وار څخه يې زيات توان لرم، هغه راته وويل: په شلو ورځو كې يې يو ځل ختم كړه، ما ورته وويل: له دې څخه يې هم په لږو ورځو كې توان لرم، هغه راته وويل: په اوو ورځو كې ختم كړه او له دې څخه نور مه را كمېږه[١].

ذهبي تعليقاً وايي: له نبي ﷺ نه د دريو ورځو پورې د ثبوت اجازه شته[٢] او له دريو نه كم يې ورڅخه منعه كړې ده، دا هغه وخت چې قرانكريم لا د نزول په مرحله كې وو، بيا چې كله بشپړ شو او څه برخه يې نوره هم نازله شوه نو ټول قرانكريم له دريو ورځو څخه په كمه موده كې ختمول د نهي ادنى مرتبه ده، له دې څخه په كمه موده كې كه څوک قرانكريم ولولي نو نه خو پرې پوهيږي او نه پكې سوچ او غور كولى شي، خو كه د يوې هفتې په دوران كې يې څوک ټول ولولي نو بل بهتره عمل به ترې نه وي، او دين ډېر اسان دى.

لوړه په رب لايزال چې د شپې له مخې نوافلو كې د قران اوومې برخې لوستلو ترڅنګ، رواتب سنت كول، د څاښت لمونځ كول، تحية المسجد كول، مسنون ثابت اذكار ويل، د خوب او ورڅخه د راببدارو اذكار نه هېرول، د هر لمونځ نه وروسته اذكار ويل، د الله د رضا په خاطر د نافع علم پلټنه كول، په ښه كارونو د امر او له بدو څخه د خلكو رابندول، ناپوهه انسان پوهول، فاسق په خپلې ګناه رټل او نور واجبات ادا كول، له خشوع او خضوع سره پنځه وخته لمونځ په جماعت سره ادا كول، له غټو ګناهونو نه ځان ژغورل، ډېر استغفار او دعاګاني غوښتل، خيرات كول او خپلولي پالل، هر چا ته خاكساري كول او خپل ګرد كارونه د اخلاص په بنسټ ابادول تر هر څه ډېر غورترينه مشغولتيا ده، همدغه د اصحاب اليمين او د الله پاک د اولياوو پيشه او مصروفيتونه دي.

---

(١) صحيح بخاري: (٥٠٥٤). صحيح مسلم: (١٨٤).

(٢) دغه حديث په سنن أبي دواد (١٣٩٠ – ١٣٩١) شمير باندې روايت دى، او الباني ورته صحيح ويلي دي.

که یو عابد انسان قرانکریم یوه ورځ کې له پیله تر پایه ولولي نو د پاک سپیڅلي اسلامي شریعت پیروي نه بلکې صریح مخالفت یې وکړ، او مخکنې ټول ذکر شوو حالتونو څخه یې هیڅ نیک عمل هم ونه کړ، او له غور سوچ څخه یې قراءت هم تش او خالي دی، دغه ارمان د نبي ﷺ ملګري او لوی عابدګوزار هغه وخت وکړ چې بوډا شو چې کاشکې د نبي ﷺ رخصتونه مې منلی وی(۱).

۞ شعبة او هشام له قتادة څخه روایت کوي چې: جندب رضي الله عنه سره د رخصتېدو په مهال لږ راووتو، ما ورته وویل: مونږ ته نصیحت وکړه، هغه وویل: تاسو ته مې دا وصیت دی چې له الله څخه وډار شئ، قران کریم ډېر ولولئ ځکه چې د قران کریم لوستل په تورو شپو کې رڼا او په رڼا ورځ کې لارښود دی، که څه هم حالات د غربت او مالدارۍ تر منځ وي خو په قرانکریم عمل له لاسه مه ورکوئ، د مصیبتونو د لرې په مهال له دین څخه شتمنۍ نذرانه کړئ، که د مصیب لرې زوال شوه خپله شتمني، خپل ځان له دین نه قربان کړه، خانه خراب هغه دی چې دین یې ونړېږي، او مسلوب هغه دی چې له دین څخه خلاص شي، جنت ته له تګ وروسته هیڅ فقر او غربت نشته، او اور ته له تګ وروسته هیڅ شتمني په خبر نه راځي(۲).

۞ مسیَب بن رافع وایي: عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وایي: مناسب ده چې اهل القران په هغه شپه وپېژندل شي چې خلک پکې وده وي، په هغه ورځ وپېژندل شي چې خلک بوزه وي، خلک خوشحاله وي او دی خفه وي، خلک خاندي او دی ژاړي، خلک سره خبرې تبادله کوي او دی خاموش وي، خلک په متکبرانه حالت کې او دی خاکساره وي، اهل القران باید د الله څخه وېرېدونکي، خفه، صبرناک او د برداشت والا، خاموش او چپ انسانان وي، د اهل القران سره نه ښائیږي چې لوړغږي، تروش تریخ او غصه ناک وي(۳).

۞ حماد بن نَجیح له ابو عمران الجَوني څخه نقلوي چې جندب بن ابي جناده رضي الله عنه

(۱) دا یې د بخاري (۱۹۷۵) شمیر حدیث ته اشاره کړې ده، او د امام ذهبي کلام په سیر أعلام النبلاء: (۸٤/۳) دی.
(۲) سیر أعلام النبلاء: (۱۷٤/۳).
(۳) صفة الصفوة: (٤١٣/١).

وايي: مونږ له رسول الله ﷺ سره بلوغ ته نزدې هلكان رالوى شول خو د قران له زده كړې مو ايمان مخكې زده كړ، بيا مو قران زده كړ نو ايمان مو لاپسې زيات شو[1].

۞ حمّاد بن زيد له عطاء بن السّائب نه روايت كوي چې ابو عبدالرحمن وايي: مونږ قرانكريم له داسې خلكو څخه زده كړى دى چې هغوى به ويل: له لسو اياتونو به تر هغه مخكې نه تلو چې په عمل كې به مو نه ول رواستلي، مونږ قران كريم او عمل دواړه يوځاى زده كړي دي، له مونږ نه وروسته به قرانكريم داسې خلك په ميراث كې واخلي چې د اوبو په څېر به يې څښي، خو له مرۍ نه به يې پورته نه راځي[2].

۞ اسحاق بن ابراهيم وايي: فُضيل بن عياض به قرانكريم دومره قلاره لوسته، ته به وايې چې د چا سره خبرې كوي، او كه مخې ته به يې داسې ايت راغى چې د جنت ذكر به پكې و، باربار به يې تكرار و[3].

۞۞۞

(١) سير أعلام النبلاء: (١٧٥/٣).
(٢) سير أعلام النبلاء: (٢٦٩/٤).
(٣) صفة الصفوة: (٢٣٨/٢).



# د سلفو صالحينو په عبادتونو کې کوښښ او ونډه

عاصم احول د ابو عثمان النَّهدي نه روايت کوي چې ما ابوذر رضي الله عنه لمر خاته طرف ته په خپله سورلۍ په زنګېدو ولید، ما پرې د ویده ګمان وکړ چې ورنږدې شوم ورڅخه مې وپوښتل چې ویده وې؟ هغه وویل: نا لمونځ مې کو[1].

احنف بن قيس ته چا وويل: ډېر بوډا يې هسې نه روژه دې پسې لا کمزورې نه کړي، هغه ورته وويل: د اوږد سفر لپاره توښه تياره وم، او هغه به ټول لمونځونه د شپې له مخې کول، خپله ګوته به يې په اور کېښوده او له ډېره درده به يې ويل: په پلانکۍ ورځ دې ولې ګناه کوله؟ ياد دې شي؟[2].

سعيد الجُريري د ابوالعلاء نه روايت کوي چې يو سړي وويل: زه تميم الداري رضي الله عنه ته راغلم او ډېرې خبرې مو سره خپل منځ کې وکړې بيا ورته ما وويل: ته روزمره څومره قران لولې؟ هغه راته وويل: ته هم شايد هغه کسانو کې يې چې د شپې له مخې قران ولولي بيا د سهار په مهال هر چاته وايي چې د شپې مې دومره دومره تلاوت وکړ، لوړه په رب لا يزال چې زما نفس واک يې په لاس دی که درې رکعته نفل د شپې وکړم له دېنه راته محبوب دي چې ټول قرانکريم په يوه شپه کې ولولم او سهار پرې خلک وخبروم، دې خبرو يې زه غصه کړم ما ورته وويل: تاسو د نبي ﷺ پاتې ملګري ټول چوپتيا خوښوئ، څوک چې درنه پوښتنه وکړي سختې خبرې ورته کوئ او مسله ورته هم نه ښايئ.

زما په غصه چې هغه پوهه شو لږ نرم شو او راته يې وويل: وراره خبره واوره! ته څه فکر لرې که زه يو قوي مومن او ته په ايمان کې کمزوری يې ايا ته به د خپلې کمزورتيا سره زما قوت برداشت کړې؟ يا زه کمزوری او ته قوي مومن يې زه به د خپلې کمزوتيا سره ستا ايماني قوت برداشت کړم؟ نا بلکې ته هم او زه هم

(١) سير أعلام النبلاء: (٢/٧٨).
(٢) سير أعلام النبلاء: (٤/٩١ - ٩٢).

کمزوري کيږو، دومره کوه چې له دين څخه د ځان لپاره او د ځان څخه د دين لپاره څه ناڅه واخله تر څو هغه عبادت چې ته يې توان لرې وکړی شې[١].

د عبدالله بن عمرو العاص رحمه الله د قران کريم د زياتو لوستلو په دلچسپۍ کې د تېر شوي حديث په تعليق کې امام ذهبي مزيد فرمايې: نبي ﷺ به ورته د روژو متعلق هم په ښکته راروان و تر دې چې ورته يې وويل: يوه ورځ روژه نيسه او يوه ورځ روژه مه نيسه، او دغه زما د ورور داود عليه السلام روژه ده[٢]، او دنبي ﷺ نه دا هم ثابت دي چې: غوره ترينه روژه د داود عليه السلام روژه ده[٣]، د ټولې زمانې پرله پسې روژې نيولو څخه يې منعه فرمايله ده[٤]، دشپې څه برخه کې په خوب کولو يې هم امر کړی دی فرمايې: زه تهجد هم کوم خو ارام هم کوم، روژه هم نيسم خو بوزه کيږمه هم، نکاحونه هم کوم او غوښه هم خورم، زما له سنت څخه چې هر څوک بې رغبتي وکړي زما پيروکار نه دی[٥].

که څوک په خپلو عبادتونو او دعاګانو کې په نبوي سنتو پورې ځان پيوسته نه کړي ډېر به بې دمه او زيات به خفه شي، او د مسلمانانو د خيرخواه او مهرباني هستۍ نبي ﷺ له پيروکارۍ او له ډېر خير څخه محروم او بې برخې پاتې شو، هغه تل لپاره خپل امت ته غوره ترين عملونه ښوولي دي او له هغه ډول پيرتوب څخه يې رابند کړي دي چې هغه پرې نه دی مبعوث شوی، د ټولې زمانې روژه يې هم غندلې ده، او په روژه کې يې له وصال څخه منعه هم فرمايلې ده، د رمضان د اخرنو لسو شپو پرته يې نورې شپې په عبادتونو رڼولو نه منعه کړېده، هغه څوک يې رټلي دي چې د نکاح توان لري او نکاح نه کوي، هغه څوک يې هم رټلي دي چې غوښه نه خوري داسې نور ګڼور اوامر او نواهي...

عابد انسان که پرې علم ونلري شايد ماجور او معذور وګڼل شي، او په محمدي

---

(١) سير أعلام النبلاء: (٤٤٦/٢).
(٢) بخاري: (١٩٧٦) باب صوم الدهر. فتح الباري: (٢٥٩/٤). مسلم: (١١٥٩) كتاب الصيام.
(٣) مخکي نفس حديث دی.
(٤) دغه روايت په صحيح مسلم كتاب الصيام (١١٥٩) د [لَا صَوْمَ فَوْقَ صَوْمِ دَاوُدَ شَطْرُ الدَّهْرِ صِيَامُ يَوْمٍ وَإِفْطَارُ يَوْمٍ]، او په بل حديث کې راځي: [لاَ صَامَ مَنْ صَامَ الأَبَدَ] دهغه چا روژه نه کيږي چې ټول عمر روژه وي. (صحيح مسلم: ١١٥٩)
(٥) صحيح بخاري: (٥٠٦٣) صحيح مسلم: (١٤٠١).

اثارو عالم انسان چې پر دغو اوامرو او نواهيو تېرى وکړي مغرور او فضولي سړى دى، الله پاک ته محبوب عملونه هغه دي چې تل وي اګر که کم هم وي، الله پاک دې مونږ ته دښې پېروۍ توفيق راکړي او د مخالفتونو د ټولو ډولونو نه دې مونږ وساتي(١).

وکيع له اعمش نه، هغه له سليمان بن ميسرة نه، هغه له مغيرة بن شبل نه، هغه له طارق بن شهاب نه، هغه له سلمان الفارسي رضي الله عنه نه روايت کوي چې شپه کله راشي خلک درې ډوله شي:

١. شپه يې په ګټه وي، په تاوان يې نه وي.
٢. شپه يې په تاوان وي، په ګټه يې نه وي.
٣. شپه يې نه په ګټه وي او نه په تاوان.

هغه سړى چې د خلکو په غفلت او د شپې په تيارو کې پورته شي، اودس او لمونځ وکړي، دغه شپه يې په ګټه ده خو تاوان پرې نه ده، بل داسې سړى وي چې د خلکو په غفلت او د شپې په تيارو کې د الله پاک په معصيتونو کې بوخت وي د دې لپاره شپه تاوان ده او په ګټه نه ده، هغه سړى چې شپه يې نه ګټوره او نه تاواني وي هغه دى چې د شپې له مخې تر سهار ويده شي نه عبادتونه وکړي او نه ګناه.

طارق وايي: ما وويل: هرو مرو به زه د دې ملتيا کوم، نو خلکو لښکر کشي وکړه چونکه سلمان رضي الله عنه ورسره ووت نو ما هم ورسره ملتيا وکړه خو په هيڅ کار مې پرې برتري حاصله نه کړه، که ما به وړه واغښکل هغه به ډوډۍ پخه کړه، که ما به ډوډۍ پخه کړه هغه به ترکاري پخه کړه، خو د شپې له مخې يوه حصه د عادت سره سم به زه تهجدو ته پاڅېدم، زه چې به راپورته شوم هغه به ويده و، ما به ځان سره وويل: د نبي صلى الله عليه وسلم ملګرى زما نه غوره دى او هغه ويده دى زه به بېرته ويده شوم، خو چې د شپې له مخې به هغه هر کله راپورته شو ډډه به شو او وبه يې ويل: [**سُبْحَانَ الله ، وَالْحَمْدُ لله، وَلاَ اِلَهَ اِلاَّ اللهُ وَاللهُ اكْبَرُ، لاَ اِلَهَ اِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيك لَهُ، لَهُ الْمُلْك وَلَهُ الْحَمْدُ وَهَوَ عَلي كُلِّ شَيْئٍ قَدِير**] به يې ويل، سبا ختو

(١) سير أعلام النبلاء: (٣/٨٤ – ٨٥).

ته نزدې وپاڅېد اودس او بيا يې څلور رکعته لمونځ وکړ، د سهار لمونځ نه وروسته مې ورته وويل: ما خپل تهجد هم ستا له کبله پرېښودل، زه چې به د شپې له مخې راپاڅېدم ته به ويده وې زه به بېرته پرېوتم، هغه راته وويل: له ما څخه دې هېڅ هم وانه اورېد؟ ما ورته وويل: له تا نه مې فلانکې دعا واورېده، هغه وويل: دغه لمونځ دی، پنځه واړه لمونځونه د انسان ټول ګناهونه رژوي چې له قتل او غارت نه په کې ځان ژغورنه وشي، وراره! په عبادت کې ميانه روي کوه، ميانه روي ډېر ښه کار دی[١].

❁ اسد بن وداعة وايي: شدّاد بن اوس چې به کله خپلې بسترې ته راغي خوب به نه ورته او په ډډه به اوختو را اوختو او دا به يې ويل: ای الله! اور رانه خوب وتختو او بيا به ترسهاره په لمونځ ولاړ و[٢].

❁ اسد بن وداعة وايي: شدَّاد بن اوس چې به کله خپلې بسترې ته راغې نه به ويده کېده ته به وايې چې په سترګه يې دانه ده، او دا به يې ويل چې: ای الله! اور رانه خوب يوړو، او بيا به تر سهاره په لمونځ ولاړ و[٣].

❁ امام ذهبي پخپل سند له بغوي نه روايت کوي، هغه ته ابن زنجويه، هغه ته ابراهيم ابن مهدي ويلي و چې ما د ابوالاحوص نه اوريدلي دي چې د منصور بن المعتمر ګاوندي ته يې لور وويل: پلاره! د منصور په کور کې چې د شپې لرګی ولاړ اوس څنګه نشته؟ هغه ورته وويل: لورکۍ! هغه لرګی نه و، منصور خپله و، د شپې له مخې يې تهجد کول[٤].

❁ نُعيم بن حمَّاد وايي: عبدالله بن مبارک چې به کله [کتاب الرقائق] لوستو، له ډېرې ژړا به يې د حلال شوي غوايي په څير اوازونه کول، مونږ هر چا که به ترې پوښتنې کولو جرات وکړ نو ټېله به يې کړو[٥].

❁ ابراهيم بن محمد بن سفيان وايي: ما له عاصم بن عصام البيهقي نه واورېدل:

(١) سير أعلام النبلاء: (١/٥٤٩ – ٥٥٠).
(٢) صفة الصفوة: (١/٧٠٩).
(٣) صفة الصفوة: (١/٧٠٩).
(٤) سير أعلام النبلاء: (٨/٤٠٣).
(٥) سير أعلام النبلاء: (٨/٣٩٤).

د احمد بن حنبل سره مې شپه شوه نو اوبه يې راوړې او خوا ته يې راله کېښودې، د سهار پر مهال چې يې اوبه وليدې نه وې استعمال شوې ويويل: سبحان الله! څنګه کېداى شي چې يو سړى علم طلب کوي او د شپې تهجد نه کوي؟ [١].

اسحاق بن ابراهيم وايي: ما له فُضيل بن عياض نه واورېدل چې که د شپې له تهجدو او د ورځې له روژې نه بې توانه شوې پوهه شه چې ګناهونو دې تړلى يې[٢].

د احمد بن ابي الحواري الصوفي په ترجمه کې امام ذهبي وايي: زه وايم: محمدي ډېره ښه طريقه ده، د پاکيزه شيانو اخستل او مباح شهوات له اسراف پرته استعمالول بده خبره نه ده، الله پاک فرمايي: ﴿**يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُواْ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعۡمَلُواْ صَٰلِحًا**﴾ [سورت المؤمنون: ٥١]، او نبي ﷺ فرمايي: [**لَكِنِّي اصُومُ وَافْطِرُ وَانَامُ، وَآتِي النِّسَاءَ، وَآكُلُ اللَّحْمَ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيسَ مِنِّيْ**] [٣] نه خو نبي ﷺ رهبانيت فرض کړې دى او نه وصال او نه هم د ټول عمر روژه، اسلامي دين ډېر اسان دى هر پاکيزه شيان پکې انسان خوړلى شي، الله پاک فرمايي: [**لِيُنْفِقْ ذُوْ سَعَةٍ مَنْ سَعَتِهِ**] هر تواندراه دې د خپل توان په اندازه خرڅ او نفقه وکړي.

او نبي ﷺ ته له هر څه نه خپلې ښځې ډېرې ګرانې وې[٤]، سره له دې چې نبي ﷺ الله پاک ته له ګرد مخلوق نه غوره دى، خو بيا هم هغه ته خوښ ترين شيان غوښه، حلوا، شهد، خواږه او يخ څښاک او مسک وو.

د شرعي علم څخه چې کله عابد انسان لوڅ او لغړ وي، که هر څومره په زهد او عبادت کې تړي او ستومانه شي، د عبادت له کبله خلکو سره ناسته پاسته پرېږدي، په اندک لباس او د ډوډۍ په وړه توکړه بسنه وکړي، حواس به يې کمزوري او دستونزو لړي يې ښکار کړي، له ولږې او شپو رښولو نه به ورته داسې خبرې واورول شي چې دا به ګومان کوي چې ګنې الله پاک راسره خبرې کوي،

(١) سير أعلام النبلاء: (١١/٢٩٨).

(٢) صفة الصفوة: (٢/٢٣٨).

(٣) د دې حديث تخريج مخکې تېر شوى دى.

(٤) امام احمد پخپل مسند: (٢/١٢٨، ١٩٩، ٢٨٥) کې، او نسائي په (٧/٦١) کې، حاکم په (٢/١٦٠) کې حديث روايت کړى دى او ذهبي ورسره په تصحيح موافقه کړې ده [**حُبِّبَ اِلَيَّ مَنَ الدُّنْيَا الْنِّسَاءُ وَالْطِّيْبُ وَجُعِلَتْ قُرَّةَ عَيْنِيْ فِيْ الْصَّلَاةِ**] ماته له دنيا څخه ښځې محبوبې کړى شوي دي، او په لمونځ مې سترګې يخيږي.

شيطان پکې وځي او ننوځي، عقيده يې پسې لا پخه شي چې منزل مقصود ته ورسېدم، نا اشنا خطابونه او اوازونه ورته کيږي، نور نو بيخي د شيطان په ولقه کې شي او وسوسې ورته اچوي، له ځان پرته ورته ټول خلک بد او بدکاره ښکارې، هر يو ته خپل ګناهونه وريادوي او ځان ورته کامل او پوره ښکاري، کله ناکله د دې دعوا دار شي چې زه د الله ولي يم او کرامتونه يې راته راکړيدي، او کله ناکله يې ايمان هم په لړزه شي ځکه چې ځانلوالی د دغسې حالتونو لومړۍ مرحلې دي، او دغه حالتونه بيخي د اسلامي شريعت برخه نه ده.

ولې نېک سلوک، په ملازمت ذکر او اذکار ويل، په ګناهونو ژړا فرياد کول، په غور او سوچ د قرانکريم تلاوت کول، د الله پاک د رضا په خاطر خپل ځان ته غصه کېدل او نفس رټل، اسلام مشروع کړې روژې ډېرې ډېرې نيول، تهجد نه قضا کول، مسلمانانو ته اوږه ټيټول، خپلولي پالل، هر چا سره پر ورين تندي مخامخ کېدل او ورته عفوه کول، د فقر او فاقت په مهال صدقه ورکول، په نرم انداز حق ويل اګر که تريخ هم وي، په نېکو کارونو امر کول او له بدو نه خلک رابندول، د خلکو معذرت قبلول او له جاهلانو نه مخ اړول، په اسلامي سرحداتو پېره کول، د اسلامې دښمنانو سره د للهيت په خاطر جهاد کول او د حج فريضه ادا کول، په هر وخت او هر حال پاک خواړه خوړل او ډېر استغفار کول ټول د محمدي پيروکارو او اولياوو خويونه دي، په همدغه حالتونو دې الله پاک مونږ ته مرګ راولي[1].

(۱) سير أعلام النبلاء: (۸۹/۱۲ - ۹۱).

# په نېکیو د امر او بدو نه په راېندولو کې د سلفو صالحینو کردار

ابن ابي اویس له خپل پلار نه، هغه له ولید بن داود بن محمد بن عُبادة بن الصامت، هغه له خپل تره ځوي عبادة بن الولید نه روایت کوي چې عُبادة بن الصامت ﵁ د معاویة ﵁ سره و، یوه ورځ یې اذان وکړ، یو خطیب وپاڅېد او معاویه یې وستایو، عبادة بن الصامت ﵁ ورپورته شو او په خوله کې یې ورله خاورې واچولې نو معاویة ﵁ عبادة ﵁ ته غصه شو، هغه ورته وویل: ولې د عقبی په ورځ تا له رسول الله ﷺ سره په غم او خوشحالۍ کې، په ګرانۍ او اسانۍ کې، د وړ خلکو سره پر واک جنګ جګړه نه کولو باندې، او حق چې هر چرته وي له ویلو به یې خاموش نه پاتې کېدو، او د الله د رضا په خاطر د حق ویلو کې له هېڅ چا نه نه ډارېدو، او د خبرې په اورېدلو او منلو بیعت نه دی کړی؟ او نبي ﷺ فرمایي: **[اِذَا رَایْتُمْ الْمَدَّاحِیْنَ فَاحْثُوْا فِيْ افْوَاهِهِمْ الْتُّرَابَ]**[1].

یونس بن ابي اسحاق له خپل پلار عبدالله بن مغفل نه روایت کوي چې ابن ام مکتوم ﵁ په مدینه کې د هغې یهودنې ښځې سره میلمه شو چې نبي ﷺ ته به یې ستونزې جوړولې، ورپاڅېد او داسې یې ووهله چې بالاخره یې مړه کړه، د قتل خبره یې نبي ﷺ ته ورسېده، هغه ورڅخه پوښتنه وکړه چې ولې؟ هغه ورته وویل: که څه یې هم ما سره ښه رویه کوله خو ولې د الله پاک او د هغه نبي ﷺ پورې په بد ویلو یې زه تکلیفولم، نبي ﷺ وویل: **[ابْعَدَهَا اللهُ، قَدْ ابْطَلَتْ دَمَهَا]** الله دې تباه کړي خپله وینه یې پخپله بې قصاصه کړه[2].

---

(۱) سیر أعلام النبلاء: (۷/۲). او دعبادة ﵁ د بیعت حدیث امام بخاري په خپل صحیح: (۷۱۹۹ – ۷۲۰۰) کتاب الأحکام، باب کیف یبایع الامام الناس. فتح الباري: (۲۰٤/۱۳). او د **[اِذَا رَأَیْتُمْ الْمَدَّاحِیْنَ فَاحْثُوا...]** په نږدې کلماتو امام مسلم په خپل صحیح (۳۰۰۲) شمیر (۲۲۹۷/٤) د مقداد ﵁ په روایت راوړی دی.

(۲) سیر أعلام النبلاء: (۳٦۳/۱). د حدیث راویان ټول ثقات دي، روایت ابن سعد پخپل طبقات (۱۵۸/٤) او شاهد یې د علي ﵁ هغه حدیث دی چې ابوداود پخپل سنن (٤۳٦۲) شمیر، کتاب الحدود (: ۵۲۹/٤) راوړی دی أو له ابن عباس څخه یې په (٤۳٦۱) شمیر راوړی دی او الباني هم ورته په صحیح أبي داود (۸۲٤/۳) په (۳٦٦۵) شمیر کې صحیح ویلې دي، **[أَنَّ یَهُوْدِیَّةً کَانَتْ تَشْتُمُ الْنَبِيَّ -صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ- وَتَقَعُ فِیْهِ فَخَنَقَهَا رَجُلٌ حَتَّی مَاتَتْ، فَأَبْطَلَ رَسُوْلُ اللهُ -صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ- دَمَهَا]**، =

اوزاعي له ابو كثير نه، هغه له خپل پلار نه روايت كوي چې زه ابو ذر رضي الله عنه ته راغلم او هغه له جمرة الوسطى سره ناست و، هلته پرې خلک راغونډ شوي وو او پوښتنې يې ترې كولې، يو سړى راغى ورته يې وويل: ته امير المؤمنين د خلكو پوښتنو د ځوابولو نه منعه كړي نه يې؟ هغه ورته سر راپورته كړ او وېويل: ولې ته زما ذمه وار يې؟ كه په څټ راته توره كېږدئ او د نبي ﷺ نه اورېدلې خبرې نه مې رابند كړئ سر به مې غوڅ كړئ خو اوريدلى حديث به خلكو ته واوروم [١].

د برقې ښار قاضي په ترجمه كې امام ذهبي وايي: **محمد بن حُبُلي** ته د برقې ګورنر راغى او ورته يې وويل: سبا د اختر ورځ ده، هغه ورته وويل: لا مو مياشت نه ده ليدلې هسې د خلكو ګناهونه په غاړه نه شو اخستلى، هغه ورته وويل: د منصور راليږلې قرار هم زما خبره تاييدوي -دا د عُبَيْديه حكومت رايه وه چې روژې به يې په حساب ماتولې او روؤيت به يې معتبر نه ګڼه- ګورنر (والي) قرار صادر كړ چې د اختر خبر د تبلو تمبل په وهلو خپور كړئ، قاضي ورته وويل: چې مياشت نه ده ليدل شوې زه اختر نه كوم، ګورنر په خطبه بل څوک وګمارو او وروسته يې روانه لړي تړوله منصور ته واستوله، منصور قاضي راوغوښت او ورته يې وويل: ښښنه وغواړه معاف به دې كړم، قاضي معافي ونه غوښته، منصور هغه په لمر كې تر هغه بندي كړ چې مړ شو، په ډېره تنده كې يې اوبه وغوښتې خو اوبه ورته ورنه كړل شوې، بيا يې په دار وځړ وو، په ظالمانو دې د الله لعنت وي[٢].

حسن وايي: زياد خراسان ته د حَكَم بن عمرو د قيادت لاندې لښكر ولېږدو، فتحه يې نصيب شوه نو ډېر مالونه يې غنيمت كې ترلاسه كړل نو زياد ورته ليک واستو چې امير المؤمنين راته ليک راستولى چې د خلكو ترمنځ سره او سپين زر تقسيم نه شي او له غنيمت څخه بايد لرې شي.

حَكَم بن عمرو ورته ځواب واستو: سلامْ عليک. امابعد: كه تا څه هم د امير المؤمنين د ليک يادونه كړېده خو د غنيمت اړوند راته د اميرالمؤمنين د ليک څخه

= د علي رضي الله عنه روايت كړي حديث ته الباني په ارواء الغليل: ٩١/٥ په: ١٢٥١) شمير صحيح ويلي دي، خو ولې ببرته يې په ضعيف أبي داود (٩٣٧) كې ضعيف كړى دى.

(١) سير أعلام النبلاء: (٦٤/٢).

(٢) سير أعلام النبلاء: (٣٧٤/١٥).

د الله پاک ليک او کتاب محکې راغلی دی، لوړه په رب لايزال چې که ټول اسمانونه او ځمکې پر انسان جوخت شي نو الله پاک يې ترې راوباسي والسلام عليک[۱].

ابو المنذر اسماعيل بن عمر وايي: ما له عبدالرحمن العمري څخه واورېدل چې له الله پاک څخه مخ اړول ستا د غفلت لويه نښه ده، هغه داسې چې په څه شي الله پاک غصه کيږي د ليدو باوجود پرې ته خاموش شې، هغه څوک چې د خير او شر هيڅ توان نه لري له ويرې يې امر بالمعروف او نهي عن المنکر نه شي کولی.

او دا مې ترې هم اوريدلي دي: د مخلوق له ويرې څخه چې څوک امر بالمعروف او نهي عن المنکر پرېږدي له زړه څخه به يې له الله نه ويره ووځي، که خپلو بچو يا مريانو ته هم څه ووايي ناوړه ځواب ورکوي [۲].

سُليمان بن عبدالرحمن بن عيسي له ابو خُلَيد عُتْبَة بن حمَّاد القارئ نه، هغه له اوزاعي نه روايت کوي چې عبدالله بن علي راته استازي راوليږدو، که څه هم راباندې سخته ولګېده خو بيا هم لاړم، زه داسې حالت کې ورننوتم چې خلک دوه صفونه ول، هغه راته وويل: د امويه خلافت د نسکورولو لپاره ځمونږ نظامي پاڅون څنګه ارزوې؟ ما ورته وويل: الله دې اميرالمؤمنين ته خير کړي! زه او داود بن علي سره ډېر نزدې دوستان ول.

عبدالله بن علي: هرومرو به راته د پوښتني ځواب راکوې.

له لږ غور وروسته مې مرګ قبول کړ او ورته مې د يحيې بن سعيد په روايت د **[اِنَّما الاعْمَالُ بِالْنِّيات]**[۳] حديث ووايو، په لاس کې ورسره لخته يې ځمکه کې ټومبله راټومبله.

بيا يې راڅخه وپوښتل: د بنو امية د کورنۍ مرګ او وژنې اړوند څه فکر لرې؟

ما ورته د محمد بن مروان په روايت د عائشه رضي الله عنها حديث ولوست چې **[لاَ يحِلُّ قَتْلُ امْرِئٍ اِلاَّ فِي اَحْدَي ثَلاَثٍ...]**[٤].

(١) صفة الصفوة: (٦٧٢/١).

(٢) صفة الصفوة: (١٨١/٢).

(٣) بخاري: (١) شمير حديث کتاب بدء الوحي. فتح الباري: (١٥/١). مسلم: (١٩٠٧) شمير حديث، کتاب الامارة: (١٥١٥/٣).

(٤) بخاري: کتاب الديات، باب قوله تعالی [أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ] (٦٨٧٨) شمير حديث. فتح الباري: (٢٠٩/١٢)، مسلم په (کتاب القسامة: ١٦٧٦) شمير باندې هم روايت کړی دی، وګوره صحيح مسلم: (١٣٠٢/٣).

بيا يې راته وويل: له خلافت نه مې خبر کړه، ايا نبي ﷺ پرې زمونږ لپاره وصيت کړی دی او که نه؟

ما ورته وويل: که نبي ﷺ پرې ستاسو لپاره وصيت کړی و نو علي رضي الله عنه به له ځان نه مخکې هيڅ چا ته نه و پرېښی.

بيا يې وپوښتل: د بنو امية په مالونو او شتمنيو کې څه وايې چې زمونږ لپاره حلال دي که حرام؟

ما ورته وويل: که د هغوی شتمني هغوی لپاره حلاله وي په تا حرامه ده، او که د هغوی لپاره حرامه وي نو په تا خو بيخي حرامه ده، بيا يې خلکو ته امر وکړ چې دا وباسئ، نو خلکو راوويستم.

ذهبي وايي: عبدالله بن علي چې خورا ظالم او خونکار انسان و، خو ولې خويونو او عادتونو يې امام اوزاعي د تريخ حق ويلو نه د بدو علماوو په څېر رابند نه کړ، بد علماء هغه خلک دي چې د تولواک بده رويه او ظلم زياتی هم ستايي او بطلان يې حق پيژني، دغسې علماء دې الله تباه کړي چې حق نه شي ويلی خاموش ولې نه کيني [(١)].

ابن الجوزي وايي: عبدالملک بن عمر بن عبدالعزيز د عمر بن عبدالعزيز خواته ورغی او د هغه سره مسلمة بن عبدالملک هم ناست و، ورته يې وويل: له ما سره ځانله شه پټه خبره درته کوم، هغه ورته وويل: دا څنګه خبره ده چې له تره نه دې هم پټه ده؟ هغه ورته وويل: هو خبره ډېره پټه ده، مسلمة وپاځيد او لاړ عبدالملک د پلار مخامخ کېناست او وېويل: اميرالمؤمنين! که الله پاک درنه سبا پوښتنه وکړي چې تا د خپل واک په دور کې ليدلې بدعتونه ولې نه مړه کول؟ او نبوي سنت دې ولې نه راژوندي کول؟ ته به ورته څه ووايې؟ هغه ورته وويل: زويه! ايا د کوم رغبت له پلوه راسره خبرې کوې او که ستا خپله رايه ده چې اظهار يې کوې؟

زوی ورته وويل: زه خپله درڅخه پوښتنه کوم نور څه نه شته، خو الله پاک به درنه هرومرو پوښته کوي زه وايم چې ته به څه ځواب ورکوې؟ هغه ورته وويل:

(١) سير أعلام النبلاء: ٧/١٢٤ – ١٢٥).

الله درباندې رحم وکړه او خير يوسې، لوړه په رب لايزال چې د ځان لپاره دې د خير سلاکار او مرستندويه وينم.

ګرانه زويه! ستا قوم خبره ټوله ول ول او کړې کړې کلکه تړلې ده، که يې له لاسونو هر څه راوباسم نو خونړيزه جګړه به ترې رامنځ ته شي، خو د يو انسان د وينې تويولو نه راته ددنيا له منځه تلل ډېره غوره دي، او ته نه خوشاليږې چې پلار ته دې په داسې حالت کې مرګ راشي چې بدعتونه يې له منځه وړي او سنتونه يې راژوندي کړي وي؟ تر دې چې الله پاک خپله فيصله وکړي او هغه ډېرې غوره فيصلې کوي (١).

سعيد بن سليمان وايي: د حج په موسم کې مکه کې وم او ترڅنګ مې عبدالله بن عبدالعزيز العمري ناست، يو چا ته ورته وويل: وګوره کنه امير المؤمنين ته د طواف لپاره ټول مطاف خالي کړی شو، عُمري هغه سړي ته وويل: الله دې درته خير درنه کړي، داسې کار ته دې راله پام کړ چې زه يې هېڅ پروا نه ساتم، پېزار يې راځوړند کړ او پاڅېد، زه ورپسې شوم هارون رشيد چې مروه له اړخه صفا ته راروان وو پرې غږ يې کړ: هارونه! هغه ورته پام کړ او ورته يې وويل: دغه يم کاکاجانه، ده ورته وويل: د صفا غونډې ته پورته شه، کله چې تر غونډې وختو ورته يې وويل: کعبې ته مخامخ شه.

هارون الرشيد: دغه دې مخامخ شوم.

عمري: دا خلک به څومره وي؟

هارون: دا لاڅوک شمېرلای شي؟

عمري: نور خلک به د دوی څو چنده وي؟

هارون: دومره چې له الله پرته نور هېڅ چا ته يې معلومات نشته.

عمري: بيا نو دې ته څېر شه چې له هر سړي څخه يواځې د هغه اړوند پوښتلی شي، او ستا نه به د ټولو خلکو پوښتنه کيږي، اوس وازموه چې له تا سره به د چا چا حساب نه کيږي؟

(١) صفة الصفوة: (١٢٨/٢).

د دې خبرو اوریدو سره یې دومره وژړل چې کښېناست او د اوښکو پاکولو لپاره ورته دسمال ورکړل شو، دومره یې وژړل چې هر یو یې په اوښکو لوند کړ.

عمري: بله یوه خبره هم درته کوم.

هارون: کاکا جانه وایه څه وایې؟

عمري: لوړه په رب لایزال چې که څوک خپل مالي لګښت په ناروا سره وکړي نوحجر پرې لګیدی شي، ته ارزیابي کړه چې که د مسلمانانو په حقونو کې څوک تجاوز وکړي څه به ورسره کیږي؟ بیا ترې عبدالله العمري ولاړ او هارون الرشید ناست و او ژړل یې[1].

۞ د امام علي بن ابي الطيب نیسابوري په ترجمه کې امام ذهبي وايي چې محمود بن سبکتکین باچا ته بوتلل شو چې پند او نصیحت ورته وکړي، له اجازې پرته ورننوت او له امر پرته یې د حدیث په پیل شروع وکړه، باچا سبکتکین ورته په غصه او رنګ یې بدل شو، نوکر ته یې د وهلو امر وکړ، هغه په غوږ داسې څپېړه ورکړه چې کوڼ یې کړ، کوم حاضرین چې د ابن ابي الطيب علمي رتبه او مکانت ورته معلوم و باچا یې پرې وخبرو، باچا ترې زیات معذرت وغوښت او مالي مرسته یې ورسره هم وکړه خو هغه یې مالي مرسته قبوله نه کړه، باچا ورته وویل: باچاتوب سره زورواکي وي او له سیاسیت نه بغیر باچایي کیدای نه شي، او تا ته ښه پته ده چې له حده دې تجاوز وکړ، زه درنه معذرت غواړم ما وبښه!

هغه ورته وویل: زما او ستا ترمنځ به پرېکړه الله پاک کوي، تا خو زه د وعظ او پند او د نبي ﷺ د حدیثونو اوریدو لپاره راوغوښتم د دولت د ټینګښت لپاره د قوانینو کیښودلو ته خو دې نه یم راغوښتې؟ باچا ډېر بې ځوابه او خجالته شو. یاقوت حموي هم دا قیصه په « تاریخ الادباء » کې ذکر کړېده او بیا وایي: علي بن ابي الطيب په سانزوار کې په (٥٨٠ هـ) د شوال په میاشت کې وفات دی.

ذهبي وایي: محمود سبکتکین اګر چې په جهاد في سبیل الله، د هند په فتح او نورو ډېرو دیني اړینو اړخونو کې ښه نوم او شان لري، بیا هم پخپل دغه ناوړه کار ډېر خپه او پښیمانه شو، د هر لویي کوچنکي او ظالم انسان نه د الله پاک پورې پناه غواړو،

(١) صفة الصفوة: (٢/١٨٢).

مونږ ډېر داسې خلک ولیدل چې جهادي مسیر یې مړ کړی او په کلو ښارونو کې د فساد او تخریب هلې ځلې کوي، الله دې د خپلو بندګانو مل او کارساز شي[1].

۞ عبدالرحمن رُسْتَه وایي: ما له ابن مهدي څخه وپوښتل چې: که څوک واده وکړي په لومړو شپو ورځو کې د جماعت لمونځ پرېښودی شي؟ هغه وویل: نه، یو لمونځ به هم نه پرېږدي، زه ورته یو وخت راغلم او د لور د واده لومړۍ شپه یې وه، راغی اذان یې وکړ او د لور د کور پر دروازه ودریده او وینځې ته یې وویل: دواړو ته ووایه چې لمونځ ته راشي، ټولې ښځې او وینځې لمونځ ته راغلې ما وویل: سبحان الله! دا څه دي؟ هغه راته وویل: تر هغه به ولاړ یم چې دواړه لمونځ ته نه وي راغلې، چونکه هغوی د ابن مهدي دلمونځ نه وروسته راووتل نو په لاره پروت بل مسجد ته یې واستول[2].

۞ مقاتل بن صالح خراساني وایي: زه د حماد بن سلمة ملاقات ته لاړم په کور کې یې له اندېري پرته نور څه نه و، هغه مې پرې ناست ولید او قرانکریم یې لوست، ترڅنګ یې کڅوړه کې پرته وه او خپل راغونډ کړی علم یې پکې نغښتي و، او یو ورسره لوښی و چې اودس به یې ترې کو، زه لا ورسره ناست وم چې چا دروازه ووهله، ماشوم ته یې وویل: ورشه پر دروازه څوک دی؟ هغه ورته وویل: د محمد بن سلیمان استازی دې غواړي، حماد بن سلمة ورته وویل: ورته ووایه ځان سره نور څوک مه راوله او یواځې راشه، استازي ورته کتاب ورکړ پکې لیکل شوي و: بسم الله الرحمن الرحیم، دا حماد بن سلمة ته د محمد بن سلیمان لیک دی، د الله پاک د اولیاوو او پیروکارو خلکو په څیر درته نیکه ورځ غواړم، زمونږ ترمنځ یو مسله منځ ته راغلې ده د حل لپاره باید راشې، والسلام.

حماد وویل: ماشومې! دوات راوړه، بیا یې ماته وویل: د راستول شوي لیک پر بل مخ ولیکه: اما بعد: زه هم ستا لپاره د الله پاک د اولیاوو او پیروکارو خلکو په څېر نیکه ورځ غواړم، ما چې څومره علماء کتلي دي خلک ورته راتلل د خلکو پسې نه تلل، که څه مسله لرې تکلیف وباسه او راشه، خو که راتلې نو یواځې راشه هېڅ څوک له ځان سره مه راوله، د اسونو او پیدلو په ملتیا مه راځه ورنه ځان او تا ته د هېڅ خیر خبره نه کوم، والسلام.

(۱) سیر أعلام النبلاء: (۱۸/۱۷۳ – ۱۷٤).
(۲) سیر أعلام النبلاء: (۹/۲۰٤).

زه لا ورسره وم چې بيا چا دروازه ووهله خپلې ماشومې ته يې غږ کړ چې ورشه په دروازه کې څوک دي؟ هغې ورته وويل: محمد بن سليمان دی. حماد ورته وويل: ورته ووايه يواځې راشه ځان سره هيڅ څوک رانه ولې، چې راننوت سلام يې وکړ او مخې ته يې کښېناست ورته يې وويل: زه چې تا ته وګورم خوف او ډار مې نيسي؟ حماد ورته وويل: ما د ثابت البناني نه اوريدلي دي، هغه د انس بن مالک ﷺ نه اوريدلي دي چې رسول الله ﷺ فرمايي: **[إِنَّ الْعَالِمَ إِذَا أَرَادَ بِعِلْمِهِ وَجْهَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ هَابَهُ كُلُّ شَيْءٍ وَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَكْنِزَ بِهِ الْكُنُوزَ هَابَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ]**[(١)].

ژباړه: کله چې عالم پر علم باندې د الله پاک رضا وغواړي هر شی ترې ډاريږي، او کله چې عالم پر علم مالونه خزانه کوي له هر چا څخه به ډاريږي.

محمدبن سليمان ورته وويل: څلويښت زره درهم واخله او د ژوند اړوند چارې دې پرې سمبالې کړه.

هغه ورته وويل: دغه څلويښت زره درهم هغه چا ته ورکړه چې ظلم زياتی دې پرې کړی وي.

محمد بن سليمان ورته وويل: په رب لا يزال قسم چې دا مې په ميراث کې اخستي دي.

هغه ورته وويل: زه ورته هيڅ اړتيا نه لرم الله دې له تا څخه ګناهونه لرې کړي دنيا دې راڅخه ټوله کړه لرې شه.

محمد بن سليمان ورته وويل: چرته يې تقسم کړه خو وايې اخله.

هغه ورته وويل: که زه يې په تقسيم کې هر څومره له عدل نه کار واخلم خو چې څوک ورڅخه بې برخې شي وايي به چې عدل يې ونه کړ، الله دې وبښه له ما څخه دې ماليت درغونډ کړه[(٢)].

---

(١) کنز العمال: (٦٣٠/١٦)، حديث شمېر: (٤٦١٣١)، ابن عساکر ابن النجار ته هم منسوب کړی دی، زبيدي وايي: منذري وايي: په دې باب کې د علي رضي الله عنه نه حديث هم شته، ځيني حديثونه سره نور قوي کوي، وګوره: أحاديث احياء علوم الدين: ١٠٨٧/٢).

(٢) صفة الصفوة: (٣٦١/٣).

# جهاد في سبيل الله کې د سلفو صالحينو د اخلاص نمونې

حماد بن سلمة د علي بن زيد نه، هغه د ابن المسيب نه روايت کوي صهيب ﵁ چې کله مدينې ته هجرت کو د مرګ لپاره ځينې خلک ورپسې شول، صهيب له خپلې سورلۍ څخه راښکته شو او د غشو چانټې يې راواخسته او ورته يې وويل: تاسو ښه پوهيږئ چې زه ډېر ښه نښنه باز يم، هر يو به درنه په غشو وولم او بيا به مو په توره ووهم، او يا دا چې زه به درته خپل ماليت دروښايم لاړ شئ هغه واخلئ او زما لاره خلاصه کړئ؟ هغوی ورته وويل: سمه ده تا پرېږدو خو ماليت دې راوښايه، صهيب چې کله نبي ﷺ ته راورسيد ورته يې وويل: ابويحيې پلورلو دې ډېره ګټه وکړه، او په هکله يې دا ايت هم نازل شو ﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡرِي نَفۡسَهُ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلۡعِبَادِ﴾ [سورت بقره: ۲۰۷][(۱)].

ژباړه: ځينې خلک داسې دي چې د الله د رضا په خاطر خپل ځان پيري.

واقدي د عبد الله بن نافع نه، هغه له خپل پلار نه، هغه له عبدالله بن عمر ﵀ نه روايت کوي چې د يمامې پر ورځ مې عمار ﵁ وليد چې پر تيګه اوچت ولاړ او چيغې نارې يې وهلې: ای مسلمانانو! ايا تاسو له جنت نه تختئ؟ زما خواته راشئ زه عمار بن ياسر يم، ما ورته کتل چې غوږ يې هم غوڅ شوی و او په سخته ميړانه يې جګړېزه مقابله (جهاد) کوله [(۲)].

د سعد بن خيثمة ﵁ په ترجمه کې امام ابن الجوزي ﵀ وايي: اسم کنيه يې ابو عبدالله وه، د انصارو په دولس کسيزه مشرانو کې غړيتوب لري، د اوياو کسانو سره په دوهمه عقبه کې حاضر شوی و، رسول الله ﷺ چې کله د بدر غزا لپاره ترتيب نيول اعلان کړل خيثمه خپل زوي سعد ﵀ ته وويل: دواړو کې به يو هرومرو ځو، خو ښه به دا وي چې په تګ ما ته غوره والی راکړې زه به لاړ شم او

(۱) سير أعلام النبلاء: (۲/۲۳). او حديث په مستدرک الحاکم: (۳/ ۳۹۷) طبقات ابن سعد: (۳/۱۷۱)، معجم الکبير د طبراني: (۸/ ۳٤)، حلية الأولياء د ابونعيم أصفهاني: (۱/۱۵۱ – ۱۵۲).

(۲) سير أعلام النبلاء: (۱/٤۲۲).

ته په کور کې د زنانه و سره تم شه، زوي (سعد) ورته وويل: که له جنت پرته نور څه و بیا به مې درته پرې غوره والی درکړی و، خو نا زه به لاړ شم او ته تم شه، اخر هم دواړو سره خځښی وکړ او د سعد رضي الله عنه خځښی راووت، د بدر غزا ته ولاړ او هلته شهید شو.

دا قیصه ما ته ابوبکر بن ابي طاهر، هغه ته جوهري، هغه ته ابن حیوة، هغه ته ابن معروف، هغه ته ابن الفهم، هغه ته د سعد رضي الله عنه زوی محمد کړې وه [١].

ثابت البناني د ابن ابي لیلی نه نقلوي چې عبدالله بن ام مکتوم رضي الله عنه ویل: ای ربه لایزاله! زما عذر د جهاد اړوند راواستوه، دا ایت نازل شو ﴿غَيْرُ أُوْلِي ٱلضَّرَرِ﴾ [سورت نساء: ٩٥] بیا چې به یې کله جهاد کو خلکو ته به یې ویل: د جنګ بیرغ ما ته راکړئ، چونکه زه ړوند یم تښتېدلی نه شم، او د مسلمانانو او د کافرانو د صفونو په منځ کې مې ودروئ[٢].

حماد بن سلمة وايي: ما ته ثابت وویل: (صَلَة) غزا ته ووت او زوی یې هم ورسره و، زوی ته یې وویل: مخکې شه او تر هغه جنګ وکړه چې شهید شې او په شهادت دې اجر وغواړم، زوی یې تر هغه جنګ وکړ چې شهید شو، بیا صَلَه خپله مخکې او تر شهادته یې جنګ وکړ، کلیوالې ښځې د صَلَه ښځې ته راغلې چې غم کې ورسره شریکې شي، هغې ورته وویل: که د خاوند او زوی مبارکی ته مې راغلې یاست نو په خیر راشئ او که د نور څه لپاره راغلې یاست نو بېرته ستنې شئ[٣].

اسماء بنت ابي بکر رضي الله عنها وايي: نبي صلى الله عليه وسلم چې له مکې څخه کله ووت ابوبکر رضي الله عنه د ځان سره ټول مال -پنځه زره یا شپږ زره- درهم واخست، زما نیکه راغی او راڅخه یې وپوښتل: ابوبکر خو تاسو په مال او ځان دواړو خفه کړئ، چونکه هغه ړوند و ما ورته وویل: نا مونږ ته یې ډېر مال پرېښی دی، د کور په تاخچه کې مې کاڼي واچول او ټوټه مې پرې راخپره کړه، او د هغه لاس مې پرې کېښود،

(١) صفة الصفوة: (١/٤٦٨).
(٢) سير أعلام النبلاء: (١/٣٦٤).
(٣) سير أعلام النبلاء: (٣/٤٩٨).

ورته مې وويل: دومره ډېرې روپۍ يې پرېښې دي، هغه وويل: چې دا يې پرېښې وي نو خير دی[1].

۞ عاصم بن بهدلة وايي: زماپه ګومان چې ابو وائل راته وويل: خالد بن الوليد ﷺ چې کله وفات کېده وېويل: د مرګ حقيقي ځايونو ته بار بار لاړم خو مرګ راته اخيره هم په خپله بستره کې راغی، له توحيد او ايمان نه وروسته له ټولو اعمالو پرته هغه شپه راته د ثواب ښکاري چې په ډال کې مې تېره کړې وي او په دې خاطر به مو د سهار انتظار کوو چې په کافرانو باندې حمله وکړو.

بيا يې وويل: زه چې کله مړ شم زما اس او سلاح به د الله پاک په لاره کې مجاهدين کاروي، چې کله وفات شو، عمر ﷺ يې جنازې ته راغی او ويويل: که د خالد بن الوليد ﷺ کورنۍ له لوړغږۍ او جامو شکونو پرته په خالد د غم ژړا وکړي هيڅ پروا نه کوي[2].

۞ سفيان بن عيينة د ابن ابي خالد نه، هغه د خالد بن الوليد ﷺ د يو غلام نه روايت کوي چې خالد بن الوليد ﷺ به ويل: چې په کومه شپه راته ډولۍ تياره کړی شي له دې څخه راته هغه شپه ډېره محبوبه او له مينې ډکه ده چې واوره پکې وريدلې وي، زياته يخني وي، او د دغې شپې پر سهار دښمن باندې حمله وکړم[3].

۞ حماد بن سلمة د ثابت نه او هغه د انس بن مالک ﷺ نه روايت کوي چې ام سُلَيْم د حنين غزا پر ورځ له ځان سره خنجر واخست، ابو طلحه ويل: ای د الله رسوله! ام سليم سره خنجر دی؟ ام سليم وويل: ای د الله رسوله! که کوم مشرک مخې ته راشي نو خيټه به ورله پرې خيرې کړم[4].

۞ خارجه له خپل پلار زيد بن ثابت نه روايت کوي چې: د احد په ورځ زه نبي ﷺ واستولم چې سعد بن الربيع ولټوم او راته يې وويل: که دې وليد زما سلام پرې وکړه او ورڅخه وپوښته چې څه حس کوې؟ زه د مړو او ژوبلو ترمنځ

(۱) سير أعلام النبلاء: (۲/۲۹۰).
(۲) سير أعلام النبلاء: (۱/۳۸۱).
(۳) سير أعلام النبلاء: (۱/۳۵۷).
(٤) سير أعلام النبلاء: (۲/۳۰٤).

ګرځيدم څه ګورم چې سعد بن الربيع ﷺ سلګو سلګو کې ژوند تر پايه رسوي او د تورې اويا ګوزارونه پرې شوي و، ما ورته پيغام ورسو، هغه وويل: په رسول الله دې سلامونه وي او ورته ووايه چې د جنت بوي راباندې راروان دی، او زما قوم انصارو ته ووايه: چې که دومره ساه درېکې وه چې د سترګو بانه مو پرې رپولی شول او رسول الله ته د مرګ ژوبلې په نيت څوک ورشي الله به مو ونه ښښي، په دې خبرې سره يې ساه ورکړه، الله دې په جنتونو ونازوي[١].

عبدالله بن معاوية الجُمَحِيْ وايي: ما ته عبدالعزيز قَسْمَلِيْ وويل، هغه ته ضرارُ بن عمرو، هغه ته ابورافع ويلي و چې عمر ﷺ روم ته جهادي لښکر واستو، هغوی عبدالله بن حذافة السهمي ﷺ ژوندې ونيو او خپل باچا ته يې بوت، عرض يې وکړ چې دا د محمد ﷺ ملګری دی.

باچا: کولای شې چې نصراني شې او خپله باچاهې درسره سمه نيمه کړم؟

عبدالله بن حذافة السهمي ﷺ: که ما ته ستا د ټولې ټولواکۍ په شمول د عربو ملکيت او باچاهي هم راکړې د سترګو د رپ په اندازه به د محمد ﷺ له دين څخه وانه اوړم.

باچا: بيا دې مرګ دی نو.

عبدالله بن حذافة السهمي ﷺ: کولای شې.

باچا امر وکړ چې راوې ځړوئ او د بدن نږدې پرې ګوزارونه وکړئ خو چې ډېر يې زخمي نه کړئ، په دې حالت کې به ورته بيا هم باچا د نصرانيت دعوت ورکو، خو عبدالله بن حذافة ﷺ يې له منلو څخه کلک انکار کو، باچا امر وکړ چې راښکته يې کړئ، خلکو ته يې وويل: لوی ديګ راوړئ او اوبه پکې واچوئ او ښه يې وخوټکوئ، بيا يې د مسلمانانو دوه بنديان راوستل يو يې پکې ديګ ته وارتو او بيا يې عبدالله بن حذافة السهمي ﷺ ته د نصرانيت پلو ته دعوت ورکړ د انکار سره سره يې وژړل، خلکو باچا ته وويل: هغه خو ژاړي؟ باچا وانګېرل چې ګنې ويريد امر يې وکړ چې ما ته يې راولئ، پوښتنه يې ترې وکړه چې ولې

(١) سير أعلام النبلاء: (٣١٩/١).

ژاړې؟ هغه ورته وویل: په دې ژاړم چې ساه مې یوه ده، او دیک ته د اچولو سره به له منځه بیخي لاړه شي، غوښتل مې چې د بدن د ویښتانو په شمیر ساګانې مې لرلې او بارها د الله پاک په لاره کې په اور کې وتلی وی.

باچا: زما سر ښکل کړه تا به خوشې او رها کړم.

عبدالله بن حذافة السهمي ﵁: زه یواځې که نور ملګري راسره رها کوې؟

باچا: هو هغوی به هم درسره رها کړم.

سر یې ورله ښکل کړ او ټول بندیان یې د عمر ﵁ حضور ته راوستل، او تېره شوې لړې یې ورته هم واوروله، عمر ﵁ وویل: ټول مسلمانان باید د عبدالله ﵁ سر ښکل کړې او د سر په ښکلولو یې پیل زه کوم [1].

حماد بن سلمة وایي: ما ته ثابت او علي بن زید، هغوی ته انس بن مالک ﵁ ویلي و چې ابوطلحة ﵁ دا ایت ولوست ﴿ٱنفِرُواْ خِفَافًا وَثِقَالًا﴾ [سورت توبة: ٤١] د الله پاک په لاره کې سپک او درانه ووځئ.

ابوطلحه وویل: الله زمونږ له بوډاګانو او ځوانانو څخه د هغه په لاره کې وتل غوښتي دي، بېره وکړئ او غزا ته مې تیار کړئ، بچو یې ورته وویل: تا خو د نبي ﷺ، ابوبکر، عمر ﵀ په ملتیا ډېرې غزاګانې کړیدي، ستا له اړخه مونږ غزا ته تیار یو، خو بیا هم غزا ته ولاړ او هلته ومړ، په جزیره کې خلکو دومره ځای پیدا نه کړ چې ښخ یې کړي، اووه ورځې همغسې مړ پروت و او هېڅ بدلون پکې نه و راغلی [2].

خالد بن عبدالله له محمد نه، هغه یې له خپل پلار عمرو نه، هغه یې له محمد نیکه نه روایت کوي چې عمرو بن العاص ویل: زما په مشرۍ د مسلمانانو جنګي لښکر ووت تر دې چې اسکندریې ته ورسیدو، د اسکندرې لوړپوړي وویل: ما ته یو سړی راووځئ چې زه او هغه سره خبرې شریکې کړو، ما وویل: له ما پرته باید نور هېڅ څوک ونه وځي، زه د خپل ترجمان سره ورغلم او هغه سره هم ترجمان ولاړ و، زما او د هغه لپاره دوه ممبره کېښودل شول، هغه وپوښتل: تاسو څوک یاست؟

(١) سير أعلام النبلاء: (١٤/٢).
(٢) سير أعلام النبلاء: (٣٤/٢).

ما ورته وويل: مونږ پر قام باندې عرب يو، مونږ د غنو ازغکو ښښتنان يو، مونږ د الله د کور او حرم والا يو، مونږ په خورا ناوړه او د تنګستيا ژوند کې وو، د ژوند له نګاه نه ډېر خراب تراب وو، وينې او مردارې به مو خوړلې، خپل منځ کې به مو شخړې کولې، د ژوند چې څومره بده مرحله ده مونږه تيروله، په دې جريان کې الله پاک مونږ ته استازی راوليږدو چې په دنياوي لحاظ يې له مونږ څخه هېڅ برتري نه لرله، هغه غږ کړ چې زه الله پاک تاسو ته راستولی يم، په هغه څه يې راته امر وکړ چې بېخي مو نه پېژندل، او د کومو کارونو سره چې عادت وو ورڅخه يې منعه کړوو، مونږ يې دعوت ته په سپکه سترګه وکتل خبره مو ورله ونه منله او ورته مو وويل ته دروغجن يې، زمونږ پرته بل قوم ورته وويل: ته رښتيا خبرې کوې، مونږ د هغه خلکو سره جنګ او جګړه کوو چې ته ورسره جنګ کول غواړې، هغوی زمونږ او مونږ د هغوی په ضد د جنګ ميدان ته ووتو نو پر مونږ غالب او ميدان يې راڅخه وګټه، نزدې پرتو عربانو سره يې هم په دې دين جنګونه وکړل او پرې غالبه شول، که زما نه پاتې وروستو عربو ته ستاسو د ژوند معلومات و هېڅ څوک به نه وو پاتې شوې مګر دلته به راغلي وو، د دې خبرې په اوريدو سره هغه وخندل، او بيا يې وويل: ستاسو پيغمبر درته رښتيا ويلي دي، د ده په څير مونږ ته هم ډېر پيغمبران راغلي وو، تر هغه مو ورله خبره منله چې باچاهان راپکې پيدا شول، د خپلو نفسي غوښتنو سره سم يې راباندې فيصلې کولې او پيغمبري سنت يې پرېښودل، که رښتيا مو د خپل نبي پل خپل کړ په هغه چا به غالبه ياست چې جنګونه درسره کوي، او که زمونږ په څير مو ديني مخالفتونه پيل کړل او د پيغمبر ارشادات مو شا ته کړل نو پوهه شئ چې په بدني او مالي قوت کې مونږ ته هېڅکله رسيدګي نه شئ کولی[١].

امام ابن الجوزي د جعفر بن عبدالله بن اسلم په روايت د ابو عقيل عبدالرحمن بن ثعلبة رضي الله عنه چې بدري صحابي دی او د نبي صلی الله علیه وسلم سره يې په ټولو غزاګانو کې شرکت کړی دی په ترجمه کې وايي: د يمامه په ورځ چې خلکو د جنګ لپاره صفونه تيار کړل لومړي ابو عَقيل و چې ټپي شو، په غشي باندې د دواړو وولو او زړه ترمنځ ولږيد، خو د مرګ ويره ترې نه وه، غشی ترې وويستل شو خو د زخم له کبله يې کيڼ اړخ کمزوری شو او د زخميانو کيمپ ته انتقال کړی شو، کله چې جنګ

(١) سير أعلام النبلاء: (٣/٧٠ – ٧١).

زور واخست مسلمانانو ته شکست واوخت او له زخمي کيمپ څخه هم واوختل، ابو عقيل همغسې له زخم نه ناکراره و، د معن بن عدي اواز يې واوريد چې: اى انصارو! له الله نه وډار شئ او په دښمن راستانه شئ، دغه اواز چې ابوعقيل واوريد وپاڅېد، عبدالله بن عمر رضي الله عنه وايي: ما ورته وويل: هغه انصارو ته اوازونه کوي زخميانو ته يې نه کوي، ابوعقيل ورته وويل: زه هم د انصارو غړى يم، که په خاپوړو ولې نه شي خو دغې اواز ته لبيک وايم، په ښى لاس کې يې توره واخسته او اوازونه يې کول چې: اى انصارو! الله دې په تاسو ورحميږي د حنين د ورځې په څېر پرې راستانه شئ، را مخکې شئ د د ښمنانو پر وړاندې ډال شئ، په رښتيا هم چې دښمن يې مات کړ، دواړه صفونه سره يو بل کې ننوتل او توره بازي شروع شوه.

عبدالله بن عمر رضي الله عنه وايي: ما ابوعقيل وليد چې زخمي لاس ترې غوځ کړى شوى و او په ځمکه پروت و، او څوارلس مرګوني ګوزارونه پرې نور هم شوي وو، په دې کې د الله لوى دښمن مسيلمه هم ووژل شو.

عبدالله بن عمر رضي الله عنه وايي: ما ابوعقيل وليد چې په اخرو سلګو کې د مرګ په حالت کې و، ورته مې وويل: ابوعقيله! هغه راته په کمزوري اواز وويل: دا يم خو غلبه د چا ده؟ ما ورته وويل: مبارک شه د الله لوى دښمن مسيلمه ووژل شو، هغه بره اسمان ته ګوته پورته کړه او د الله حمد يې ووايو، همدا يې اخرنى مرحلې وې چې په شهادت ورسېد.

عبدالله بن عمر رضي الله عنه وايي: زه چې کله راستون شوم، پلار عمر رضي الله عنه ته مې ټوله لړې واوروله، هغه وويل: الله دې پرې رحم وکړي، د شهادت ګټلو لپاره يې ډېرې هڅې کولې، ما ته چې څومره معلومات دي، هغه د نبي صلی الله علیه وسلم د مخکنو او غوره ملګرو له جملې څخه و[1].

محمد بن سعد وايي: واثلة بن الاسقع رضي الله عنه د نبي صلی الله علیه وسلم سره د سهار لمونځ په جماعت سره ادا کړ، د نبي صلی الله علیه وسلم شريف عادت و چې کله به يې سلام وګرځو ټولو ملګرو ته به يې کتل، واثلة رضي الله عنه ته چې يې وکتل ورته يې وويل: ته څنګه دلته راغلى يې؟ هغه ورته وويل: د بيعت کولو لپاره راغلى يم، هغه ورته وويل: ايا په خوښو او په

(١) صفة الصفوة: (٤٦٦/١ –٤٦٧).

ناخوښو ټولو حالتونو کې بیعت کوې؟ واثلة ﷛ ورته وویل: هو. هغه ورته ویل: چې ستا په وسع او توان کې یې په هغه ټولو بیعت کوې؟ هغه ورته وویل: هو. نو اسلام یې راوړ او بیعت یې ورسره وکړ[1].

په دغه ورځو کې نبي ﷺ د تبوک لپاره تیاری نیو، واثلة ﷛ خپل کور ته ستون شو، چې پلار یې ولید ورته یې وویل: اسلام دې راوړ؟ هغه ورته وویل: هو. پلار یې ورته وویل: قسم په الله چې هیڅ کله به درسره خبرې ونه کړم، چې تره یې ترې خبر شو ورڅخه یې وپوښتل: په رښتیا دې اسلام راوړی دی؟ هغه ورته وویل: هو. که څه یې هم له پلار څخه کم ورته خو ورته یې وویل: ستا لپاره مناسب نه و چې له مونږ څخه مخکې شوی وې، چونکه دا خبرې ټولې د واثلة ﷛ خور واورېدې راووتله او په واثلة ﷛ یې سلام واچو، هغه وپوښتل: تا ته سلام چا دروښود؟ هغې ورته وویل: ستا او ستا د پلار او تره خبرې مې واورېدې نو اسلام مې راوړ، هغه ورته وویل: نبي ﷺ د غزا لپاره روان دی، ورور دې د غزا لپاره تیار کړه، خور یې هغه د غزا لپاره تیار کړ، واثلة ﷛ د نبي ﷺ پسې شو خو هغه وتلی و، ډیر لږ خلک پاتې چې هغه هم د روانېدو په حالت کې و، د بنې قینقاع په بازار کې یې غږ لوړ کړ چې: که زه په اس باندې چا له ځان سره بوتلم زما برښه غنیمت د هغه ده!

واثلة ﷛ وایي: دغه مهال مې هیڅ اس او اوښ نه درلود، زیاتوې چې: کعب بن عجرة ﷛ راته اواز وکړ او راته یې وویل: د ورځې او شپې دې ځان سره په سورلۍ ورم ته به زما تابع او برخه به دې زما وي، ما ورته وویل: سمه ده.

واثلة ﷛ وایي: الله دې ورته خیر او برکت ورکړي، په سورلۍ به یې هم تر ډېره حده ورلم او خوراک به یې هم راکو زما بار به یې اوښ ته هم پورته کو، کله چې نبي ﷺ خالد بن الولید ﷛ دومة الجندل ته واستو زه او کعب دواړه ورسره ولاړو، ډیر غنیمتونه موتر لاسه کړل خو چې خالد بن ولید ﷛ غنیمتونه زمونږ ترمنځ وویشل زما پکې شپږ ځواني اوښې ورسیدې، شپږ واړه اوښې مې راوستې او د کعب ﷛ خیمې مخې ته ودرېدم ورته مې اواز وکړ چې: راووځه او اوښان دې واخله، هغه

(۱) الطبقات الکبری دابن سعد لیکنه: (۲۳۲/۱).

راووت او خندل يې راته يې وويل: الله دې درله پکې خير او برکت واچوي، په دې خاطر مې په اوښه بار نه يې راوستى چې عوض او بدل درنه واخلم[1].

۞ عبدالله بن قيس د ابو امية الغفاري نه روايت کوي هغه وايي: مونږ يوې غزا ته تللي وو د ښمن سره د مخامخ کېدو اوازه شوه، خلکو خپلو صفونو ته ځانونه ورسول، زما مخې ته يو سړى په اس سپور او ځان ته يې ويل: په فلانۍ غزا کې دې راته ويل چې ښځه او بچيان درپه غاړه دي ستا مې ومنله، په فلانۍ غزا کې دې راته وويل چې ښځه او بچيان در په غاړه دي ستا مې ومنله او بېرته ولاړم، په رب لايزال مې دې قسم وي چې نن به دې هرومرو الله ته وړاندې کوم، د هغه خوښه ده چې اخلي دې او که پرېږدي دې، ما وويل: زه به نن د دې سړي مقابله ګورم چې څه کوي؟ ورته کتل مې چې خلکو په دښمن حمله کوله دا به يې په لومړنيو خلکو کې و، د دښمن په وړاندې لږ زره کمزوري شول چې کتل مې دا په غشو ورونکو کې و، خلکو بيا په دښمن حمله وکړه چې ومې کتل دا يې په لومړنيو حمله کونکو کې و، بيا خلک راروسته شول دا په غشو ورونکو کې و، تر هغه په خرپ ترپ مشغول و چې شهيد شو، زه ورغلم پر اس او دى دواړو باندې له شپېتو نه زيات غشي او نېزې ورېدلې وې[2].

۞ عبدالله بن مبارک ته سرِّي بن يحيې، هغه ته علاء بن هلال ويلي و چې يو سړي صَلَةَ رحمه الله ته وويل: خوب مې وليد چې ما ته يوه او تا ته دوه د شهدو موم درکړل شي، هغه ورته وويل: زه، زما زوى، او ته به شهيدان کېږو، د يزيد بن زياد د واک په ورځو کې په سجستان کې د ترکانو سره جهادي لړې پېل شوه، ترکانو شکست وخوړ، صَلَةَ خپل زوى ته وويل: بچيه که دې خوښه وي مور ته دې ولاړ شه، هغه ورته وويل: ځان لپاره خېر غواړې او ما له خېر څخه کور ته ستنوې؟ هغه ورته وويل: راځه او د جنګ ميدان ته مخکې شه، زوي يې تر هغه وجنګېد چې وويشتل شو خلک پرې راغونډ شو، صَلَة چې خپله ډېر نښه باز هم و، راغونډ شوي خلک يې ترې د غشو په ورولو ترې تم کړل، د جسد ترڅنګ يې ودرېد او تر هغه يې جنګ وکړ چې خپله هم شهيد شو[3].

---

(۱) صفة الصفوة: (۱/٦٧٤ - ٦٧٦).

(۲) صفة الصفوة: (٤/٤٢١).

(۳) سير أعلام النبلاء: (۳/٤٩٩).

۞ اصمعي وايي: کله چې قتيبة بن مسلم د ترکانو په ضد جنګي صفونه برابر کړل، د ترکانو له جنګې ليکو څخه ډار پيدا شو د محمد بن واسع هکله يې وپوښتل چې څه شو؟ ورته وويل شول: د ښې اړخ جنګي ليکې کې ناست د غشو لينده يې تياره کړې او په ګوته باندې بره اسمان ته اشارې کوي، قتيبة وويل: دغه ګوته مې د زرو تورو او د زرو تنکي ځوانانو څخه خوښه ده(١).

۞ حيوة يوه ورځ د مصر نواب ته وويل: هميشه لپاره مصر په سلاح سمبال ساته، يو اړخ ته مو قبطي دی هيڅ معلومات يې نشته چې کله به وعدې ماتوي، او بل اړخ ته مو حبشيان دي معلومه نه ده چې په کومه شپه به راباندې يرغل کوي، او بل اړخ ته مو روميان دي هيڅ باور پرې نشته چې په کلې کور به مو کله راخيژي، او له بل اړخ نه راته بربر پراته دي هيڅ اعتماد پرې نشته چې کله يې غصه راپاريږي(٢)؟

۞ محمد بن عمران د حاتم الاصم نه روايت کوي چې مونږ د شقيق سره د ترکانو په ضد جګړه کې صفونه کې ودريدو، دغه ورځ د سرونو د غوځيدو، د تورو د ماتيدو، او د غشو د وريدو و ورځ وه، شقيق راته وويل: څه وايې ايا نن درته د واده په څير شپه نه ښکاري؟ ما ورته وويل: نه دا شپه چرته د واده د شپې سره سمون خوري، هغه وويل: لوړه په رب لايزال چې دې شپې راته د واده شپه رايادة کړه، د شپې په مهال د دواړو صفونو ترمنځ په خپل د پوستکي جوړ ډال باندې ويده شو تر دې چې خړهار يې شروع کړل، زه يو ترکي ونيولم او د ذبحه کولو لپاره يې په ځمکه واچولم چې څنګه يې برچه له موزې څخه راويسته چا په غشي وويشت او زمونږ نه مخکې مردار شو(٣).

۞ امام ذهبي د امام ابوبکر النابلسي په ترجمه کې له ابو ذر الحافظ نه نقلوي چې بنو عبيدو بندي کړ او د سنيت له کبله يې په دار کړ، امام نابلسي نه پوستکی په ژوندينه ويستل کيده او ژړل يې او دا کلمات يې ويل: ﴿كَانَ ذَٰلِكَ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَسۡطُورٗا﴾ [سورت أسراء: ٥٨].

---

(١) سير أعلام النبلاء: (١٢١/٦).
(٢) سير أعلام النبلاء: (٤٠٥/٦).
(٣) سير أعلام النبلاء: (٣١٤/٩).

دا پېښنه په تقدير کې ليکل شوې وه.

ابو الفرج ابن الجوزي رحمه الله د امام نابلسي په ترجمه کې وايي: امام نابلسي په اکواخ کې میشت و چې جنګي قاید جوهر ونیو او د مصر عُبیدي باچا مخې ته یې راوست او ورته یې وویل: تا رښتیا ویلي دي چې چا سره لس غشي وي یو دې په روم او نهه دې په مونږ وورو؟ امام نابلسي ورته وویل: نا داسې مې نه دي ویلې ما داسې ویلي دي چې: چا سره لس غشي وي ټول دې په تاسو وورو، تاسو خو دین ردوبدل کړ، نیکان خلک مو ووژل، او دالوهیت د نُوْر دعواګانې مو وکړې، د مصر عبیدي باچا ورپسې توره راوویسته او ګوزارونه یې پرې وکړل، بیا یې یهودي ته لاس په لاس حواله کړ او څرمن یې ترې وویسته[١].

د نورالدین محمود زنګي په ترجمه کې ذهبي رحمه الله له ابن الاثیر رحمه الله نه نقلوي چې: نورالدین چرته هم وریښم او سره زر نه دي اغوستي، د خپل واک په دور کې یې په بازارونو کې د شرابو پلورل منع کړي ول، ذهبي وايي: زه خو خبر شوی یم چې د باچاهانو لباس او د سرو زرو یو امیل یې اچولی و خو ډېرې روژې به یې نیولې او د شپې او ورځې ځانګړې دعاګانې به یې ویلې، د بال لوبه به یې زیاته کوله، یو فقیر ورته وویل چې لوبې درسره نه ښائیږي، هغه ورته وویل: زما هم ورڅخه لوبې کول موخه نه دي، چونکه مونږ اوسمهال د دښمن سره په سرحد پراته یو، دا چې ناګهانه اواز شي نو اسونه به د خرپ ترپ سره اشنا وي.

یو چا ورته له مصر څخه د سروزرو پګړۍ هدیه کړې وه نو هغه ابن حمویه د صوفیانو لوي شیخ ته ورکړه چې په زر دینار خرڅه شوه[٢].

ذهبي یې په ترجمه کې وايي: نیسابوري قطب ورته یوه ورځ وویل: ستا دې په الله قسم وي چې نور خپله غزاګانو ته مه ځه، که په کومه غزا کې شهید شوې پاتې مسلمانان به له تورې څخه خلاص نه شي او دښمن به یې مړه کړي، هغه ورته وویل: نا بلکې الله پاک له ما څخه وړاندې هم خلک او کلي له دښمن نه ساتلي دي او وروسته به یې هم وساتي[٣].

(١) سير أعلام النبلاء: (١٦/١٤٨ – ١٤٩).
(٢) سير أعلام النبلاء: (٢٠/٥٣٥).
(٣) سير أعلام النبلاء: (٢٠/٥٣٥).

عبدالرحمن بن مغراء الدوسي له يو خزاعي نه نقلوي چې د قادسې په ورځ خنساء رضي الله عنها خپل څلور واړه بچيان راوغوښتل او ورته يې وويل: زما بچو! پخپله خوښه مو اسلام راوړی او هجرت مو کړی دی، پخپل ټاټوبي کې درباندې نه کور تنګ شوی و او نه مو د قحط له کبله کورونه پرېښي دي او نه مو په هجرت نوره څه طمع توقع کړې ده، لوړه په رب لا يزال لکه څنګه چې د يوې مور بچي ياست دغسې د يو پلار زامن هم ياست، نه مې ستاسو له پلار سره خيانت کړی دی او نه مې ستاسو د ماما شرم غوښتی دی، او نه مې ستاسو نسب رد او بدل کړی دی، او نه خو مې ستاسو عزت تر پښو لاندې کړی دی، او نه مې په ژوند کې ستاسو ناروا روا کړېده، د دښمن سره د سبا ورځې د مقابلې لپاره چې ان شاء الله ولاړ شئ له الله پاک څخه مرسته او کومک وغواړئ، چې د جنګ ډګر کله ښه ګرم شي منځ ته به ورشئ، د د ښمن د ځوانانو سره به کلکه مقابله وکړئ، د قيامت په ورځ به په کرامت او شرافت، په کاميابۍ او کامرانۍ، په سلامت او غنيمتونو به فائز او کامياب شئ.

ځوانان هلکان بچې يې له اړخ څخه په داسې حالت کې راستانه شول چې خبرې ته يې ورله غاړه کېښوده، نصيحت يې ورله واورېد، د دښمنانو سره د مخامخ کېدو په مهال يې مشرې زوی وويل:

يَا إخْوَتِي انَّ العَجُوزَ النَّاصِحَهْ قَدْ نَصَحَتْنَا إذْ دَعَتْنَا البَارِحَهْ
مَقَالَةً ذَاتَ بَيَانٍ وَاضِحَهْ فَبَاكِرُوا الحَرْبَ الضَّرُوسَ الكَالِحَهْ
وَإنَّمَا تَلْقَوْنَ عِنْدَ الصَّائِحَهْ مِنْ آلِ سَاسَانَ الكِلَابَ النَّابِحَهْ
قَدْ ايْقَنُوا مِنْكُمْ بِوَقْعِ الجَائِحَهْ وَانْتُمُ بَيْنَ حَيَاةٍ صَالِحَهْ
اوْ مَيْتَةٍ تُورِثُ غُنْمًا رَابِحَهْ

ژباړه: ای ورونو! پرون مو خير خواه مور د نصيحت لپاره راغوښتي ول او نصيحت يې راته وکړ.

ښکاره او څرګند نصحيت يې راته وکړ چې د سبا ورځې لپاره د ژامې ويستونکي جنګ لپاره وختي ولاړ شئ.

د سبا ورځې له اذان سره به له ساساني غپېدونکو سپيو سره مخامخ کيږئ.

هغوی په دې يقين دي چې ستاسو له لاسه به ورته کار کېږي چنه ستونزه راولا ړیږي او د دغې برسېره به تاسو په روغه رمټه زندګۍ کې هم ياست.

او يا به په داسې مرګ مړه شئ چې پايله يې توله ګټه او فايده ده.

بيا خپله د جنګ لومړي ډګر ته ورغی تر هغه يې جنګي مبارزه وکړه چې شهيد شو.

وريسې دوهم ورور يې ملا وتړله او شعر يې ووايو چې:

| | |
|---|---|
| وَالـلـهِ لَا نَـعْـصِـيْ الْـعَـجُـوْزَ حَـرْفـاً | قَـدْ امَـرَتْـنَـا حَـدَبـاً وَعَـطْـفـاً |
| نُـصْـحـاً وَبِـرّاً صَـادِقـاً وَلُـطْـفـاً | فَـبَـادِرُوْا الْحَـرْبَ الـضَّـرُوْسَ زَحْـفـاً |
| حَـتَّـى تَـلـفُّـوْا آلَ كِـسْـرَى لَـفَّـا | اوْ تَـكْـشِـفُـوْهُـمْ عَـنْ حِـمَـاكُـمْ كَشْـفَـا |
| إنَّـا نَـرى الـتَّـقْـصِـيْـرَ مِـنْـكُـمْ ضُـعْـفـاً | وَالْـقَـتْـلَ فِـيْـهِـمْ نَـجـدَةً وَزُلْـفَـى |

ژباړه: : لوړه په رب لايزال چې د بوډۍ به د يو حرف قدرې سرغړونه هم ونه کړو، هغې مونږ ته په ډېرې مينې او محبت، په رښتيا، د فضل او مهربانۍ له مخې وصيت وکړ، د ژامې ماتونکې جنګ سحنې ته به د جنګ په مېړانه حرکت ورځو.

يا خو به کسرويان (دکسرا بچې) سم ټول راونغاړئ او يا به يې هم د سم شکست سره مخ کړئ.

له تاسو څخه کوتاهي به ستاسو د کمزورۍ نښه وي، او ستاسو په لاس د کسرويانو مړينه او عام وژنه د مرستې او الله ته د نزديکت نښه ده.

بل وريسې مېدان ته راودانګل او ويويل:

| | |
|---|---|
| لَـسْـتَ لِـخَـنْـسَـاءَ وَلَا لِـلاخْـزَمِ | وَلاَ لِـعَـمْـرٍو ذِيْ الـسَّـنَـاءِ الْاقَـدَمِ |
| اِنْ لَّـمْ تَـزُرْ فِـيْ آلِ جَـمْـعِ الْاعْـجَـمِ | جَـمْـعَ ابِـيْ سَـاسَـانَ جَـمْـعِ رُسْـتُـمِ |
| بِـكُـلِّ مَـحْـمُـوْدِ الـلِّـقَـاءِ ضَـيْـغَـمِ | مَـاضٍ عَلـى الْـهَـوْلِ خَـضْـمَ خَـضْـرَمِ |
| اِمَّــا لِـقَـهْـرٍ عَـاجِـلٍ اوْ مَـغْـنَـمِ | اوْ لِـحَـيَـاةٍ فِـيْ الْـسَّـبِـيْـلِ الأكْـرَمِ |

تَفُوْزُ فِيْهَا بِالْنَّصِيْبِ الْاعْظَمِ

ژباړه: تر هغه به د خنساء، د اخزم او د قابل شرافت او بې داغه ماضي لرونکي عمرو زوی به نه يې چې د ساسانيانو او رستم راغونډو شوو لښکرو سره مخامخ نه شې.

د زمري په څېر قابل صفت جنګ وکړه او د دښمن په صفونو کې سم وردننه شه.

يا خو به عاجله برخه غنيمت لاس ته راوړې او يا به هم په خورا محترمه او د قدر وړ لاره کې تل ژوندي (شهيد) شي، او د ډېرې لوې او تر ټولو سترې برخې څښتن به شې.

ورپسې ورور يې وويل:

| | |
|---|---|
| إِنَّ الْعَجُوْزَ ذَاتَ حَزْمٍ وَجَلَدِ | وَالنَّظَرِ الأَوْفَقِ وَالرَّأْيِ السَّدَدِ |
| قَدْ امَرَتْنَا بِالسَّدَادِ وَالرَّشَدِ | نَصِيْحَةً مِنْهَا وَبَرًّا بِالْوَلَدِ |
| فَبَاكِرُوْا الحَرْبَ نَمَاءً فِيْ العَدَدِ | إِمَّا لِقَهْرٍ وَاحْتِيَازٍ لِلْبَلَدِ |
| اوْ مَيْتَةٌ تُوْرِثُ خُلْداً لِلأَبَدِ | فِيْ جَنَّةِ الفِرْدَوْسِ فِيْ عَيْشٍ رَغَدِ |

ژباړه: د بوډۍ ښځې خبرې د ثبات او ځوانۍ، د سم دم نظر او قوی رايې خبرې وې.

هغې مونږ ته په بچي باندې د رحم له مخې د کامل نصيحت او پيرزو او د زيرکتيا له مخې په سربښندنې امر کړی دی.

سهار وختي غزا ته ولاړ شئ او د مسلمانانو شمير په ځانونو اضافه کړئ، يا خو به برى راوړو ميدان به وګټو، او يا به په داسې مرګ مړه شو چې د تل او هميشه لپاره ترې په جنة الفردوس کې د قدر او احترام او د عزت او شرافت زندګي په لاس راځي.

ټولو بچو په دومره مېړانه جهاد او غزا وکړه چې الله پاک مسلمانانو ته برى ورکړ، د هر غازي دوه دوه زره ديناره ورسېدل، هر يو به راوړل او په غېږه کې به يې ورته اچول، خو ولې خنساء رضي الله عنها به يې بېرته د هغو ترمنځ لپه لپه ويشل، هېڅ يو ترې هم بې درهمه پاتې نه شو[1].

(١) صفة الصفوة: (٣٨٥/٤ - ٣٨٧).

# په ناورينو د سلفو صالحينو د زغم نمونې

اعمش د شهر بن حوشب نه، هغه د حارث بن عميرة نه روايت کوي چې معاذ ﵁ کله مړ کېده زه ورسره ناست وم، بې هوشه به شو او بېرته به په هوش کې راغی او دا به يې ويل: چې هر څومره مې ساه بنده کړې، ستا په عزت مې دې قسم وي چې له تا سره مې مينه ده[1].

مبرّد روايت کوي چې حسن بن علي ته چا وويل چې ابو ذر ﵁ وايي: له مالدارۍ څخه راته ناداري، له روغتيا څخه راته ناجوړتيا بهتره ده، هغه وويل: الله دې په ابوذر ورحميږي خو زه وايم: څوک چې د الله په تقديري برخې توکل وکړي د هيڅ شي تمنا نه کوي، او دا په قضا او تقدير باندې د نهايت رضا حدود دي[2].

وهب بن منبه وايي: عيسی ﵇ حوارييونو ته وويل: په تاسو کې په ستونزو ډېر بې صبره هغه دی چې د دنيا سره ډېره مينه لري[3].

شعبي روايت کوي چې شريح القاضي وايي: ما ته چې کله تکليف راورسيږي زه پرې د الله پاک څلور ځله حمد او ثنا وايم، ثنا يې په دې وايم چې ښه ده چې تکليف له دې څخه لوی نه دی، او په دې يې هم ثنا وايم چې د صبر او حوصلې توان يې راکړ، په دې يې هم ثنا وايم چې د ثواب امېد پکې لرم، او په دې يې ثنا وايم چې ښه ده چې ديني مصيب نه دی[4].

غسان بن المفضل الغلابي وايي چې ځينو ملګرو مې راته وويل: يونس بن عبيد ته يو سړی راغی او د خپل د تنګ ژوند او رزق او بې وسۍ نه يې ورته شکايتونه شروع کړل چې ډېر غمجن دی.

---

(١) سير أعلام النبلاء: (١/٤٦٠).
(٢) سير أعلام النبلاء: (٣/٢٦٢).
(٣) سير أعلام النبلاء: (٤/٥٥١).
(٤) سير أعلام النبلاء: (١/١٠٥).

يونس بن عبيد: ايا سترګې دې په يو لاک خرڅوې؟

سړی: نا.

يونس بن عبيد: غوږونه دې په يو لاک خرڅوې؟

سړی: نا.

يونس بن عبيد: ژبه دې په يو لاک خرڅوې؟

سړی: نا.

يونس بن عبيد: عقل دې په يو لاک خرڅوې؟

سړی: نا.

يونس بن عبيد ورته داسې ډېر د الله پاک نعمتونه ياد کړل، بيا يې ورته وويل: د لکونو ماليت خښتن يې او بيا هم د ناداری ګيلې کوې؟[1]

اشعث بن سعيد وايي: ابن عون به ويل: تر هغه انسان د رضا حقيقت ته نه شي رسېدلی تر څو د فقر په حالت داسې خوشحاله شي لکه د مالدارۍ په حالت چې خوشحالېږي، ته هغه مهال ولې غصه کېږې چې د الله پاک نه غوښتنې کوې او قضا ستا د نفسي غوښتنو ضد وي؟ شايد ته چې څه غواړې ستا هلاکت به پکې وي، او ولې هغه قضا دروسته بولې چې ستا د نفسي غوښتنو سره سمون خوري، نه خو دې د ځان سره انصاف وکړ او نه هم د رضا تر دروازې ورسېدې [2]

احمد بن عصام د زهير بن نعيم نه نقلوي چې دين په دوه شيانو بشپړ کېدای شي: صبر او يقين، که يقين وي او صبر نه وي ايمان نيمګړی دی، او که صبر وي يقين نه وي هم ايمان نمګړی دی، د دې لپاره ابوالدرداء رضي الله عنه ښايسته مثال بيان کړی دی چې: يقين او صبر دواړه سره د دوو زميندارو مثال لري چې ځمکه اړوي، چې يو کيني ورسره مل هم کيني [3].

(١) سير أعلام النبلاء: (٦/٢٩٢).
(٢) صفة الصفوة: (٣/٣١١).
(٣) صفة الصفوة: (٤/٨).

عثمان بن الهيثم وايي: د بنوسعد ښځه په بصره کې د عبيد الله بن زياد يو جنګي قايد له چت ښخه راپرېوت او خپې يې ماتې شوې.

ابو قلابة يې پوښتنې ته راغی او ورته يې وويل: کېدای شي چې په دې کې به دې خير وي.

هغه ورته وويل: ای ابوقلابة! د خپو په ماتېدو کې به څه خير وي؟

ابوقلابة ورته وويل: ښه ده چې الله پاک دې نور اندامونه سالم ساتلي او مات شوي نه دي.

درې ورځې وروسته د ابن زياد ليک ورته راغی چې د حسين سره جنګ ته ولاړ شه.

جنګي قومندان استازي ته وويل: زما تکليف خو ته خپلهويني، زه چرته جنګ ته تللی شم؟ اووه ورځې وروسته خبر راغی چې حسين رضي الله عنه قتل شو، سړي وويل: په ابوقلابه دې الله رحم وکړي، په رښتيا چې د خپو په ماتېدو کې مې خير و [1].

(۱) صفة الصفوة: (۳/۲۳۸).



# په دین کې له فتنې څخه د سلفو صالحینو ځان ژغورنه

عبدالکریم الجزري روایت کوي چې ابوعبید بن محمد بن عمار بن یاسر وایي: مشرکانو عمار بن یاسر رضي الله عنهما یو ځل تر هغه نه پرېښود ترڅو د رسول الله ﷺ اړوند بدې خبرې ونه کړي او د قریشو معبودان په ښه صفتونو یاد نه کړي، کله چې د نبي ﷺ خواته راغی ورڅخه یې وپوښتل: شا ته دې څه پرېښودل؟ هغه ورته وویل: د الله رسوله! په شر او فتنه کې واقع یم، له مشرکانو څخه هله راپورته شوم چې ستا اړوند مې بدې خبرې وکړې او د هغوی معبودان مې په ښو صفتونو یاد کړل.

نبي ﷺ ورته وویل: زړه دې څه وایي؟ عمار رضي الله عنه ورته وویل: په ایمان مطمئن او ډک دی، نبي ﷺ ورته وویل: که بیا یې زورولې بیا ورته دغه خبرې وکړه[١].

شعبة او هشام دواړه د قتادة نه، هغه د یونس بن جبیر نه روایت کوي چې جندب رضي الله عنه مو رخصتوو نو ورته مو وویل: نصیحت راته وکړه، هغه وویل: له الله پاک څخه ډېر وډار شئ، د قرانکریم سره ښه تعلق ولرئ ځکه چې قرانکریم د تورې شپې رڼا او د رڼا ورځې لارښوونکی دی، د تکلیف او فقر په حالتونو کې پرې عمل وکړئ، که مو ازمېښت مخې ته راشي په مال دولت یې له منځه یوسه خو دین دې محفوظ وساته، که ستونزې لا پسې ورډه شوه په مال او ځان دې مصیبب لرې کړه خو دین دې محفوظ وساته، هغه څوک بې ودانه دي چې دین یې نړېدلی وي، او له چا څخه چې دین واخستل شي هېڅ سرمایه نه لري، جنت ته له تګ وروسته هېڅ فقر او فاقت نشته، او اور ته د تګ وروسته هېڅ سرمایه او شتمنې په کار نه راځي[٢].

ابوهشام الرفاعي وایي: ابوبکر بن عیاش حسن بن الحسن ته په مدینه کې

---

(١) سیر أعلام النبلاء: (٤١١/١). او حدیث امام حاکم په (٣٥٧/٢) کې روایت کړی دی او صحیح یې ورته ویلي دي امام ذهبي ورسره د حدیث په تصحیح موافقه کړېده، ابن سعد هم پخپل طبقات: (١٨٩/٣) کې، أبو نعیم په حلیة الأولیاء: (١٤٠/١) کې او امام طبري په (١٢٢/١٤) پخپل تفسیر کې روایت کړی دی.

(٢) سیر أعلام النبلاء: (١٧٤/٣).

وویل: مدینه کې دې څومره فتنه دې جوړه کړه؟ هغه ورته وویل: ولې په کومه فتنه کې دې لیدلی یم؟ هغه ورته وویل: هغوی دې لاسونه ښکلول او تا نه منعه کول[1].

صفوان بن صالح وايي: ما ته عبدالله بن کثیر دمشقي، هغه ته عبدالرحمن بن یزید بن جابر ویلي و چې مونږ د رجاء بن حیوة سره ناست وو او د نعمتونو د شکر اړوند مو څه یادونه وکړه، هغه وویل: د الله د نعمتونو شکریه هېڅ څوک هم نه شي ادا کولی، زمونږ نه وروسته یو سړی چې په چپن کې یې ځان نغښتی و وویل: ایا امیرالمؤمنین یې هم نه شي ادا کولی؟

رجاء وویل: هو امیرالمؤمنین یې هم نه شي ادا کولی.

مونږ ورته وویل: د امیرالمؤمنین د یادولو دلته څه اړتیا وه؟ هغه لکه عام سړی دی؟ مونږ بیخي د سړي په غم کې نه وو، خو چې رجاء وکتل سړی یې په نظر رانغی، نو ویویل: د چپن والا له اړخه به درته هرومرو څوک راځي خو که څوک راغلل او قسمونه یې درکول قسمونه ورته وخورئ چې مونږ څه نه دي ویلي، په دې جریان کې پولیس راغلل او ویویل: ای رجاء! د امیرالمؤمنین ذکر چې راشي ولې ورله دلیل نه نیسئ؟ هغه ورته وویل: ولې د امیرالمؤمنینپه کوم ځای کې ذکر راغلی دی؟ هغه ورته وویل: تاسو چې خپلمنځۍ خبرو کې وویل چې د الله د نعتمنونو شکریه هېڅ څوک هم نه شي ادا کولی، تاسو ته وویل شول چې امیرالمؤمنین یې هم نه شي ادا کولی؟ تا وویل: امیرالمؤمنین خو عام سړی دی! ما ورته وویل: خبره داسې نه وه، هغه وویل: ستا دې په الله قسم وي، ما وویل: هو زما دې په الله قسم وي، امیرالمؤمنین سړی راوغوښت او اویا دورې یې ووهو، سړی په داسې حالت کې راووت چې په وینو لړل شوی و او ویویل: رجاء بن حیوة! ته لا عالم یې او داسې دې وکړ؟ ما ورته وویل: د مسلمان د ویني نه ستا په شاه او یا دورې ډېرې بهترې دي.

ابن جابر وايي: له دې وروسته چې به رجاء بن حیوة کله هم په مجلس کې کښېناست ویل به یې: د چپن والا نه ځان ساتئ[2].

(۱) سیر أعلام النبلاء: (۸/۵۰۰). د ابوبکر مشهور نوم شعبة دی، او په علم القراءت کې د عاصم په روایت د حفص مساوي راوي دی.
(۲) سیر أعلام النبلاء: (۴/۵۶۱).

حنبل وايي: اسحاق بن ابراهيم چې کله ابو عبدالله احمد بن حنبل او ابن معين د قران کريم په مخلوقيت مجبوره کړل، زه د دواړو سره د عفان په کور کې مخامخ شوم، پر دغې فتنې لومړی عفان ازمول شوی و، د ازميښت د سبا په ورځ ترې يحيي بن معين په داسې حالت کې پوښتنه وکړه چې د ابو عبدالله احمد بن حنبل په شمول مونږ هم ورسره ناست وو چې اسحاق درته څه وويل: هغه ورته وويل: ابو زکريا! ستا او ستا د ملګرو مخونه مې نه دي تور کړي، هيڅ پوښتنه مې ورله نه ده جواب کړې.

ابن معين: رويه يې درسره څنګه وه؟

عفان: زه يې ځان ته وغوښتم او له جزېرې څخه د مامون راستول شوی ليک يې راته پړاو کړ، ورته يې ليکلي و: عفان تر هغه مجبوره کړه او و يې وهه تر څو قران ته مخلوق ووايي، که د قران په مخلوقيت يې اقرار وکړ په خپل حالت يې پرېږده، او که زما د ليک منلو څخه يې انکار وکړ نو ددولت لخوا پرې ټاکل شوې تنخوا بنده کړه هېره دې نه وي چې مامون به عفان ته هر مياشت پنځه سوه درهم ورکول اسحاق چې کله د مامون د راستولي ليک څخه وزګار شو ما ته يې وويل: څه فکر لرې؟

ما ورته د ﴿قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ﴾ [سورت اخلاص: ١] ټول سورت ولوست او ورته مې وويل: ايا دا مخلوق دی؟

اسحاق: ګرانه! بس اميرالمؤمنين وايي چې که انکار يې وکړ او خبره يې ونه منله حکومتي معاش پرې بند کړه.

ما ورته وويل: ﴿وَفِى ٱلسَّمَآءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ﴾ [سورت ذاريات: ٢٢]

ژباړه: ستاسو رزق او نور هغه څه چې وعده يې درسره کيږي ټول په اسمان کې دي.

بيا رانه نور غلی شو، او زه ترې راستون شوم، په دې خبرو ابن معين او احمد بن حنبل ډېر زيات خوشحاله شول[1].

هيثم بن خلَف وايي: ما ته محمد بن سُويد الطحان وويل: مونږ د عاصم بن

(١) سير أعلام النبلاء: (١٠/٢٤٤).

علي سره وو، ابو عبيد او ابراهيم بن ابي الليث د خپل ټول جماعت په شمول راسره وو، مونږ د احمد بن حنبل وهلو ته کتل، عاصم وويل: داسې څوک نشته چې ما سره ولاړ شي او د دې سړي سره خبره وکړو؟ خو هيڅ چا جواب ورنه کړ، ابن ابي الليث ورته وويل: دومره حوصله وکړه چې زه کور ته ولاړ شم او لورګانو ته مې وصيت وکړم، مونږ داسې وانګېرله چې د ځان لپاره به د کفن او خوشبويي غم خوري، بېرته راغی او ويويل: زه خو مې لورګانو ته ورغلم هغوی په ژړا شوې! په دې جريان له واسط څخه عاصم ته خپلو دواړو لورګانو له پلوه ليک راغی په کې يې ليکلي و: مونږ خبر شوي يو چې چارواکی احمد بن حنبل په دې ټکوي چې قران ته مخلوق ووايي، له الله پاک څخه وډار شه او خبرې ته يې غاړه مه ږده، ستا د مړينې خبر به راته له دې څخه ډېر بهتر وي چې د چارواکي خبرې ته غاړه کېږدې[1].

ابو جعفر الانباري وايي: احمد بن حنبل چې کله مامون ته بوتلل شو، زه خبر شوم، ولاړم او په فرات ورتېر شوم، څه ګورم چې په حجره کې ناست دی، سلام مې پرې وکړ، هغه راته وويل: ابو جعفره! ځان دې ډېر تکليف کړ چې راغلې! ما ورته وويل: نن ورځ ته مشرتابه يې او پاتې خلک به په تا پسې اقتدا کوي، لوړه په رب لايزال چې که د قران د مخلوقيت خبره دې ومنله ستا له کبله به ورته ډېر خلک غاړه کيږدي، او که ورڅخه دې انکار وکړ، نو ستا له امله به ورڅخه ډېر خلک انکاري شي، خو که مامون دې مړ نه کړي خپله مړ کېږې، مرګ هرومرو دی، له الله پاک څخه وډار شه او د مامون خبرې ته غاړه مه ږده.

احمد بن حنبل په ژړا شو او ويل يې: ماشاء الله. بيا يې وويل: ابو جعفره! خبره دې راته بيا وکړه. ما ورته خبره بيا تکرار کړه، هغه بيا وويل: ماشاء الله[2].

صالح بن احمد وايي: له بغداد څخه زما پلار او محمد بن نوح لاس تړلي بوتلل شول، تر انباره پورې ورسره مونږ لاړو، ابوبکر الاحول زما له پلار څخه وپوښتل: که مرګ درته د تورې له مخې راشي ورته تيار يې که نه انکار کوې؟ هغه ورته وويل: مرګ ته تيار يم خو قران ته مخلوق نه وايم.

(١) سير أعلام النبلاء: (٩/٢٦٤).
(٢) سير أعلام النبلاء: (١١/٢٣٩).

بيا دواړه بوتلل شول، له پلار څخه مې واورېدل: د (بغداد) او (رقه) ترمنځ پرته د مالک بن طوق ساحې ته بوتلل شول او له هغه ځايه مو له شپې مزل شروع کړ، يو سړی مو مخې ته راغی او وې پوښتل: احمد بن حنبل څوک دی؟ چا ورته وويل: دا دی. اوښ والا ته يې وويل: لږ تم شه او په قلار ځه، بيا يې وويل: ای احمده! هېڅ پروا مه کوه، که ووژل شې جنت ته به ولاړ شې! بيا يې راته وويل: په الله مې سپارلې يې او لاړ.

ما وپوښتل چې دا څوک دی؟ چا راته وويل: دا د ربيعه قبيلې غړی دی نېک او ښه سړی دی، په بانډو کې د وړيو کار کوي[١].

احمد بن الحواري وايي: ما ته ابراهيم بن عبدالله وويل چې احمد بن حنبل ويل: زما په ازمېښت کې له لېدو ورسته راته هېڅ چا دومره قوي خبره نه ده کړې لکه يو بانډچي چې راته کړې ده، هغه راته وويل: که مړ شوې شهيد يې، او که ژوندې وې باقدره او هر څوک به دې ښه وايي، په دې خبرو مې زړه ډېر زيات قوي او پياوړی شو[٢].

حنبل وايي: ابو عبدالله وويل: د علم سره سم او په کم عمرې (کشرې) کې د محمد بن نوح په څېر باعزمه او د قوي عقيدې څښتن ما نه دی ليدلی، اميد مې دی چې د ژوند پای به يې نېکه وه.

ما ته يې يوه ورځ وويل: ابو عبدالله! له الله څخه وډار شه، ته ګوره زما په څېر نه يې، تا پسې خلک اقتدا کوي، ټولو خلکو تا ته ورمېږونه اوږده کړي دي چې ته به څه وايې؟ له الله څخه وډار شه او په دين کلک ودرېږه، بيا مړ شو، ما پرې د جنازې لمونځ وکړ او خاورو ته مې وسپارو[٣].

(١) سير أعلام النبلاء: (١١/٢٤١)

(٢) سير أعلام النبلاء: (١١/٢٤١).

(٣) سير أعلام النبلاء: (١١/٢٤٢).



# خپل منځنی فتنو کې د سلفو صالحینو دریځ

ابو نعيم وايي: ما ته حاكم ابو احمد، هغه ته ابن خزيمة، هغه ته عمران بن موسى، هغه ته عبدالوارث، هغه ته محمد بن جُحَادة، هغه ته نعيم بن ابي هند، هغه ته ابو حازم، هغه ته حسين بن خارجة اشجعي ويلي و چې: عثمان بن عفان رضي الله عنه چې كله ووژل شو، فتنه راځخه تاو راتاو شوه، ما له الله پاک وغوښتل ای الله! ما ته دومره حق وښایه چې منګولې پرې ښخې کړم، په خوب کې مې دنيا او اخرت وليد چې ترمنځ يې ديوال وي، په دېوال ورپورته شم څه خلک راته وواېي: مونږ ملائک یو، زه ترې پوښتنه وکړم شهيدان چرته دي؟ هغوی وواېي: په پوړو پور ته ولاړ شه هلته دي، زه چې دوه پوړۍ وختم محمد او ابراهيم عليهما السلام مې وليدل، رسول الله صلى الله عليه وسلم ابراهيم عليه السلام ته وايي: زما د امت لپاره سفارش وكړه، هغه ورته وواېي: تا ته پته نشته چې ستا وروسته هغوی څه ونه کړل! وینې يې توې کړې، خپل سربراه يې وواژو، دوي زما د ملګرې «سعد» د کردار په څېر ولې رول نه ادا کوو؟ د ځان سره مې وويل: ډېر معنا دار خوب دې وليد، سعد رضي الله عنه ته راغلم او ورته مې بيان کړ هغه پرې ډېر خوشحاله شو، او ويويل: هغه څوک به ستر زيانمن وي چې ابراهيم عليه السلام يې خليل نه وي، ما ورځخه ويوښتل: په دواړو ډلو کې ته د چا مل يې؟ هغه وويل: په دواړو کې د چا غړی نه يم، ما ورته وويل: ما ته په چا سره د ملتيا حكم کوې؟ هغه وويل: ګډې بزې لرې؟ ما ورته وويل: نا. هغه وويل: ګډې بزې واخله او تر هغه له دې فتنو څخه لرې ووځه تر څو له منځه لاړې شي[1].

ابو معاوية له اعمش څخه روايت کوي چې زيد بن وهب وايي: عثمان بن عفان رضي الله عنه چې کله له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه وغوښتل چې مدينې ته راشه نو خلک ورته راغونډ شول او ورته يې وويل: دلته تم شه او مه ځه، له ټولو هغه شيانو څخه چې تا بې طبعه کوي مونږ دې دفاع کوو، هغه ورته وويل: په ما د عثمان

(١) سير أعلام النبلاء: (١/١٤٠). او حديث امام حاکم هم په (٣/٥٠١، ٥٠٢) کې د ثقاتو راويانو په توسط روايت کړی دی.

رضي الله عنه خبره منل واجب دي، لږ څه وروسته د فتنو او ازميښتونو لړي راروانه ده او زه نه غواړم چې فتنې پيل له ما څخه واخلي، خلک يې ستانه کړل او د عثمان رضي الله عنه په لور وتښتېد[۱].

عبدالله بن عامر بن ربيعة وايي: خلکو چې کله عثمان بن عفان رضي الله عنه تښتي کړ، زما پلار د شپې له پلوه لمونځ وکړ او بيا يې وويل: اى الله! ته چې څنګه خپل نيکان بندګان له خپل منځې فتنو څخه ژغورې ما هم وژغوره، له فتنې پرته د سهار په مهال مو ورله په جنازه کې شرکت وکړ[۲].

سفيان بن عيينة د عمر بن نافع نه، هغه يې د خپل پلار نه، هغه يې له ابن عمر نه روايت کوي چې علي رضي الله عنه راپسې استازى راولېږو چې ابو عبدالرحمنه! د شام خلک ستا خبره ډېره ښه مني ولاړ شه او ته مې هلته ګورنر وګمارلې.

ما ورته وويل: د الله په خاطر، د نبي ﷺ سره مې د خپلولۍ په بنياد، د هغه سره زما د ملګرتوب په بنياد درته سوال کوم چې په ګورنرۍ مې مه ګماره، خو هغه انکار وکړ چې هرومرو به ځې، حفصة رضي الله عنها مې ورته واسطه کړه خو بيا يې هم انکار وکړ.

د شپې له مخې مکې ته ولاړم، چا ورته وويل چې شام ته تللى دى، زما پسې يې استازي ليږدولي ول هر سړي له خپل پټکي نه د اوښ لپاره مهار جوړو تر څو په چټکۍ سره ما راونيسي، حفصه رضي الله عنها ورپسې استازى وليږدو چې هغه شام ته نه بلکې مکې ته تللى دى نو حوصله يې په ځاى شوه[۳].

عبدالله بن عبيد بن عمير له عبدالله بن عمر څخه روايت کوي چې د فتنو په روانه لړې کې مونږ د هغه چا په څېر يو چې د لارې په منځ کې روان وي او ناڅاپه پرې وريځ او تورتمې راشي لاره له ټولو څخه ورکه شي، ځينې يې ښې او ځينې يې کيڼ لورې ته رهى شي، نو له دواړو څخه لاره بې درکه شي او مونږ تر هغه پځپل ځاى ولاړ يو چې تر څو الله پاک دغه تورتمې له منځه لرې کړي، د

(۱) سير أعلام النبلاء: (۱/۴۸۹).
(۲) سير أعلام النبلاء: (۲/ ۳۳۵).
(۳) سير أعلام النبلاء: (۳/۲۲۴).

لومړي په څېر لاره ووينو او ويې پېژنو بېرته پرې رهی شو، د قريشو دغه ځوانان چې د دنيا او واک په جنګ اخته دي او سره يو بل مړه کوي دغه دنيا زه د خپلو ځيرل شوو دواړو پڼو سره برابره نه بولم[1].

سلّام مسکين له حسن څخه روايت کوي چې عثمان بن عفان ﷺ چې کله شهيد شو خلکو عبدالله بن عمر ﷺ ته وويل: ته په خلکو کې خپله هم لوړه هستې يې او د لوړې هستې زوی يې د بيعت لپاره خلکو ته ورشه.

هغه ورته وويل: خوښه بولم چې د هېڅ چا وينې مې له کبله توی نه شي.

خلکو ورته وويل: يا خو به هرومرو وځې او يا به دې پخپلې بسترې ووژنو.

هغه ورته بيا خپله خبره تکرار کړه، که هر څومره يې وګواښو او ډار يې ورکړ خو پرې توانا نه شول[2].

امام ذهبي د معاوية بن ابي سفيان ﷺ په ترجمه کې وايي: له معاوية څخه وروسته ګڼ شمېر خلک داسې پاتې شول چې په نورو به يې غوره بولو، د ډېرې مينې له کبله به يې پکې غلو او مغالات کول، يا خو داسې وه چې ټول رعيت يې په سخا، حوصله او زغم، او په ورکړه خپل کړی و، او يا د شام خلک د هغه سره په مينه محبت راټوکېدلي وو او خپلو بچو ته يې ورسره دغه مينه ورزده کړې وه.

د معاوية ﷺ سره په شام کې لږ صحابه کرام او ډېر د تابعينو علماء وو، پخپله يې ورسره د عراقيانو سره ضد جنګ جګړه کې هم برخه واخسته -الله مو دې له هوا پرستۍ وساتي- له بل پلوه د علي ﷺ سره هم له خوارجو پرته ټول رعيت مينه او محبت درلود او ورسره کلک ولاړ وو، او د ګردو بغاوت کونکو سره يې کرکه او نفرت او ورڅخه يې خپل براءتونه اعلان کړل، له دوی څخه زياترو يې د علي ﷺ په شان او مرتبه کې غلو او مغالات پيل کړ لکه شيعګان.

لږ د الله په خاطر د هغه سړي به څه حال وي چې په داسې کلي کور کې يې نشا و نما وشي چې په مينه او محبت او په بغض او حسد کې له حده تجاوز کوي، په

(١) سير أعلام النبلاء: (٣/٢٣٧).
(٢) سير أعلام النبلاء: (٣/٢٣٩).

دوي کې به عدل او انصاف له کومه راشي؟ ټول حمدونه او ثناګانې هغه الله لره دي چې مونږ يې په داسې وخت کې شته کړو چې حق ورېکې له دواړو اړخونو څخه واضحه او په خورا څرګند ډول بريښي.

د دواړو خواو نېوکې مو پکې وپېژندلې، ځان مو پرې پوهه کړ، دواړه مو معذور وګڼل او د دواړو خواو لپاره مو له الله څخه بخشش او مغفرت وغوښت، په انصافې توګه مو ددواړو خواو سره مينه او محبت دی، او د سرغړونکو لپاره په خورا نېک او ښائسته ډول د جواز په جملو کې د رحمت دعاګانې کوو چې ان شاء الله تېروتې به ورته بخشش شوې وي.

دالله پاک راکړي تعليم په بنسټ وايو: ﴿رَبَّنَا ٱغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَٰنِنَا ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلْإِيمَٰنِ وَلَا تَجْعَلْ فِى قُلُوبِنَا غِلًّا لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ﴾ [سورت حشر: ١٠]

ژباړه: ای زمونږ ربه! مونږ او زمونږ هغه ورونو ته چې مخکې راڅخه د مومنانو په صفت تېر شوي دي بخشش وکړه، او هغوی ته زمونږ په زړونو کې حسد مه پېدا کوه، ته د شفقت او رحم ولاا ذات يې.

له هغه چا څخه هم خوشحاله او راضي يو چې د دواړو خواو هېڅ ملتيا يې نه ده کړې لکه: سعد بن ابي وقاص، عبدالله بن عمر، محمد بن مسلمة، سعيد بن زيد رضي الله عنهم او په دې لړې کې د ګردو هغه خوارجو څخه کلک برائت اعلان وو چې د علي رضي الله عنه سره يې د نظامي جنګونو اعلان کړی و او د دواړو خواو په کفر يې عقيده لرله.

خوارج له دين څخه بهر او د اور سپي دي، خو په اور کې يې د تل لپاره قايل نه يو خو د صليب پرستو او بدپرستو په اور کې د تل لپاره قايل او ورباندې عقيده لرو[1]. ص ٩٤.

عمرو بن مُرة له شعبي څخه روايت کوي چې مسروق ته به چا وويل: د علي

(١) سير أعلام النبلاء: (١٢٨/٣).

زه وايم: امام ذهبي رحمه الله باندې دې الله پاک ځانګړې رحمتونه او فضلونه وکړي د سم صحيح منهج متعلق يې ورې بيان کړی دی، ډېره مناسبه ده چې د وسمهال روانو فتنو اړوند خلک په دغې خورابهترين منهج منګولې ولګوي.

ﷺ سره مې ليدل ونه شول! هغه به ورته ووېل: فرضا که دې ليدلي وی او ورسره مل وي، د خپل منځنی جګړو لپاره په صفونو کې درېدلای وای او ملائک درته په دې ايت راغلي واي چې: ﴿وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمْۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا﴾ [سورت نساء: ۲۹]. الله پاک په تاسو ډېر رحم کونکی او مهربان دی ځانونه ښځپله مه وژنئ.

تاسو څه واياست چې راستانه شوي به وای؟ هغوی ورته ووېل: نا نه شو راستنېدای، بيا ورته مسروق ووېل: لوړه په رب لايزال چې دغه ايت ستاسو ګران او محبوب پېغمبر ته ګراني او محبوبې ملائکې راوړی دی، محکم ايت دی په هېڅ ايت نه دی منسوخ شوی[١].

ابو عقيل بن بشير بن عقبة وايي: ما يزيد بن الشخير ته ووېل: خلک چې به سره په خپل منځ کې په جنګ جګړو اخته شول مُطَرِّف ﷺ به څه کول؟ هغه ووېل: د کور په منځ کې به ناست او نه به راوتو، تر هغه به يې ورسره د جُمْعې او جماعت لمونځ کې برخه نه اخسته چې شخړه به تر پايه نوه رسېدلاي[٢].

ايوب وايي: مطرف به ويل: چې په پوره بروسه کور کې کښېنم له دې څخه راته بهتر دي چې جهاد ته په دوکه لاړ شم[٣].

حُميد بن هلال وايي: مطرف بن عبدالله ﷺ ته خوارج راغلل او خپل پلو ته يې دعوت کړ، هغه ورته ووېل: که دوه نفسونه مې درلودل په يو به مې تاسو سره بيعت کړی و او بل به مې له ځان سره ساتلی و، که ستاسو دريځ هدايت او دين وی ما به پرې منلی وای، او که تګلاره مو سراسر ګمراهي وي، نو که يو نفس مې برباد شوی و بل خو به سالم و! چونکه يو نفس لرم دوکه نشم ورکولی[٤].

❁ ❁ ❁

(١) سير أعلام النبلاء: (١٢٣/٤).
(٢) سير أعلام النبلاء: (١٩١/٤).
(٣) سير أعلام النبلاء: (١٩١/٤).
(٤) سير أعلام النبلاء: (١٩٥/٤).



# د شاهانو د درګاونو اړوند د سلفو صالحينو دريځ

اعمش له مالک بن الحارث نه، هغه د عبدالرحمن بن يزيد نه نقلوي چې مونږ علقمة ته وويل: که ته په مسجد کې لمونځ وکړې او بيا لږ کينې او مونږ درڅخه پوښتنې وکړو ښه به نه وي؟ هغه وويل: دا مې نه خوښيږي چې خلک ووايي: دا سړی علقمه دی. مونږ ورته وويل: د شاهانو ماڼو ته ولې نه درومې؟ هغه وويل: په دې ډاريږم چې هغوی به مې دومره ورتې او په بده سترګه به راته وګوري چې دومره به ما نه وي رټلي او نه به مې ورته دومره بد کتلي وي(۱).

سليمان التيمي له احنف نه روايت کوي چ په ما کې درې خويونه دي تاسو ته يې د پند لپاره د ذکر وړ بولم: له بلنې پرته هېڅکله د شاهانو په دروازه نه يم ودريدلی، چې دوه کسانو خپله نه يم غوښتې ترمنځ مې ورله هېڅکله مداخله نه ده کړې، له ما سره ناستې څخه چې هر څوک پاځيږي زه يې په ښو صفتونو يادوم(۲).

عبدالرزاق وايي: نعمان بن الزبير صنعاني نه مې واوېدل چې محمد بن يوسف يا ايوب بن يحيې طاووس ته اووه سوه يا پنځه سوه ديناره واستول او استازي ته يې وويل: طاووس ته ووايه که زما دغه ډالۍ دې ومنله د ښې رويې سره سره به درته ښه پوښاک هم درواستوم، که څه هم استازو يې وهڅو خو طاووس له اخستو غوخ انکار وکړ، چونکه طاووس لږ دمه له خلکو څخه ناخبره شو نو يو سړي د دينارونو کڅوړه کور ته د يوې کړکې له لورې وارتوله او خلکو ته يې وويل: دينار يې واخستل، څه موده وروسته حکومتې چارواکي له طاووس څخه ناراضه شول بېرته يې ورته استازي راواستول چې زمونږ دينار بېرته راکړه، هغه ورته وويل: کوم دينار؟ ما خو له چا څخه هيڅ هم نه دي اخستي!

استازي د طاووس خبر تر چارواکو ورساو، بيا پسې هغه څوک واستو چې چا يې

(۱) سير أعلام النبلاء: (٤/٥٨).
(۲) سير أعلام النبلاء: (٤/٩٢).

د اخستو اوازه خپره کړې وه، سړي ورته وویل: ابو عبدالرحمن! ما چې درته دینار درکړي و هغه راکړه، طاووس ورته وویل: ایا ما له تا څخه دینار اخستي دي؟ هغه وویل: نا. بیا یې دینار په هغه کړکۍ کې تالاش کړل چې له کومه یې وارتولي و، تر هغه په نفس ځای کې پراته و چې غنې (جولاګي) پرې خپل کور هم جوړ کړی و، بېرته یې ورته راوړي دینار واستول[١].

معمر بن سلیمان د فرات بن سائب نه روایت کوي چې میمون بن مهران به ویل: په دریو شیانو ځان مه لړه: د شاهانو درګاه ته مه ځه اګر که دا بهانه هم ولرې چې زه یې خیر خواهي لټوم، د بدعتیانو خبرې مه اوره هسې نه زړه دې ګنده کړي، پردې ښځې سره مه یواځې کېږه ولو که ته ورته قران هم ورزده کوې[٢].

کثیر بن یحیې له خپل پلار نه روایت کوي: سلیمان بن عبدالملک مدینې ته راغی او دغه مهال یې ګورنر عمر بن عبدالعزیز و، خلکو ته یې د ماسپښین د لمونځ امامت هم ورکړ، له لمونځ وروسته محراب ته تکیه او خلکو ته مخامخ شو، صفوان بن امیة یې په خورا ښایسته اخلاقو ولید، له عمر بن عبدالعزیز څخه یې وپوښتل چې دغه هلک څوک دی؟ هغه ورته وویل: صفوان بن امیه دی.

سلیمان بن عبدالملک خپل خادم ته وویل: پنځه سوه دیناره په کڅوړه کې دي، غلام ته یې ورکړه چې صفوان بن امیة چې په لمونځ ولاړ دی ورته یې ورکړې، چونکه صفوان په لمونځ بوخت و تر سلام اړولو پورې ورته غلام انتظار وکړ، صفوان وپوښتل: څه پوښتنه لرې؟ غلام وویل: نا امیرالمؤمنین درته دا دینار راواستول چې د ژوند ځینې ستونزې پرې حل کړې او په بچو یې وخورې، هغه ورته کړه: ما ته یې نه دې رالیږدولې، هغه ورته وویل: ولې ته صفوان بن امیة نه یې؟ هغه وویل: ولې نه. غلام ورته کړه چې تا ته یې راواستولم کنه، هغه ورته وویل: ورشه او دوباره ځان ښه خبره کړه، چې غلام څنګه ولاړ صفوان خپل پیزار واخستل او تر هغه له سترګو څخه پټ او پناه شو چې سلیمان بن عبدالملک له مدینې څخه ولاړ[٣].

---

(١) سیر أعلام النبلاء: (٤٠/٥).
(٢) سیر أعلام النبلا: (٧٧/٥).
(٣) سیر أعلام النبلاء: (٣٦٨/٥).

ابن شوذب وايي: د بصرې ګورنر په علماوو او قاريانو باندې تحفې وويشلې، مالک بن دينار ترې هم تحفه قبوله کړه، محمد بن واسع ورته وويل: ته هم د حکومتي چارواکو ډالۍ قبلوې؟ هغه ورته وويل: زما له ملګرو څخه پوښتنه وکړه، ملګرو يې ورته وويل: ده ترې پيسې واخستې خو غلامان يې پرې واخستل او ازاد يې کړل، محمد بن واسع ورته وويل: ايا ستا زړه اوسمهال په تېر مخکني حالت دی؟ هغه وويل: ای الله! نه، مالک بن دينار خر دی خو د محمد بن واسع په څېر د الله عبادت کوي[1].

عبدالله بن خُبَيْق وايي: ما ته عبيد بن جناد، هغه ته عطاء بن مسلم ويلي و: مهدي چې کله خليفه شو، سفيان پسې يې استازی واستو، چې کله راغی خپله ګوتمه يې ورته ورکړه او ورته يې وويل: دغه زما ګوتمه ده او د ګرد امت چارې د قرانکريم او نبوي حديثونو له مخې سمبال کړه، سفيان ګوتمه واخسته او ورته يې وويل: اميرالمؤمنين! ايا ما ته دخبرو کولو اجازه ده؟

عطاء ورته وويل: سفيان هم ورته اميرالمؤمنين وويل؟

هغه وويل: هو. بيا يې ورته وويل: د خبرو کولو سره سره امان هم راکوې؟

هغه ورته وويل: هو.

سفيان ورته وويل: تر څو زه خپله نه يم راغلی ما پسې بيا استازی ما رالېږه، او چې ما درڅخه څه نه وي غوښتي ما ته هېڅ هم مه راکوه.

مهدي ورته غصه شو او ارادې يې بدلې شوې، کاتب يې ورته وويل: تا خو ورته امان ورکړی دی نو بيا؟ مهدي وويل. ولې نه سمه ده.

سفيان چې بهر راووت ملګرو يې ورته وويل: هغه درته په قران او حديث د امت اصلاح واک درکړ او تا قبول نه کړ؟ ملګرو ته يې وويل: ستاسو عقلونه پوره نه دي، او بيا بصرې ته وتښتېد[2].

حسن بن الربيع وايي: عبدالله بن مبارک چې کله په سفر کې مړ کېده حلوا

(١) سير أعلام النبلاء: (١٤٠/٦).
(٢) سير أعلام النبلاء: (٢٦٢/٧).

ته يې زرګه وشو په کښتې کې حلوا يواځې د داسې چا سره وه چې د شاهانو سره يې دنده ترسره کوله، مونږ چې عبدالله بن مبارک ته قيصه وکړه هغه انکار وکړ او همدغسې مړ شو[1].

فضيل بن عياض وايي: له عبدالله بن مبارک څخه وپوښتل شول چې په عقل پوره خلک څوک دي؟ هغه وويل: په عقل پوره خلک علماء دي، ترې وپوښتل شول: شاهان څوک دي؟ هغه وويل: شاهان پرهيزګاران دي، ترې وپوښتل شول: بې وقوف څوک دي؟ هغه وويل: بې وقوف هغه خلک دي چې په دين خورا ک کوي (دين خرڅوي)[2].

احمد بن جميل المروزي وايي: عبدالله بن مبارک ته وويل شول چې اسماعيل بن عُلَيَّة د زکاتونو په راټولولو امير وګمارل شول.

عبدالله بن مبارک ورته وليکل:

| | |
|---|---|
| يَا جَاعِلَ الْعِلْمِ لَهُ بَازِياً | يَصْطَادُ امْوَالَ الْمَسَاكِيْنِ |
| احْتَلْتَ لِلدُّنْيَا وَلَذَّاتِهَا | بِحِيْلَةٍ تَذْهَبُ بِالدِّيْنِ |
| فَصِرْتَ مَجْنُوْناً بِهَا بَعْدَمَا | كُنْتَ دَوَاءً لِلْمَجَانِيْنِ |
| ايْنَ رِوَايَاتُكَ فِيْ سَرْدِهَا | عَنْ ابنِ عَوْنٍ وَابنِ سِيْرِيْنِ |
| ايْنَ رِوَايَاتُكَ وَالْقَوْلَ فِيْ | لُزُوْمِ ابْوَابِ السَّلَاطِيْنِ |
| انْ قُلْتَ: اُكْرِهْتُ فَذَا بَاطِلٌ | زَلَّ حِمَارُ الْعِلْمِ فِيْ الطِّيْنِ |

اى هغه څوکه چې له علم دې باز جوړ کړى دى او د نادارو پيسې ټکې پرې ښکار کوې.

په داسې چل پراډ دې د دنيا او دنياوي مزو چړچو ته ځان جوړ کړ چې دغه پراډ دين له منځه وړي.

ته خپله د دنيا پسې داسې ليونى شوې او حالانکه لږ څه مخکې خپله ته د ليونو لپاره دوا علاج وې.

(۱) سير أعلام النبلاء: (۸/۴۱۱).
(۲) صفة الصفوة: (۴/۱۴۰).

هغه ستا د ابن عون او ابن سيرين څخه روايت کړې حديثونه چرته لاړل؟

هغه ستا د شاهانو په دركاونو ته د تګ مذمت بيانونکې روايتونو او ستا اقوال چرته ولاړل.

که ته وايې چې مجبوره شوم، نو دا خبره سمه نه ده بلکې په ختو خاورو کې د علم خر وخوېده.

چې كله يې د عبدالله بن مبارک ليک ولوست په ژړا شو او له دندې څخه يې ځان ګوښه کړ[1].

سحنون وايي: د متو په زيار خوراک کوم خو په علم خوراکونه نه کوم، د دنيا مينوال دومره ړوند دي چې علم يې ورته پلوشې ورنه کړې، هغه ديني عالم څومره بد ښکاري چې د شاهانو په دركاونو کې حاضري ورکوي، لوړه په رب لايزال چې زه کله هم د حکومت چارواکو ته تللی يم له ځان سره مې محاسبه کړېده او ځان مې پرې ملامت کړی دی، که څه هم درته سختې خبرې وکړم تاسو مې د هواپرستۍ له کبله خبره نه منئ، لوړه په رب لايزال چې تر دې مهال مې د حکومتي چارواکو له لاسه نه نفقه اخستې او نه مې د هغوی راستولی پوښاک په تن کړی دی[2].

(۱) صفة الصفوة: (١٤٠/٤). سير أعلام النبلاء: (٤١١/٨– ٤١٢).
(۲) سير أعلام النبلاء: (٦٥/١٢).



## د ښځو له فتنې څخه د سلفو صالحينو د ځان ژغورنې نمونې[١]

اسامة بن زید رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ نه روايت کوي چې په سړيو باندې مې د ښځو له فتنې څخه ستونزمنه او له ضرر نه ډکه بله فتنه له ځان نه وروسته نه ده پرېښې[٢].

ابو سعيد الخدري رضي الله عنه د نبي ﷺ نه روايت کوي: دنيا ترو تازه ده او تاسو ته به يې الله پاک درکوي، الله ګوري چې تاسو په دنيادارۍ څه کوئ؟ د دنيا او د ښځو له فتنې څخه ځانونه وژغورئ، بني اسرائيل هم د لومړي ځل لپاره د ښځو په فتنو ازمول شوي ول[٣].

اشعث بن قيس د رجاء بن حيوة نه روايت کوي چې معاذ بن جبل رضي الله عنه ويلي دي: په مشقت وازمول شوئ، له زغم څخه مو کار واخست، هرومرو به په اسانو هم ازمول کيږئ، خو د ښځو له فتنې څخه مې درباندې ډېره ويره کيږي، تاسو څه واياست که هغوی د سرو زرو بنګړي واچوي، د يمن او شام په لباس ځان سينګار کړي، شتمن به هم ډېر ستومانه کړي او ناداره به په داسې څه مکلف کړي چې موندلی يې نه شي[٤].

علي بن زيد د سعيد بن المسيب نه روايت کوي: کله چې شيطان د خلکو له سرغړونې نه نا اميده شي د ښځو له پلوه ورته راشي، سعيد بن المسيب چې د څلور اتيا کالو په عمر کې يې يوې سترګې ديد هم ورکړی و، وويل به يې: زه د ښځو له فتنې څخه ډېر وېرېږم[٥].

(١) يواځې په دې باب کې به د سير أعلام النبلاء او صفوة الصفوة له کتابونو پرته له نورو اخستنليکونو نه هم استفاده کوو.

(٢) بخاري كتاب النكاح باب ما يتقى من شؤم المرأة، حديث شمېر: (٥٠٩٦). مسلم كتاب الذكر والدعاء باب أكثر أهل الجنة الفقراء و أكثر أهل النار النساء، حديث شمېر: (٢٧٤٢).

(٣) مسلم: كتاب الذكر والدعاء، باب أكثر أهل الجنة الفقراء وأكثر أهل النار النساء، حديث شمېر: (٢٧٤٢).

(٤) صفة الصفوة: (١/٤٩٧).

(٥) صفة الصفوة: (٢/٨٠).

عبدالله بن احمد بن حنبل وايي: ما ته ابراهيم بن الحسن الباهلي، هغه ته حماد بن زيد ويلي و چې يونس بن عبيد وايي: له ما څخه درې نصيحتونه په ياد ولره:

(١) د قران ښوونې لپاره دې تاسو کې هېڅ څوک بادشاهي درګاونو ته نه ځي.

(٢) د قران ښوونې لپاره دې تاسو کې هېڅ څوک ښځې سره نه يواځې کيږي.

(٣) هېڅ څوک له مبتدع نه درسونه مه وايئ[١].

عباس الدّوري وايي: زمونږ ځينو ملګرو به د سفيان ثوري دا شعرونه ډېر تکرارول:

| | |
|---|---|
| تَفْنَى اللّذَاذَةُ مِمَّنْ نَالَ صَفْوَتَهَا | مِنَ الحَرَامِ وَيَبْقَي الوِزْرُ وَ العَارُ |
| تَبْقَى عَوَاقِبُ سُوْءٍ فِيْ مَغَبَّتِهَا | لاَ خَيْرَ فِيْ لَذَّةٍ مِنْ بَعْدِهَا النّارُ |

د حرامو څخه چې څوک خوند پورته کړي، نو لږ ګړی مزه وي لاړه تېره شي او شرم او ګناه يې باقي پاتې شي.

د زيانمنو کړنو زيانمني پايلي د تل لپاره پاتې شي، او د هغې مزو او خوندنو په څکلو کې هېڅ خير نشته چې وروسته ترې غومبرې اوورنه وي.

حسين بن مُطَير وايي:

| | |
|---|---|
| وَنَفْسَكَ ابْرِمْ عَنْ امُوْرٍ بَثِيْرَةٍ | فَمَا لَكَ نَفْسٌ بَعْدَهَا تَسْتَعِيْرُهَا |
| وَلاَ تَقْرِبِ المَرْعَى الحَرَامَ فَانّمَا | حَلاَوَتُهُ تَفْنَى وَ يَبْقَى مَرِيْرُهَا |

له ډېرو شيانو څخه دې نفس په قابو کې وساته ورنه ستا لپاره وروسته بل نفس نشته چې بيرته يې په امانت کې راواخلې (يعني ځان ژوندی کړې).

حرامو څرځايونو ته مه نزدې کيږه، ځکه چې د حرامو خوندونه او حلاوت له منځه ځي او تراخه يې تل پاتې کيږي.

او احمد بن حنبل رحمه الله وايي: ځواني د وېرې له کبله نفسي غوښتنو پرېښودو ته ويل کيږي[٣].

(١) سير أعلام النبلاء: (٦/٢٩٣).
(٢) روضة المحبين ونزهة المشتاقين: (٣٣٠) د ابن القيم الجوزية ليکنه
(٣) روضة المحبين ونزهة المشتاقين: (٣٣٠). د ابن القيم الجوزية ليکنه.

۞ محمد ابن اسحاق وايي: سريّ بن دينار د مصر په يوه دره کې اوسېده، د مصر په دغې دره کې يوه ښايسته او جميله ښځه وه چې ټول خلک يې په حسن ليوني وو، ښځه يې له راتګ څخه خبره شوه او ويويل: زه به ضرور سرّي د خپل جمال او ښکلا په فتنه کې اچوم، ښځه راغله او ځان يې د هغه مخکې لوڅ کړ، سرّي ورته وويل: څه درباندې وشو؟

ښځه: ايا د ژوند خوندور لمحو ته اړتيا نه لرې؟

سرّي ورته وويل:

| | |
|---|---|
| وَبِـمْ ذِيْ مَـعَـاصٍ نَـالَ مِـنْـهُـنّ لَـذّةً | وَمَـاتَ فَـخَـلّاهـا وَ ذَاقَ الـدّوَاهِـيـَا |
| تُـصَـرّمُ لَـذّاتُ المَعَاصِيْ وَ تَنْقَضِيْ | وَتَـبْـقَـى تَـبَـاعَـاتُ المَعَـاصِـيْ بِمَا هِيَا |
| فَـيَـا سَـوْءَتَـا وَ الـلـهُ رَاءٍ وَ سَامِعٌ | لِعَبْدٍ بِعَيْنِ اللهِ يَغْشَى المَعَاصِيَا |

له ښځو څخه ډېرو ګناهکارانو په ناوړه توګه خوندونه اخستلي دي، اوسمهال هغوی مړه دي او خورا سترو عذابونه ځښبي.

د ګناهونو او سرغړنو خوندونه له منځه ځي او عذابونه او بدلي يې پاتې کېدونکي دي.

د هغه انسان لپاره څومره بده خبره ده چې الله يې ويني او خبرې يې اوري او دا يې په سرغړونو کې بوخت وي.

۞ ابو الفرج او نورو ذکر کړي دي چې په مکه کې ډېره ښائسته ښځه وه، يوه ورځ يې په شيشه کې ځان ته وکتل او خاوند ته يې وويل: داسې څوک به لا هم وي چې زما مخ وګوري او خوښ يې نه شي؟

خاوند: هو شته دی عبيد بن عُمَير دی کنه.

ښځه: اجازت راته وکړه چې اوس يې درله په فتنه کې واچوم.

خاوند: زما درته اجازه ده.

په مسجد حرام کې ښځه عبيد بن عمير ته په داسې حالت کې راغله لکه پوښتنه چې کوي او په قلاره يې د سپوږمۍ په څېر مخ نه حجاب لرې کړ.

(۱) روضة المحبين ونزهة المشتاقين: (۳۳۹).

عبید بن عمیر: ای د الله بنده! مخ دې پټ کړه.

ښځه: ته مې خوښ یې.

عبید بن عمیر: زه درځخه یو څو پوښتنې لرم که دروست ځوابونه دې را کړل ستا اړوند به بیا غور وکړم.

ښځه: ډېره ښه ده، رښتیا رښتیا ځوابونه درکوم.

عبید بن عمیر: که ملک الموت راشي او همدا اوسمهال درځخه روح اخلي، ایا خوښه دې ده چې په داسې حالت (زنکدن) کې درسره بدکاري وکړم؟

ښځه: ای الله! داسې مې بیخي خوښه نه ده.

عبید بن عمیر: که قبر کې کېښودل شې، او د سوال ځواب لپاره کښېنول شې، ایا په دغې حالت کې درسره زما بد کاري درته خوښه ده؟

ښځه: ای الله! داسې مې بیخي خوښه نه ده.

عبید بن عمیر: که د قیامت په ورځ خلکو ته په ښې او کیڼ لاسونو خپلې خپلې عمل نامې ورکول کېږي، او تا ته معلومات نه وي چې عمل نامه به دې په کوم لاس اخلې؟ ایا په دغې حالت کې درسره زما بد کاري درته خوښه ده؟

ښځه: ای الله! داسې مې بیخي خوښه نه ده.

عبید بن عمیر: که په پل صراط تېرېږې او معلومات درته نه وي چې نجات به وې او که نه؟ ایا په دغې حالت کې درسره زما بد کاري درته خوښه ده؟.

عبید بن عمیر: چې د اعمالو ترازو راوړل شي او تا ته معلومات نه وي چې د نیکو علمونو تله به دې درنه او که سپکه خیژي ایا په دغې حالت کې درسره زما بد کاري درته خوښه ده؟

ښځه: ای الله! داسې مې بیخي خوښه نه ده.

عبید بن عمیر: چې د الله مخې ته د سوال او ځواب لپاره ودرېږې ایا په دغې حالت کې درسره زما بد کاري درته خوښه ده؟

ښځه: ای الله! داسې مې بیخي خوښه نه ده.

عبيد بن عمير: له الله څخه وډار شه، الله درباندې دومره احسان او پيرزو کړيده.

ښځه چې کور ته ستنه شوه خاوند ورڅخه وپوښتل: څه دې وکړل؟

ښځه: زه او ته ډېر پاتې او ناراسته يو. ښځې د لمونځ، روژې او د عبادتونو نورو ډولونو ته مخه کړه، بيا به يې خاوند ويل: عبيد بن عمير راسره څه بد وکړل چې مخکې به مې ښځې راته هر شپه د ناوې په څېر ځان جوړو، هغه ترې عابده جوړه کړه د مخکې په څېر مې خيال نه ساتي [١].

ابن القيم رحمه الله وايي: الله تعالي سترګې د زړه لپاره شيشه ګرځولې ده، که انسان سترګې ښکته وساتلې د زړه شهوت هم په تل کې وي او نه راپورته کيږي، او که سترګې يې بې مهاره کړې زړه هم خپل هيجانات راپورته کړي... نبي ﷺ فرمايي: **[إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ عَلَى ابْنِ آدَمَ حَظَّهُ مِنَ الزِّنَا، ادْرَكَ ذَلِكَ لاَ مَحَالَةَ، فَالعَيْنُ تَزْنِيْ وَزَنَاهَاالنَّظَرُ، وَاللِّسَانُ يَزْنِيْ وَزِنَاه النُّطْقُ، وَالرّجل تَزْنِيْ وَزِنَاهَا الخُطَي، وَاليَدُ تَزْنِيْ وزِنَاهَا البَطْشُ، وَالقَلْبُ يَهْوَي وَ يَتَمَنَّي، وَالفَرْجُ يُصَدِّقُ ذَلِكَ اوَيُكَذِّبُهُ]** [٢].

ژباړه: په هر انسان باندې الله پاک د زنا برخه ليکلې ده، او هرومرو به يې کوي، سترګې زنا کوي او زنا يې کتل دي، ژبه زنا کوي او زنا پرې د زنا خبرې کول دي، خپې زنا کوي او زنا يې د زنا پسې تلل دي، لاس زنا کوي او زنا يې د زنا لپاره لاس اچول دي، زړه يې غواړي او ارزو يې لري، فرج يې يا تصديقوي او يا يې نه تصديقوي.

د سترګو په زنا يې ځکه شروع وکړه چې د لاس، خپو، زړه او د فرج د زنا بنسټ د سترګو زنا ده، او د ژبې زنا يې ځکه ذکر کړه چې له دې څخه د خولې زنا (ښکلول) منځ ته راځي، خو که زنا عملاً وشي دا د فرج تصديق دی او که يې و نه کړي نو تکذيب يې ورله وکړ، دا حديث په هغه خلکو رد کوي چې مطلق نظر او هر چا ته کتل روا بولي.

---

(١) روضة المحبين و نزهة المشتاقين: (٣٤٠).

(٢) بخاري په كتاب الاستئذان باب زنا الجوارح دون الفرج په (٦٢٤٣) شمير باندې دېته په نږدې لفظ روايت کړی دی. مسلم په کتاب القدر باب قدر على ابن ادم حظه من الزنا وغيره په (٢٦٥٧) شمير روايت کړی دی.

او نبي ﷺ فرمايي: **[يَا عَلِيُّ لَا تُتْبِعِ النَّظْرَةَ النَّظْرَةَ، فَإِنَّ لَكَ الْاولَى وَلَيْسَتْ لَكَ الثَّانِيَةُ]**(١).

ژباړه: ای علي! د يو ځل پسې دوهم ځل مه ګوره، په لومړي ځل کتلو نه نيول کيږي او دوهم ځل دې حق نه دي.

يوه ورځ مسله منځ ته راغله چې د هغه سړي اړوند علماء څه وايي چې ښځې ته وګوري او په محبت يې مبتلا شي، زړه يې وريسې کلک ونښلي، په دې کې ورته زړه ووايي: دا د لومړي ځل کتلو ګناه ده، که دوهم ځل ورته په دې خاطر وګورې چې ښځه درته کمه ښکاره شي شايد زړه دې ترې صبر شي، ايا په دوهم ځل کاته ورته په دې معنی شرعي جواز لري؟

پوښتنه په دې ډول جواب شوه:

الحمدلله، د لسو لاملونو له کبله دوهم ځل کاته ناروا دي:

**لومړی**: الله پاک د نظر په ټيټولو امر کړی دی، او د زړه شفا کله هم الله پاک په حرامو کې نه ده ايښې.

**دوهم**: د ناڅاپي نظر متعلق له نبي ﷺ څخه وپوښتل شول، چونکه هغه ته د دې معلومات وو نو د نظر په ټيټ ساتلو يې امر وکړ.

**دريم**: هغه صراحةً ذکر کړ چې لومړی نظر يې حق خو دوهم يې حق نه دی، او دا خو کېداي نه شي چې هغه نظر يې حق جوړ شي چې رنځ يې پکې دی او هغه يې حق نه وي چې شفا او صحت يې پکې وي.

**څلورم**: له ظاهره داسې برېښي چې دوهم نظر کله هم له لومړي څخه کم نه دی، او تجربه هم دا تاييدوي چې په لومړي نظر يې زړه وبايلود کله يې هم حالت په دوهم ځل نه شي سمېدای.

**پنځم**: کېدای شي په دوهم ځل يې له لومړي ځل څخه تاثر ډېر وي نور به هم په

---

(١) سنن أبي داود: كتاب النكاح، باب ما يؤمر به من غض البصر (٢١٤٩). جامع الترمذي: كتاب الأدب، باب نظر الفجأة: (٢٧٧٨). او الباني هم په (١٨٨١) شمير په صحيح أبي داود کې حسن ويلي دي.

عذاب اخته شي.

**شپږم:** په دوهم ځل کتلو کې ورته ابليس نور ډول ډال هم پسې اضافه کوي تر څو په بشپړه توګه پرې ستونزه تمامه شي.

**اووم:** د شريعت له اوامرو څخه په سرغړونې د رامنځ ته شوي مصيبت تداوي کله هم په حرامو نه شي کېدای، بلکې داسې بريښي چې روغتيايي مرستې يې لا پسې هم وروسته شي.

**اتم:** پردو ښځو ته کتل د ابليس زهريله غشی دی، چې په اول غشي کې دومره زهر و نو په دوهم کې به لا څومره وي؟ ايا د زهرو علاج په زهرو کېدای شي؟

**نهم:** دلته د انسان الله پاک سره د خپل محبوب په پرېښودو کې معامله جوړېږي، که په دوهم ځل کتلو وغواړي چې د منظور اليه حال معلوم کړي، نو که له نظره يې ښه را نه شي او پرېږدي، نو دې خو د الله د رضا لپاره پرې نه ښود، بلکې خوښ يې نه شو ځکه يې پرېښود، د الله پاک سره يې څه معامله پاتې شوه؟

**لسم:** د مزيد وضاحت لپاره بايد د حال موافق مثال بيان کړو:

که ته په خوراتيز ځغلند اس سپور شي، او په داسې تنګه او دنګه لار دې يوسي چې نه خو پکې اس بېرته شاته ګرځېدای شي او نه هم مخکې تلای شي، خو که د ننوتلو په مهال دې اس له مهاره ټينګ کړ او په لار دې رهېدو ته پرې نه ښود، او په جدي توګه دې په اسانې راستون نه کړ، خو که هغه په دغې تنګه لار يې تر هغه يوړې چې که هر څومره يې په شاه راوکاږې تا ته به ستړې هم واړوي او راوتل يې هم ناشوني وي، ايا له دې وروسته سالم عقل دا پرېکړه سمه بولي چې د خلاصېدو لاره د اس لا هم پسې په تنګه لاره ورتګ کې ده؟!

نظر هم دغه څېر صفت لري که د پياوړي ديانت څښتن له ديني متانت څخه کار واخلي او نظر قابو کړي، د رنځ جرړه په لومړيو کې وباسي علاج او معالجه به هم ورته اسانه شي، او که باربار نظر ته ادامه ورکړي، د ډول او ښکلا څخه پسې نور هم نقاب پورته کړي، مزيد يې ځان ته راښکاره کړي، په وزګار زړه کې ورته ځاي ورکړي، محبت پکې نقش کشي وکړي او ځان پکې ځاي کړي.

ځنګه چې ونه په پرله پسې خړوبولو وده کوي، د دې په څېر په زړه کې د محبت لويدلې دانه هم ده چې په باربار کتو يې زړه کې راټوکيږي تر دې چې زړه ناسور او له شرعي ماموراتو څخه په غفلت او ناخبرۍ اخته کړي، دغه زړه انسان تل کړاوونو ته، د فتنو او محرماتو په کولو کې واقع کوي، او بالاخره هم زړه له منځه يوسي.

د زړه د ناسور کېدو او منځه تلو يواځنې لامل لومړي ځل کتل و چې د خوند او مزې له مخې يې باربار کتلو ته ادامه ورکړه، لکه څوک چې خوندور خواړه يو ځل وخوري او بيا د مزې له مخې ورته نوره ادامه هم ورکړي، خو که د لومړي ځل لپاره يې نظر په قابو کې نيولی وی، نفس او زړه دواړه به يې په صحت او نيک حالت کې وو، لږ د نبي ﷺ په دې قول **[النّظْرَةُ سَهْمٌ مَسْمُومٌ مِنْ سِهَامِ اِبْلِيْس]**(١) کې سوچ وکړه چې غشی کله زړه ته رسيدګې وکړي د زهرو کردار پکې ادا کوي، خو که څوک په وخت غشي وباسي سمه ده ورنه هرومرو به يې مړ کړي(٢).

ابن القيم رحمه الله وايي: د نظر په تېټ ساتلو کې ګڼ شمېر ګټې دي:

لومړی دا چې د حسرتونو څخه زړه سالم پاتې کيږي، که څوک خپل نظرونه بې مهاره کړي حسرتونه به يې هم زيات شي، له نظر پرته په نورو شيانو زړه نه ستونزمن کيږي، ځکه چې سترګې زړه ته داسې شيان ښايي چې نه خو ترې زړه صبرېدای شي او نه يې هم لاس ته راوړنه کولی شي، له دې څخه بل ستر کړاو او لوي عذاب نشته.

اصمعي وايي: په طواف کې مې د لمر په څېر جينۍ وليده، چونکه په ښکلا کې يې زما نظر ميخ شو راته يې وويل: ولې ګورې؟ ما ورته وويل: ولې په کتلو کمېږې؟ هغې وويل:

| | |
|---|---|
| وَکُنْتَ مَتَي ارْسَلْتَ طَرْفَهَ رَائِداً | لِقَلْبِهَ يَوْماً اتْعَبَتْهَ الْمَنَاظِرُ |
| رَايْتَ الّذِيْ لاَ کُلّهُ انْتَ قَادِرٌ | عَلَيْهِ وَ لاَ عَنْ بَعْضِهِ انتَ صَابِرُ |

(١) حديث امام حاکم په (مستدرک الحاکم: ٣١٤/٤) کې روايت کړی دی، او سند ته يې هم ورله صحيح ويلې دي، خو ولې ذهبي يې سند د دوو راويانو « اسحاق بن عبدالواحد القرشي او عبدالرحمن الواسطي » له مخې کمزوری کړی دی.

(٢) روضة المحبين ونزهة المشتاقين: (٩٢ – ٩٥).

چې د زړه د نګرانۍ لپاره کله هم نظر دې بې مهاره کړ، نو يوه ورځ به دې کتل په سترګيا کې واچوي.

تا چې څه وليدل نه خو يې ټول لاس ته راوړی شې او لږو څخه به يې صبر ونه شې کړی.

کتل په زړه داسې اغېز لري لکه غشی يې چې په زړه لري، که په کتلو سره زړه مړ نه شي ټپي کوي خو يې هرومرو، نظر او هر چاته کاته په وچ کړس لرګو کې د سکروټې اچولو صفت لري، که ټول لرګي ونه سوځوي ځېنې خو سوځوي، يو شاعر وايي:

هُلّ الْحَوَادِثِ مَبْدَاهَا مِنَ النَظَرِ — وَمُعْظَمُ النّارِ مِنْ مُسْتَصْغَرِ الشّرَرِ
هَمْ نَظْرَةً فَتَهَتْ فِيْ قَلْبِ صَاحِبِهَا — فَتْهَ السّهَامِ بِلَا قَوْسٍ وَلَا وَتَرِ
وَالمَرْءُ مَا دَامَ ذَا عَيْنٍ يُقَلّبُهَا — فِي اعْيُنِ الغيدِ مُوْقُوْفٌ عَلَى الخَطَرِ
يَسُرّ مَقْلَتَهُ مَا ضَرّ مَهْجَتَهُ — لاَ مَرْحَباً بِسُرُوْرٍ عَادَ بِالضّرَرَ

د ټولو ستونزو پيل له کتو څخه دی، او د اور لمبې د ورې سکروټې څخه جوړيږي.

ډېرو کتلو د انسان په زړه کې له ليندې او تار پرته داسې شکول وکړل لکه غشی چې شکول کوي.

انسان د هميشه لپاره په ښايسته ښځو کې خپل کتل اړوي راړوي خو ښه نه بلکې په خطر ولاړ دی.

په کتلو سترګې خوشحالوي او زړه په تکليف او ستونزو کې اچوي، داسې خوشحالي دي هېڅکله را نه شي چې ضرورونه پسې رادرومي.

په داسې حالت کې چې کتونکې نه پوهيږي او د نظر په غشو خپل زړه وولي، زما ځېنې شعرونه دي چې:

يَا رَامِياً بِسِهَامِ اللّحْظِ مُجْتَهِداً — انْتَ القَتِيلُ بِمَا يَرْمِيْ فَلاَ تُصِبِ

(١) روضة المحبين ونزهة المشتاقين: (٩٧). ابن القيم د نظر د ښکته ساتلو نورې فايدې هم ذکر کړي دي دمزيدو معلوماتو لپاره د مذکور کتاب (١٠١ – ١٠٥) ته مراجعه وکړه.

**وَبَـاعِـثَ الـطّـرْفِ يَـرْتَـادُ الـشِّـفَـاء لّـهُ　　تَــوَقّــهُ اِنَّـــهُ يّــاتِـيْـهَ بِـالـعَـطَـبِ**

اى هغه څوکه چې د کتلو غشي په ډېر تکليف سره ګوزاروې، غشي مه ګوزاروه ته پرې خپله وژل کيږې.

د نظر په کتلو سره د ځان لپاره صحت غواړې، خو ځان ترې وساته دا دې نور هم په تکليف اخته کوي.

# د سلفو صالحینو د خپلو مور ګانو سره د نیکۍ نمونې

محمد بن سيرين وايي: د عثمان بن عفان رضي الله عنه په دور خلافت کې د کجورې ونه تر زر درهمو ته ورسېده، اسامة بن زيد رضي الله عنه ونه له ستې څخه راچپه کړه او له تنې څخه يې ورله خوږ کن راوويست او مور ته يې ورکړ و، خلکو ورته وويل: ولې دې داسې وکړ او ښه درته معلومات دي چې کجوره په لوړه بيعه خرڅيږي؟ هغه وويل: مور مې رانه کنډ غوښتی و، او هغه چې راڅخه هر څه وغواړي ورڅخه يې نه منعه کوم[1].

عبدالله بن مبارک وايي: محمد بن المنکدر راته وويل چې زما ورور (عمر) ټوله شپه په عبادت رڼه کړه او ما مې د مور خپې چاپي کولې (کېمنډلې)، خو زه ورسره د خپلې شپې ثواب نه برابروم[2].

ابن عون وايي: يو سړی راغی او محمد بن سيرين د خپلې مور سره ناست و، ورته يې وويل: ولې محمد بن سيرين ناجوړه دی؟ څه پرې شوي دي؟ ناستو خلکو ورته وويل: نا نا هيڅ هم نشته خو دا د مور سره په دې کيفيت کيني[3].

هشام بن حسان د حفصة بنت سيرين څخه نقلوي: محمد بن سيرين چې به د مور خوا ته کله راغی د احترام له مخې به يې د مور په مخکې وازه خوله خبرې نه کولې[4].

ابن عون وايي: مور مې راته اواز وکړ، زما اواز يې په اواز لوړ شو، په کفاره کې مې دوه غلامان ازاد کړل[5].

---

(١) صفة الصفوة: (١/٥٢٢).
(٢) صفة الصفوة: (٢/١٤٣).
(٣) صفة الصفوة: (٣/٢٤٥).
(٤) صفة الصفوة: (٣/٢٤٥).
(٥) سير أعلام النبلاء: (٦/٣٦٦).

هشام بن حسان وايي: هُذيل بن حفصة به په اوړي کې لرګي راوړل، پوستکي به يې ترې لرې کړل او وبه يې چول، حفصه وايي: په ژمي کې به مې ډېره يخني کېده، زه به پخپل لمونځ ځاي کې په لمونځ ولاړه وم او هذيل به لرګي راوړل داسې اوربه يې بل کړ چې ما ته به يې له لوګې څخه تکليف نه و، او زه به يې ګرمولم، که څه هم هغه لرګي په بل چا راوړلی شول خو دغه دنده يې خپله کوله، ډېر وخت به تېر شو، زړه کې به مې راغلل چې ورته ووايم: بس دی نور ځان مه تکليفوه بچو ته دې لاړ شه، بېرته به غلې شوم چې پرېږده خپلې موخې ته ځان ورسوي.

حفصه[1] وايي: هذيل چې کله مړ شو، په مړينه يې راته الله پاک ډېر صبر راکړ خو د زړه نه مې خفګان نه ووت، يوه شپه مې سورت نحل کې دا ايت ولوست: ﴿وَلَا تَشۡتَرُواْ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ ثَمَنٗا قَلِيلًاۚ إِنَّمَا عِندَ ٱللَّهِ هُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٩٥ مَا عِندَكُمۡ يَنفَدُ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ بَاقٖۗ وَلَنَجۡزِيَنَّ ٱلَّذِينَ صَبَرُوٓاْ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ﴾ [سورت نحل: ٩٥ – ٩٦].

ژباړه: د الله تعالى په ايتونو باندې لږې ټکې پيسې مه اخلئ، هغه څه چې د الله سره دي ستاسو لپاره بهتر دي که پوهېږئ ستاسو هر څه له منځه تلونکي دي او څه چې له الله سره دي پاتې کېدونکي دي، او څوک چې صبر کوي خامخا به ورته د هغه نيکو علمونو بدله ورکړو چې دوي يې کوي.

حفصه وايي: دا ايتونه مې باربار تکرار کړل الله پاک مې د زړه غم ختم کړ.

هشام زياتوي: هذيل د ډېرو شيدو اوښه لرله، حفصه وايي: ما ته به يې هر سهار شوده راستول، ما به ورته ويل: زويه! تا ته پته ده چې زه روژه يم نه يې شم څښلای. هغه به ويل: د اوښانو په غولانځه کې چې په شيدو شپه تېره شي ډېر خوارږه وي، وايې اخله او بل چا ته يې ورکړه[2].

عبدالرحمن له خپل پلار احمد څخه نقلوي چې (بَقِي) ته يوه ښځه راغله او ورته يې وويل: د باچا په بنديوانو کې مې زوی دی او نور صبر نه شم کولای که لږ څوک راپيدا کړې چې زما د زوی فديه ورکړي او رها شي ډېره نيکي به دې

(١) حفصة بنت سيرين ډېره زاهده او عابده ښځه وه، د محمد بن سيرين خور، او د هذيل مور وه.
(٢) صفة الصفوة: (٤/٢٥).

راسره وي، هغه ورته وويل: زه به څه وکړم، سر يې ښکته وزنګوو او په شونډو يې پټ څه وويل، بيا څه موده وروسته ښځه راغله او زوی هم ورسره و، زوی يې وويل: د باچا په لاس کې بنديوان وم، په کار بوخت وم چې خپله مې اتکړۍ له لاسونو څخه پرېوتې، او هغه ورځ يې ياده کړه په کومه ورځ چې (بقي) دعا کوله، څارونکي راباندې لوړ غږونه وکړل او حيران دريان ودرېد، لوهار يې راوغوښت او اتکړۍ يې راباندې نورې هم مضبوطې کړې، چې کله هغه له ما او زه له هغه څخه روان شوم بيا اتکړۍ وغورځېدې، خپل علماء يې راوغوښتل، هغوی له ما څخه وپوښتل: مور دې ژوندۍ ده؟ ما ورته وويل: هو. هغوی وويل: د مور دعا دې قبوله شوېده.

بيا يې راته وويل: چې الله دې رها کوي مونږ دې نه شو بندي کولی، د لارې توښه يې هم راکړه او کور ته يې راواستولم[1].

(١) صفة الصفوة: (٣/٢٤٥).



## په ښه ملګرتوب کې د سلفو صالحينو د کردار نمونې

خطيب وايي ما ته عمر بن ابراهيم او ابو محمد الخلال، هغوی ته اسمعيل بن محمد بن اسمعيل الکاتب، هغه ته احمد بن الحسن المقرئ، هغه ته عبدالله بن احمد الدّورقي، هغه ته محمد، هغه ته خپل پلار علي بن الحسن بن شقيق ويلي و چې کله به د حج مياشتې راغلې د (مَرْوَ) خلک به عبدالله بن مبارک ته راغونډ شول چې مونږ حج ته ستا په ملتياکې ځوو، هغه به ورته وويل: د حج لپاره تيارې کړې نفقې (خرچه) راوړئ او ما ته يې وسپارئ، له ټولو څخه به يې نفقې واخستې په صندوق کې به يې سمبال او قلف به يې ورته ولګو، له مرو څخه تر بغداد پورې به يې ورله سورلۍ په کرايه واخسته، او تر بغداده پورې به يې پرې خرچه نفقه کوله، خوندور خواړه او حلواګانې به يې پرې خوړې، بيا به يې له بغداد څخه په ښايسته ډولې کاليو کې وويستل تر دې چې مدينې ته به ورسېدل، هر ملګري ته به يې وويل: بچو مو درڅخه څه غوښتي دي چې له مدينې څخه يې ورته يوسئ؟ هغوی به وويل: دا او دا... هر چا له به يې فرمائشي شيان واخستل او بيا به يې مکې ته بوتلل، د حج د مراسمو له ادا وروسته به يې هر يو ته وويل: بچو درته څه ويلي دي چې له مکې څخه ورله څه واخلئ؟ هغوی به وويل: دا او دا.... هر چا له به يې د مکې فرمايشي شيان ويلورل، بيا به يې له مکې څخه وويستل او تر مرو پورې به يې پرې خرچه نفقه کوله، مرو ته په رسېدو به يې د هغوی کورونه او دروازې په چونه سپينې کړې او درې ورځې وروسته به يې ټول راغونډ او خوراک به يې ورله تيار کړ، او هر چا ته به يې نوي پوښاکونه ورکړل، له خوراک څښاک او خوشحاليو وروسته به يې هغه صندق بېرته کړ چې د دوی ورکړې نفقات به يې پکې ايښې وو، هر يو ته به يې د خپلې نفقې کڅوړه چې نوم به يې پرې ليکلی و بېرته ورکړه[1].

(۱) سير أعلام النبلاء: (۸/۳۸۵ – ۳۸۶).

زید د خپل پلار اسلم[۱] څخه روایت کوي چې ابن عمر رضي الله عنهما راته یوه ورځ وویل: ابو خالده! امیرالمؤمنین ولې ستا سره ډېر زیات یو ځای کیږي او ستا پرته سفر هم نه کوي، لږ د هغه په حالاتو مې خبر کړه! ما ورته وویل: د نورو خلکو پرته ځان لپاره سیورې هم غوره نه ګڼي، د سفر په مهال به یې زمونږ او د ځان لپاره پخپله ټولې سورلۍ چمتو کولې، یوه ورځ یې زمونږ سورلۍ چمتو کړې وې او خپله سورلۍ یې تیاروله او دا شعرونه یې ویل:

| | |
|---|---|
| لاَ يَاخُذُ اللَّيْلُ عَلَيْكَ بِالْهَمْ | وَالبَسَنْ لَهُ الْقَمِيْصَ وَ اعْتَمْ |
| وَكُنْ شَرِيْكَ نَافِعْ وَ اسَلَمْ | وَاخْدُمِ الْقَوْمَ حَتّي تُخْدَمْ |

شپه په غم او تکلیف کې مه تېروه، قمیص او پټکی ورته ووهه او په کار یې تېره کړه.

د نافع او اسلم سره ملګرتیا پاله، که غواړې ستا خدمت وشي نو د نورو خدمتونه کوه.

مصعب بن احمد بن مصعب وايي: ابو محمد المروزي بغداد ته راغی او د مکې په لور روان و، ما غوښتل چې زه یې هم په سفر کې ملتیا وکړم، اجازه مې ترې وغوښته خو په دغه کال یې راته اجازت رانه کړ، په دوهم او دریم کال کې ورته بیا راغلم اجازه مې ورڅخه وغوښته راته یې وویل: ما سره به د سفر ملګرتیا کوې خو په دې شرط چې یو به د لارې امیر وي او دوهم به یې هېڅ مخالفت نه کوي.

ما ورته وویل: بس ته مې امیر یې، هغه وویل: نا بلکې ته امیر شه، ما ورته وویل: ته راڅخه په عمر کې مشر یې باید امیر هم ته شې، هغه وویل: سمه ده خو مخالفت به مې نه کوې.

ما ورته وویل: تیار یم. دواړه سره ووتو، ښه خواړه به یې ما ته راکول، چې ما به ورسره لږ تیل مټول وکړ راته به یې ویل: ما درباندې شرط نه و لګولی چې مخالفت به نه کوې؟

(۱) اسلم د عمر رضي الله عنه غلام و، او ابوخالد یې اسم کنیه وه.
(۲) سیر أعلام النبلاء: (۹۹/٤). زه وایم: په عمر بن الخطاب رضي الله عنه دې الله پاک ډېر رحم وکړي چې د انډیوالانو په خدمت یې بسنه نه ده کړې، بلکې د غلامانو خدمت به یې هم کو، سره له دې چې غلامان خلک په سفر کې د خدمت لپاره کاروي.

زما او د هغه تر اخره پورې دغه چلند و، زما لپاره به یې ځان دومره تکلیفو چې زه ورسره په ملګرتوب پښېمانه شوم چې ولې ورسره راتلم.

په لاره کې باران ونیولو راته یې وویل: نزدې نښې ته ځان ورسوه[١]، د رسېدو سره سم یې راته وویل د کمرې (تیګې) په یخ کې کینه، هغه له ځان څخه څادر راتاو کړ او په ما باندې له بره سیورى شو، بیا مې ارمان وکړ چې کاشکې ورسره نه وى راغلى چې زما له کبله دومره په تکلیف شو، الله دې پرې ورحمیږي تر مکې پورې د هغه ما سره دغه چلند و[٢].

بلال بن سعد له یو سړي څخه روایت کوي چې عبدالله بن عامر التمیمي یې په روم کې ولید چې په قچره به خپله او مهاجرین سره په وار وار سپرېدل، چې کله به غزا ته تلو د ځان لپاره به یې د دوستانو انتخاب کو، له انتخاب وروسته به یې پرې شرط ولګو چې زه به یې خدمت هم کوم، اذان به هم کوم، او خپل شتمني به پرې هم خرچه کوم[٣].

(١) دا نښې به د « میل » په نوم د مسافرو لپاره د لارې نښې کېښودلى شوې تر څو لاره خطا نه کړي او په ځانګړې توګه د مکې په لارو کې، یوه نښه به له بلې څخه د سترګو د دید په اندازه لرې وه.
(٢) صفة الصفوة: (١٤٨/٤ – ١٤٩).
(٣) سیر أعلام النبلاء: (١٧/٤).



# د خلکو حقونه او د سلفو ذمه واري

واقدي وايي: ما ته ابوبکر بن ابي سَبْرَة، هغه ته عبدالمجيد بن سُهيل، هغه ته عوف بن الحارث ويلي و چې ما له عائشې رضي الله عنها نه واورېدل: کله چې ام حبيبة وفات کېده زه يې وغوښتم او راته يې وويل: د بنتوب له نګاه نه چې زما او ستا ترمنځ هر څه و، الله دې ما او تا ته ښښنه وکړي، ما ورته وويل: الله دې درته ښښنه وکړې او الله دې ورڅخه پاکه او صفا کړه، هغې وويل: الله دې خوشحاله کړه چې زه دې دومره خوشحاله کړم، بيا يې ام سلمة پسې استازي ولېږدو هغه ته يې هم دغسې وويل[١].

ليث بن سعد او نور وايي: يو سړي عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ته ليک واستو چې ټول علم راته وليکه، هغه ورته وويل: علم ډېر زيات دی خو که کولی شې چې د الله سره په داسې حالت کې ملاقات وکړې چې شا دې د مسلمانانو له وينو څخه سپکه وي، د هغوی له شتمنيو څخه دې خېټه خالي وي، د هغوی له عزت او ابرو دې ژبه خوندي وي، او د مسلمانانو سره هېڅ مخالفت ونه لرې نو دغه وکړه[٢].

عمر بن ذر وايي: ما ته عطاء بن ابي رباح، هغه ته د عمر بن عبدالعزيز بي بي فاطمې ويلي و چې يوه ورځ عمر بن عبدالعزيز ته ورغلم پخپل لمونځ ځای کې ناست و، لاس يې په مخ ايښی او اوښکې يې روانې وې، ما ورته وويل: امير المؤمنين! څه چل شوی دی؟ هغه راته وويل: ای فاطمې! د محمد صلى الله عليه وسلم د ټول امت ذمه واري مې په غاړه اخستې ده، اوس د وږي حال ته، د بې پوښتنې ناجوړه حال ته، هغو خلکو ته چې په تن لوڅ دي، هغه مظلوم ته چې د استبداد له لارې چا د ځان تابع کړی وي، هغو مسافرو ته چې خلکو يا خپلو حاجتونو حصار کړي وي، د ځمکې په ګوټ ګوټ کې د ډېر عمر او د ډېر اولاد خلکو ته سوچ يوړم چې الله رب العلمين به يې رانه پوښتنه کوي، او نبي کريم صلى الله عليه وسلم به هم راسره په دې

(١) سير أعلام النبلاء: (٢/٢٢٣).
(٢) سير أعلام النبلاء: (٣/٢٢٢).

خبرې اترې کوي، ويره راسره پېدا شوه چې کېداى شي په دلائلو ثابت و نه شم درېدلاى، په ځان ورحمېدم او په ژړا شوم[1].

موسي بن عقبة وايي: عياض بن غنم چې کله ګورنر وګمارل شو، کورني غړي يې راغلل او د خپلولۍ پاللو غوښتنه يې وکړه ه، هغه ورسره په ډېره مينه او خوشحالۍ مخامخ شو، عزت او اکرام يې ورله وکړ، څه ورځې وروسته يې ورته ياده کړه چې د ستونزو سره مخ دي او د خپلولۍ پاللو امېد لري.

راغلي کورني غړي پنځه نفره وو، هر يو ته يې لس لس ديناره ورکړل، دوى ورڅخه ناراضه شول او بېرته يې لس لس ديناره ورکړل، بدې خبرې يې هم ورپسې وکړې، هغه ورته وويل: اى کاکا زامنو! ستاسو د خپلولۍ، حقوقو او له مشقت برداشت څخه انکار نه کوم، خو تاسو ته چې ما څه درکړل دا مې خپل غلام او نور هغه شيان که څه هم زه ورته اړين وم خو ما خرڅ کړل او تاسو ته مې دغه څه درکړل، نور ما معذور وګڼئ.

هغوى ورته وويل: کله دې هم معذور نه بولو، د پوره نيم شام والي يې، او خپلو خپلوانو ته دومره څه نه شې ورکولى چې کور ته پرې ورسيږې؟

هغه ورته وويل: تاسو څه وايئ چې د الله څخه مال غلا کړم؟ لوړه په رب لايزال چې که په منځ اره او دوه پرقه شم، له دې څخه راته غوره دي چې يوه انه غلام کړم او يا له حد څخه تجاوز وکړم.

هغوى ورته وويل: ته مو پخپلې شتمنۍ کې معذور وګڼلې خو دومره وکړه چې مونږ هم په کارونه وګماره تر څو د خلکو په څېر مسؤليتونه ادا کړو، او د هغوى په څېر راته ګټه هم ورسيږي، نور تا ته ښه معلوم يو چې د ظلم او استبداد اراده نه لرو، هغه ورته وويل: په خير ښيګړې ډېر ښه پوهيږم چونکه تاسو زما رشته دار ياست که عمر ﷺ ته خبر روسيږي چې خپلوان يې په دندو ګمارلي دي شايد ډېر مې ورتې، خلکو ورته وويل: ابوعبيده چې ته په دنده وګمارلې نو ته د هغه رشته دار نه وې؟ او عمر ترې ښه خبر دى او ورسره يې ته منلى يې؟ خو که ته مونږ په دندو وګمارې شايد درسره يې ومني. هغه ورته وويل: زه عمر ته د ابوعبيده په

(١) سير أعلام النبلاء: (١٣١/٥ – ١٣٢).

ځير رتبه او مكانت نه لرم. خپل خپلوان ترې په داسې حالت كې ولاړ چې ترې نا رضا وو[١].

سليمان التيمي روايت كوي چې احنف وايي: تاسو ته زه خپل درې خويونه د پند لپاره دياد وړ بولم: له بلنې پرته كله هم د شاهانو دركاونو ته نه يم تللى، چې دوو كسانو خپله نه يم شريک کړی كله يې هم په خبرو كې نه يم ورننوتى، او چې د مجلس څخه مې ناست څوک لاړ شي ما كله هم په بد صفت نه دي ياد كړي[٢].

احنف وايي: ما سره چې څوک جنګ جګړه كوي زه په دريو كارونو عمل كوم: كه رتبه كې راڅخه لوی وي زه يې مزيد عزت هم وكړم، كه رتبه كې راڅخه لاندې وي، نو د ځان قدر وكړم هېڅ ورته نه وايم، او كه په رتبه كې راسره يو ځير وي پېرزو پرې وكړم هېڅ هم ورته نه وايم.

بيا وايي: زه صبرناک نه يم، خو په زوره صبر كوم[٣].

اصمعي وايي: ما ته معتمر بن حيّان، هغه ته هشام بن عقبة د ذي الرمة ورور ويلي و چې احنف بن قيس مې وليد چې د يو قوم مړي په پيښه كې يې منځګړتوب كو، د پېښې اړوند يې د خپلو خبرو په ترڅ كې وويل: پرېكړه تاسو پخپله وكړئ. هغوی وويل: مونږ دوه ديتونه غواړو، هغه ورته وويل: چې ستاسو خوښه وي ډېره ښه ده. خلک خاموش شول، بيا ورته هغه وويل: تاسو چې څه غواړئ زه يې دركوم خو د الله پاک پرېكړه يو ديت دی دوه ديتونه نه دي، نبي ﷺ هم په يو ديت فيصله كړېده، او تر اوسمهال عرب هم يو ديت وركوي او هم يې اخلي، كه نن تاسو دوه ديتونه غواړئ سبا به له تاسو څخه دوه ديتونه واخستل شي، سره له دې چې په دې كار خلک هم نه دي خوشحاله، هغوی ورته وويل: سمه ده يو ديت راكړه[٤].

---

(١) صفة الصفوة: (١/٦٦٩ - ٦٧٠).

(٢) سير أعلام النبلاء: (٤/٩٢).

(٣) سير أعلام النبلاء: (٤/٩٢).

(٤) سير أعلام النبلاء: (٤/٩٣).



# د خلکو له تېروتنو څخه د سلفو صالحينو پټ سترګي

عقيل وايي ما ته معمر، هغه ته زهري، هغه ته عروة ويلي و چې مسور بن مخرمة معاويه ﷺ ته ولاړ، هغه ورله غوښتنې پوره کړې او بيا يې څانته کړ، ورته يې وويل: اى مسوره! ته ولې په امامانو باندې بد وايې؟

مسور: د احسان له مخې دغې خبرو نه تېر شه.

معاوية: نا، لوړه په رب لايزال چې ته په ما کوم تورونه لګوې هرومرو به يې راته راڅرګندوې.

مسور وايي: ما چې پرې کوم تورونه لګولي وو ټول مې ورته وويل.

معاوية: زه له ګناهونو څخه ځان پاک نه بولم خو مسوره! مونږ چې د عامې خېر ښېګړې څومره کارونه کوو، کوم يو دې په ياد دی او کنه؟ سره له دې چې حسنات يو په لسه حسابيږي، د خفګان مقام دی چې ګناهونه مې په ياد لرې خو ولې له ښېګړو څخه مې سترګې پټوې؟

مسور: ما ته يواځې ستا دګناهونه پته ده.

معاوية: مونږ خو پخپلو هغې ګناهونو چې مونږ کړيدي الله تعالی ته پرې اعتراف کوو، خو مسوره! ته داسې ګناه لرې که درته و نه ښښل شي د هلاکت سبب دې ګرځي؟

مسور: هو ولې نه.

معاوية: ته په ما څه بهترې لرې چې ته د ګناه د بخښش امېد ساتې او زه يې دې نه ساتم؟ لوړه په رب لايزال چې ته به دومره د خېر کارونه نه کوې لکه زه چې يې کوم، او زما دې په الله قسم وي چې کله هم د الله پاک او د بل چا د رضا دوه کارونه مې مخې ته راغلي دي، نور مې پرېښي دي او د الله کار مې ځان له غوره کړی دی، او زه د داسې دين معتقد يم چې هم پکې نېک عملونه قبليږي اوهم

پکې پر نېکو عملونو بنې بدلې ورکول کيږي، که څه هم پکې د ګناه بدله ورکول کيږي خو الله پاک پکې د خپلې مرضۍ له مخې ګڼ شمېر خلکو ته ببښنې هم کوي.

مسور وايي: په دليلونو يې راڅخه جنګ وګټو. عروة وايي: د مسور په شتون کې چې به کله هم معاوية رضي الله عنه ياد شو هغه به ورته دعا کوله[1].

۞ ميمون بن مهران وايي: له ابن عباس څخه مې واورېدل: ما پسې چې کله هم مسلمان ورور بدې خبرې کړې وي مګر زه ورته په دريو کې په يوه درجه ګورم: که راڅخه مشر وي قدر او احترام يې کوم، که همزولي مې وي په ببښنه يې ونازوم، او که راڅخه کشر وي د بدو خبرو يې پروا نه ساتم، دغه مې اخلاق دي که د چا بدي شم د الله څمکه پراښه ده[2].

۞ حُميد الطويل له ابو قلابة څخه روايت کوي چې کله درته د خپل ورور څېنې بد درورسېدل په يوه طريقه يې معذور ګڼه، که هېڅ عذر دې ورله پيدا نه کړ له ځان سره دومره ووايه چې هغه شايد داسې عذر ولري چې ما ته يې معلومات نه وي[3].

۞ رجاء بن حيوة وايي: د هغه چا دوستان کم وي چې بې عيبه ورونه غواړي، که څوک هميشه لپاره د ملګري نه اخلاص غواړي د تل لپاره به خپه وي، څوک چې خپل ورونه په هرې ګناه رټي دښمنان به يې زيات شي[4].

۞ ابو يعقوب المدني وايي: د حسن بن حسن او د علي بن الحُسين تر منځ لږه خوا بدي منځ ته راغله، حسن بن حسن علي بن الحسين ته راغی او هغه له ملګرو سره په مسجد کې ناست و، سمې خبرې يې ورته وکړې، خو علي خاموش او غلی ناست و، حسن له مجلس څخه ولاړ د شپې له مخې ورته علي کور ته راغی او دروازه يې وټکوله، حسن ورته راووت، علي ورته وويل: ورور جانه! که ته پخپلو خبرو کې رښتني يې الله پاک دې ما وبښي، او که دروغجن يې الله دې درته بخشش وکړي،

(١) سير أعلام النبلاء: (١٥٠/٣ - ١٥١).
(٢) صفة الصفوة: (٧٥٤/١).
(٣) صفة الصفوة: (٢٣٨/٣).
(٤) سير أعلام النبلاء: (٥٥٨/٤).

السلام عليكم... او بېرته ترې راستون شو، حسن ورپسې شاته راروان وو او ژړل يې، او ورته يې وويل: له دېنه وروسته به ستا مخالفت نه كوم، علي ورته وويل: تا چې ما ته څه ويلي دي ټول مې درته بښلي دي[1].

۞ د سفيان بن عيينة نه روايت دى چې سعيد بن المسيب ويلي دي: دنيا حقيره ده او هر حقير ته ميلان لري، او هغه څوک ډېر غټ بې وقوف دى چې له حق جوړېدو پرته دنيا واخلي، يا د ناروا لارې څخه يې لاس ته راوړي، او په وړ ځاى كې يې استعمال نه كړي[2].

۞ د قتادة بن دعامة السدوسي په ترجمه كې امام ذهبي وايي: په كوم ځاى كې چې سماع ثابته شي د علماوو په اجماع حجت دى خو په تدليس مشهور دى، په عقيده كې قدري و، الله دې د ټولو سالمه ساتنه وكړي، خو د دې باوجود په رښتنولۍ، عدالت، حفظ كې يې هېڅ شک او شبهه لري، دا او د دې په څېر هغه علماء چې د الله د رضا او تنزيه په خاطر ترې بدعتونه شوي دي معذور وګڼۀ، الله پاک يځپلو بندګانو ډېر رحم او مهرباني كونكى دى، د الله پاک څخه څوک د ولې پوښتنه نه شي كولى، او بيا د علم او معرفت داسې هستې چې نيكي يې هم ډېره وي، دحق لټونوال وي، د پراخه علم څښتن وي، ذكاوت يې هر چا ته معلوم وي، زهد او پرهيزګاري يې له چا څخه پټه نه وي، نژدې ده چې ګناهونه يې معاف شي خو مونږ يې ګمراه او بې لارې نه بولو، او نه يې محاسن هيره وو، دومره ده چې په تيروتنو او بدعتونو كې يې پېروي نه كوو، اميد ساتو چې توبه به يې ويستلي وي[3].

۞ علي بن المديني وايي ما له سفيان ثوري څخه واورېدل چې ابن عياش المَنْتَوف به عمر بن ذر ته ډېرې ردې بدې او سپكې سپورې ويلې، يوه ورځ ورسره عمر مخامخ شو او ورته يې وويل: دومره ډېرې ستغې سپورې مه وايه د جوړ جارې لپاره هم ځاى پرېږده، زمونږ له كبله چې څوک د الله عصيان كوي دومره ورسره اوږه نه وړو لكه څومره چې مونږ د الله د رضا لپاره د هغه خبره منو[4].

(١) صفة الصفوة: (٢/٩٤).
(٢) صفة الصفوة: (٢/٨١).
(٣) سير أعلام النبلاء: (٥/٢٧١).
(٤) سير أعلام النبلاء: (٦/٣٨٨ – ٣٨٩).

۞ عبدان بن عثمان د عبدالله بن مبارک نه روايت کوي هغه وايي: د انسان په بدو کارونو چې کله نيک کارونه ډېر وي بايد بد کارونه يې خلک ياد نه کړي، او که بد کارونه يې له ښو څخه زيات وي نو محاسن دې ورله څوک نه يادوي[١].

۞ يونس صَدَفي وايي: له شافعي څخه مې څوک هوښيار و نه ليد، يوه ورځ مې ورسره په مسله کې مناظره راغله او بيا سره جلاجلا شول، وروسته راسره بيا مخامخ شو او له لاس څخه يې ونيولم، راته يې وويل: ايا ښه نه ده چې ورونه ورونه شو، اګر که په مسله کې سره اختلاف هم ولرو؟[٢]

۞ يونس بن عبدالاعلى وايي: ما ته شافعي وويل: يونسه! که له کوم دوست څخه درته بد درورسيږي په چټکه ورسره دوستانه مه پرېږده او مه ورسره دښمني کوه ورنه يقين به دې په شک بدل کړي، نا بلکې ليدل کتل ورسره کوه او ورته ووايه: ستا له لورې راته داسې بدې خبرې راورسېدې، خو پام چې د چا نوم ورته وانه اخلې، که هغه انکار وکړ چې ما نه دي ويلي، ډېرې خبرې نه بلکې دومره ورته ووايه: ته له هغه څخه رښتوني يې، او که اعتراف يې وکړ چې ما ويلي دي او عذر يې درته وړاندې کړ نو عذر يې قبول کړه، او که عذر دې نه قبلو دومره ورته ووايه: زما اړوند ستا موخه څه وه؟ که څه عذر يې درته وړاندې کړ نو عذر ترې قبول کړه، او که د عذر بله کوم لاره تا هم ونه ليده، ووايه چې دامې د ملګري تېروتنه ده، بيا دې خپله خوښه ده که له تجاوز پرته ترې بدله اخلې او که عفوه او بخشش ورته کوې، خو بخشش کول تقوا ته ډېر نزدې دي، الله پاک فرمايي: ﴿وَجَزَٰٓؤُاْ سَيِّئَةٖ سَيِّئَةٞ مِّثۡلُهَاۖ فَمَنۡ عَفَا وَأَصۡلَحَ فَأَجۡرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِۚ﴾ [سورت شورى: ٤٠]

ژباړه: د بدی بدله بدي ده، خو که څوک درګزري او بخشش چا ته وکړي نو نيکه بدله يې په الله ده.

خو که نفس دې ترې د بدلې خواهش درلود ځان ته د ملګري مخکني احسانات رایاد کړه، او د دې بدو په بدله کې ورسره په بخشش احسان وکړه، پر يوې بدی يې تېرې ټولې نېکی مه هېروه ځکه دېته ظلم ويل کيږي.

---

(١) سير أعلام النبلاء: (٨/٣٩٨).
(٢) سير أعلام النبلاء: (١٠/١٦).

ای یونسه! ملګری دې له لاسه کلک ونیسه، د ملګري پیدا کول ګران او پرېښودل يې اسان دي[1].

د اندلس باچا الناصر لدين الله په ترجمه کې امام ذهبي وايي: د هغه ترجمه مې ورله د په نيکه په بحث کې ذکر کړېده خو د ځينو فايدو په خاطر يې تکراروم چې په جهاد کې مشرتابه کله هم لوړ موراله وي، د ستونزو مشکلاتو سره مخامخ کيږي، خو اجر او ثواب به ورته الله پاک ورکوي، خو دا چې مشر تابه د جهاد نوم مړ کړي، په خلکو د استبداد لړي پيل کړي، خزانې بربادې کړي، ډېر زر به يې الله پاک ونيسي[2].

ابوالربيع محمد بن الفضل بلخي د ابوبکر محمد بن مَهرَوَيْه الرازي نه، هغه يې د علي بن الحسين بن الجُنيد نه، هغه يې د يحيې بن معين نه روايت کوي چې: مونږ په داسې خلکو تورونه لګوو چې کېداي شي چې له دوه سوه کلنو څخه هم زيات هغوی په جنت کې په خپلو بنګلو کې وي.

ذهبي وايي: زه وايم: شايد سل کاله به يې ياد کړي وي ځکه چې د يحيی په دور حيات کې دوه سوه کاله نه و تېر شوي.

ابن مهرويه وايي: د عبدالرحمن بن ابي حاتم خوا ته ورغلم او هغه خلکو ته د «الجرح والتعديل» کتاب لوستو، ما ورته دا حکايه واوروله ويې ژړل او لاسونه يې په رپېدو شول، کتاب هم ورڅخه ولويد، ژړا يې مسلسله شوه، او د بيا تکرار مطالبه به يې راڅخه کوله.

ذهبي وايي: زه وايم: هغه له عاقبت څخه ويره احساسوله، ورنه په کمزورو راويانو کې د ناقد نيوکه د اسلامي دين بشپړه خير خواهي او سنت څخه پوره دفاع ده[3].

د محمد بن احمد بن يحيې العثماني په ترجمه کې امام ذهبي وايي: د معتزله، شيعګانو، حنابله و، اشاعره، مرجئه، جهميه او د کراميه په غلاتو او انتها پسندو دنيا ډکه ده، په دوی کې علماء، عابدان او ډېر ځيرکه خلک وو، د موحدينو لپاره

(١) صفة الصفوة: (٢/٢٥٢ - ٢٥٣).
(٢) سير أعلام النبلاء: (١٥/٥٦٤).
(٣) سير أعلام النبلاء: (١٣/٢٦٨).

د الله پاک څخه د مغفرت او بخشش سوال کوو، او بدعتونو او هواپرستۍ يې څخه د الله پاک پورې پناه غواړو، د اهل السنت سره مو مينه او محبت دی، د عالم سره هم د هغه د ښو صفتونو او اسلامي پيروکارۍ له کبله مينه او محبت لرو، د تاويل له مخې يې بدعت نه خوښوو، خو بيا هم ډېر محاسن يې د باور وړ دي[1].

(۱) سير أعلام النبلاء: (۲۰/۴۵ – ۴۶).

# سلف صالحين او د علماوو د ادب خيال ساتل

ابو وائل وايي: عبدالله بن مسعود رضي الله عنه يو سړی وليد چې پېنځې يې خپو کې لاندې راښکلې، ورته يې وويل: پرتوګ دې پورته کړه، هغه ورته وويل: ته دې هم پرتوګ پورته کړه، عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ورته وويل: زه د خلکو امامتي کوم او خپې مې ډېرې نرۍ دي.

دا خبرې عمر رضي الله عنه ته ورسېدې، سړی يې راوغوښت او ورته يې وويل: ايا ته د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه خبره نه منې؟[1]

محمدبن عمرو دابوسلمة څخه روايت کوي چې عبدالله بن عباس رضي الله عنه زيد بن ثابت رضي الله عنه ته وپاڅېد او د سورلۍ واګې يې ورله ونيولې، هغه ورته وويل: ای د رسول چچازاده! غاړې ته شه، هغه ورته وويل: مونږ د علماوو او مشرانو ادب داسې کوو[2].

ابراهيم بن اسحاق الحربي وايي: عطاء بن ابي رباح له رنګ څخه تور او په مکه کې د ښځې غلام و، پوزه يې هم د لوبيا (کلول) په څېر وه، د حج په موسم کې سليمان بن عبدالملک له دوو زامنو سره راغی او ورته کښېناستل، چې کله له لمونځ څخه وزګار شو مخ يې ورته واړو او د حج متعلق ټولې پوښتنې يې ورله ځواب کړې، سليمان بن عبدالملک خپلو بچو ته وويل: پاڅئ. بيا يې ورته وويل: د علم په زده کړه کې مه ستومانه کېږئ، تاسو وليدل چې شاهان علماوو ته څومره ذليله دي؟ د دې تور غلام تر مخې به مې خپل دا ذلت هير نه شي[3].

عمر بن مدرک د قاسم بن عبدالرحمن نه، هغه د اشعث بن شعبة مصيصي نه روايي کوي چې رشيد (رقې) ته راغی، عبدالله بن مبارک ته خلک راغونډ شول، د

(١) سير أعلام النبلاء: (٤٩١/١ – ٤٩٢).
(٢) سير أعلام النبلاء: (٤٣٧/٢).
(٣) صفة الصفوة: (٢١٢/٢).

ګڼې ګونې له کبله ګرد غبار پورته شو، د لرګيو څخه جوړ قصر نه د هارون الرشيد يوه وينځه چې بچی يې ترې هم پيدا شوی و، راښکاره شوه ويې پوښتل چې دا ګڼه ګونه د څه شي ده؟ چا ورته وويل: له خراسان څخه عبدالله بن مبارک په نوم لوی عالم راغلی دی، هغې وويل: دې ته باچاهي ويل کيږي، د هارون څه باچاهي ده چې پوليس ورته خلک په جبر زوره راولي[1].

رُسْتَه وايي: ما د عبدالرحمن بن مهدي څخه واوريدل: مخکي چې به څوک له ځان څخه د باندې عالم سره مخ شول ورځ به يې غنيمت ګڼله، او که په علم کې به ورسره مساوي و، نو ورسره مذاکره به يې کوله او مزيد څه به يې ترې ياد کړل، او که علمي درجه کې به ترې څوک کم و، تواضع به يې ورسره کوله او علم به يې ورته ښوده، هغه څوک امام نه دی چې يواځې په خپلو مسموعاتو بسنه کوي، او نه هغه څوک امام دی چې يواځې له هر چا څخه روايت کوي، او نه هغه څوک امام بللی شي چې شاذ روايتونه لري، او يا صرف هر څه يادوي[2].

د ابراهيم الحربي متعلق ابن بشکوال وايي: د ابن عتّاب له کتاب څخه مي نقل کړي چې ابراهيم ډېر نيک، صالح او عالم انسان و، خبر شو چې ځينې خلک يې د احمد بن حنبل څخه غوره ګڼي، د هغه خلکو څخه يې پوښتنه وکړه چې په تفضيل يې قايل وو نو هغوی اقرار وکړ، ورته يې وويل: تاسو له ما سره ډېر ظلم وکړ چې په داسې سړي مو غوره کړم چې زه ورسره بيخي ورته والی نه لرم، په هيڅ حالت کې هم هغه ته نه شم رسيدی، لوړه په رب لايزال چې له دې وروسته به درته هيڅ علم ونه ښايم، چې له نن وروسته ما ته نور رانه شئ[3].

---

(۱) سير أعلام النبلاء: (۸/۳۸٤).
(۲) سير أعلام النبلاء: (۲۰/٤٥ – ٤٦).
(۳) سير أعلام النبلاء: (۱۳/۳٦٤).

# سلف صالحین او د خبرو ادبونه

میمون بن مهران وايي: یو چا سلمان فارسي رضي الله عنه ته وویل: ما ته وصیت وکړه، هغه ورته وویل: ډېرې خبرې مه کوه، هغه ورته وویل: څوک چې له خلکو سره ژوند کوي له خلکو سره یې خبرې نه کول ناشوني دي، هغه وویل: که هرومرو خبرې کوې نو حق خبرې وایه او یا هم خاموش کېنه. سړي وویل: لږ نصیحت راته نور وکړه. هغه ورته وویل: غصه مه کوه. سړي ورته وویل: غصه مې په قابو کې نه شم راوستلی. هغه ورته وویل: که غصه کوې نو لاس او ژبه دې قابو کړه. سړي ورته وویل: لږ نصیحت راته نور هم وکړه. هغه ورته وویل: د خلکو ناستې پاستې نه ډډه وکړه. سړي ورته وویل: چې له خلکو سره مې ژوند دی څنګه به ورسره راشه درشه پرېږدم؟ هغه ورته وویل: که هرومرو ورسره کېنې رښتیا خبرې به کوې او امانت به وړ سړي ته سپارې[1].

معاذ بن سعید وايي: له عطاء بن ابي رباح سره په مجلس کې ناست وو، یو سړي خبرې کولې بل پکې راودانګلې، عطاء وویل: سبحان الله! دا کوم اخلاق دي؟ دا څه ډول عادت دی؟ زه په ځېنو وختونو کې د یو چا خبرې ته دومره ځیر یم چې هغه په دې ویوهوم چې ما ته یې معلومات نشته او له هغه نه راته ښه پته وي[2].

عثمان بن اسود وايي: ما عطاء ته وویل: که څوک پر یو مجلس تېر شي او خلک ورپسې خبرې وکړي، ایا په دې خبرو یې خبرولی شي؟ هغه وویل: نا، د مجلس خبرې امانت دي[3].

خلف بن تمیم وايي: ما ته عبدالله بن محمد د اوزاعي نه روایت کړل چې مونږ ته عمر بن عبدالعزیز لیک راواستو خو زما او مکحول پرته نور هېڅ چا ته نه و یاد، پکې لیکلي يې و: اما بعد: څوک چې ځان ته مرګ ډېر یادوي په لږه دنیا به

(۱) صفة الصفوة: (۱/۵٤۹).
(۲) صفة الصفوة: (۲/۲۱٤).
(۳) صفة الصفوة (۲/۲۱٤).

خوشحاله شي، او څوک چې خپلې خبرې په ځان ليکل شوي عملونه بولي نو له خير پرته نور څه نه وايي. والسلام[١].

۞ يعلي بن عبيد وايي: مونږ محمد بن سوقه ته ولاړو، هغه راته وويل: ما ته يوې خبرې ډېره ګټه رارسولې ده تاسو ته يې هم کوم: ما ته عطاء بن ابي رباح وويل: زما وراره! د مخکنو خلکو به بې ځايه خبرې کول ډېر بدي شول، د قرانکريم له تلاوت، په ښو کارونو امر او له بدو څخه منعه، يا الله پاک ته خپل د ژوند مشکلات وړاندې کولو پرته به هغوی ته د خبرو وخت په لاس نه ورتو، ايا له دې څخه منکر ياست چې تاسو سره معززې د ليک والا دوه ملائک نشته؟ يو ښې طرف او بل کيڼ اړخ ته او د انسان هر قول او عمل ليکي، په تاسو کې چا ته شرم نه ودرېږي چې ټول ورځ په خپله عمل نامه کې له دين او د دنيا د زندګۍ اړينو شيانو پرته بېهوده او فضول نور شيان ليکي؟[٢]

۞ فيض بن وثيق وايي له فضيل څخه مې واورېدل: له ځان څخه محدّث، قارئ، او متکلم مه جوړوه، که بلاغت ولرې، خلک به وايي: ډېر بليغ دی، خوندورې خبرې کوي، مزه ناک اواز لري، دا خبرې به دې په ځان خوښۍ کې راولي او وبه پړسيږې، که په خبرو کې دې بلاغت، مزه او خوند نه وي، خلک به درپسې خبرې کوي چې ښه ادا نه شي کولی، اواز کې يې خوند نشته، داسې خبرې به دې خفه کوي او رياء کار به درنه جوړ کړي، او که هسې دې خبرې شروع کړې او د چا ښو او بدو پروا دې ونه کړه بيا خبرې کوه پروا نشته[٣].

۞ له فضيل بن عياض څخه وپوښتل شول: زهد څه ته وايي؟ هغه وويل: قناعت ته.

پوښتنه ورڅخه وشوه چې وَرَع څه ته وايي؟ هغه وويل: له حرامو څخه ځان ژغورلو ته.

پوښتنه ورڅخه وشوه: عبادت څه ته وايي؟ هغه وويل: د فرائضو ادا کولو ته.

پوښتنه ورڅخه وشوه: تواضع څه ته وايي؟ هغه وويل: د حق منلو ته.

---

(١) سير أعلام النبلاء: (١٣٣/٥).
(٢) صفة الصفوة: (٢١٣/٢).
(٣) سير أعلام النبلاء: (٤٣٣/٨).

بيا يې وويل: ګرانه وَرَع د ژبې ورع ده.

امام ذهبي وايي: فضيل بن عياض دغسې هستې وه، انسان هله حلال خور وي چې په خوراک، څښاک، پوښاک، راشه درشه، که چا خبرې کولې او ښوک پرې راغي نو يا خو کوښښ کوي چې پاتې هم رښتيا ووايي خو ويلې يې نه شي، او يا رښتيا ووايي خو زيار باسې چې په ښه فصاحت خبره وکړي ترڅو د فصاحت صفتونه يې وشي، ستر هدف يې دا وي چې تعظيم يې وشي، او يا د خبرو په ځای کې په دې خاطر خاموش شي چې خلک يې صفتونه وکړي، د دې ټول رنځونو علاج له خلکو څخه په ځانلوالي کې دی مګر دا چې په فرض لمونځ کې ورسره ګډون وکړي[١].

۞ احمد بن الحواري وايي: عبدالله انطاکي راته وويل چې فضيل بن عياض او ثوري سره يو ځای شول، دواړو خپل منځ مذاکره وکړه نو سفيان په ژړا شو، بيايې وويل: اميد دی چې دا غونډه مو له خيره ډکه وي. فضيل ورته وويل: ابو عبدالله! هسې نه دا غونډه مو په زيان تمامه نه شي. که وګورو ما او تا دواړو د غونډې په اخره کې ښې خبرې وکړې، ما ته هم ځان ښه او تا ته هم ځان ښه ښکاره شو، سفيان بيا په ژړا شو او ويويل: ايله دې ژوندی کړم، الله دې په ژوند کې خير او برکت واچوه[٢].

۞ ابوبکر بن عياش وايي: سلامتيا د خاموشۍ ښه فايده ده، د خاموشۍ همدومره خير بسنه کوي، د خبرو زيان شهرت دی، او د شهرت مصيبت د خبرو لپاره بس دی[٣].

۞ عباية بن کليب وايي چې له ابن السماک نه مې واورېدل: د دواړو ژامو ترمنځ درينده ځناور دې سمبال کړه چې هر ښوک دې مخې ته تيرېږي هغه يې خوري.

په کورونو کې نه بلکې په قبرونو کې ترې هم خلک په امان نه دي، په قبرونو کې په مړو څه څه نه تيرېږي او ته يې قبرونه راسپړې؟ په مسلمان ورور کې له خبرو څخه ځان د دريو خويونو له مخې قابو کړه:

(١) سير أعلام النبلاء: (٨/٤٣٤).
(٢) سير أعلام النبلاء: (٨/٤٣٩).
(٣) سير أعلام النبلاء: (٨/٥٠١).

❁ کېدای شي دغه بد صفت په تا کې هم وي، ستا په الله پاک څه ګومان دی چې کوم صفت په تا کې دی، خپل ځان نه او ورور پرې بد یادوې؟ الله ته به څه ځواب وایې؟

❁ ته چې دې ورور په کومو صفتونو یادوې کېدای شي له هغه نه په تا کې ډېر وي، دا خو الله پاک تا ته نور لا پسې غصه کوي.

❁ ته چې مسلمان ورور په کومو صفتونو یادوې ته به ترې الله بچ ساتلی یې، دا به د هغه نصیب وي چې هغه پرې اخته او ته ترې سالم یې، ایا ته نه دي اورېدلي چې [په ورور ورحمېږه او د الله ثنا ووایه چې ته یې روغ ساتلې یې][1].

❁ بکر بن منیر وایي: له امام بخاري څخه مې واورېدل: امېد لرم، که د الله سره مې ملاقات وشي په غیبت به راسره حساب و نه کړي.

امام ذهبي وایي: الله دې پرې رحم وکړي دروسته خبره یې کړېده، د جرح او تعدیل کلام ته که یې څوک لږ ځېر شي ورته به جوته شي چې د خلکو له مذمت نه یې ځان څنګه ژغورلی دی، په ډېره منصفانه توګه راوي کمزوری بولي، د راوي متعلق هغه زیاتره وایي: «منکر الحدیث، سکتوا عنه، فیه نظر» او دېته ورته نور کلمات.. په ډېرو لږو ځایونو کې ویلي دي چې «کذاب، کان یضع الحدیث».

تر دې چې هغه وایي: زه چې کله ووایم «في حدیثه نظر» معنا به دا وي چې راوي په دروغو تورن او کمزوری دی، د «که د الله سره مې ملاقات وشي په غیبت به راسره حساب ونه کړي» خبرې مطلب یې دا دی[2].

❁ سهل بن عبدالله التستري وایي: د (صدیقینو) له خویونو څخه دا دی چې په الله قسمونه ډېر نه خوري، نه غیبتونه کوي، او نه یې په مجلس کې څوک غیبتونه کولی شي، ځانونه نه مړوي، وعده خلافي هم نه کوي، او ټوکې ټکالې خو بیخي نه کوي[3].

❁ ❁ ❁

---

(١) صفة الصفوة: (١٧٦/٣).
(٢) سير أعلام النبلاء: (٤٣٩/١٢ - ٤٤١).
(٣) سير أعلام النبلاء: (٣٣٢/١٣).

## د وخت خيال ساتلو کې د سلفو صالحينو نمونې[١]

اعمش ته چا وويل چې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وايي: زه چې سپي پسې ملنډې ووهم، نو ويرېږم چې هسې نه سپی رانه جوړ نه شي، او هغه سړی مې ډېر بدي راځي چې نه دنياوي روزګار لري او نه د اخرت په کارونو بوخت وي[٢].

حسن بصري رحمه الله وايي: ای انسانه! ته ورځې (عمر) يې، چې ورځ لاړه شي ستا له بدن څخه هم ځينې برخه ولاړه شي[٣].

حسن بصري رحمه الله وايي: ما داسې خلک ليدلي دي چې له درهمو څخه پخپل عمر ډېر بخيلان وو[٤].

حسن بصري رحمه الله خپلو شاګردانو ته له دنيا څخه په ځان ساتنې او اخرت ته په توجه کولو نصيحت کو، ورته يې وويل: پام کوه چې ختمېدونکي لږ شيان دې په ځان بوخت نه کړي، په ځان دومره انتظار مه وباسه ورنه عمر به دې ډېر زر وخوري، مرګ ته بيدار ووسه، او سبا سبا مه کوه، هېڅ پته نشته چې ته به الله ته کله ورځې[٥].

د حسن بصري رحمه الله له هغو خورا ډېرو کلماتو له جملې څخه چې عمر بن عبدالعزيز رحمه الله ته يې نصيحت ليکلی و پکې وايي: زه به درته د دنيا حقيقت وښايم: يو تېر وخت، بل راتلونکی وخت، او دريم هغه وخت چې ته پکې يې.

د تير شوي او راتلونکي وختونو څخه خو هېڅ مزه نه شې اخستی، او نه يې

(١) په دې فصل کې هم د تير په څېر خپل شرط په دې خاطر ماتوو چې د فصل اړوند ډېرې ښې خبرې مو په نورو کتابونو کې چې په (سير أعلام النبلاء او صفة الصفوة) کې يې شتون نه درلود، غوره مو وبللې ترڅو لوستوال يې له ګټې او فايدې څخه بې برخې نه شي، له نورو کتابونو څخه مو اخذ وکړ.

(٢) سير أعلام النبلاء: (٤٩٦/١).

(٣) سير أعلام النبلاء: (٥٨٥/٤).

(٤) سرح السنة د بغوي ليکنه: (٢٢٥/١٤).

(٥) حلية الأولياء: (١٤٠/٢).

په ستونزو درديږي، خو ته چې کوم کړی موجود يې په پراډ دې له جنت څخه راستنوي او اور ته دې بوځي، او که ځيرکه يې نو ننې ورځ ستا ميلمنه ده او لږ څه وروسته درڅخه روانه ده، که ښه دې وپالـلـه د نيکو اخلاقو ګواهي به دې وکړي او وبه دې ستايې، او که بده رويه دې ورسره وکړه او ښه دې و نه پالـلـه په سترګو کې به دې اوري راوړي، دواړه ورځې د سکه وروڼو مثال لري، که د يو ښه قدر او احترام وکړئ او دوهم ورور يې راشي او درته ووايي چې که ما سره دې ښه رويه وکړه زما ورور سره کړی نقصان به درڅخه ورژيږي، که ته ځيرکه يې په ما سره احسان دې زما ورور ببښي، ستا لپاره دا ښه فرصت او زرينه موقعه ده.

او که د دوهم ورور سره يې هغه بده رويه وکړې چې د لومړي ورور سره دې ورله کړېوه، او دواړه درباندې بده ګواهي ورکړي هلاک او برباد به شې.

پاتې عمر دومره ارزښتناک دی چې قيمت نلري، که دنيا ټوله راغونډه کړې د ژوند د يوې ورځې د قيمت سره سمون نه خوري، پاتې ورځې دې په تاوان او په لږو ټکو پېسو مه خرڅوه، کوم وختونه چې دې په لاس کې دي مړه خلک يې ډېر په تعظيم مني او ارمان يې کوي، که مړي ته فرضاً وويل شي چې له پېل څخه تر اخره ټوله دنيا اخلې او که د عمل لپاره درته يوه ورځ درکړو؟ شک نشته چې ورځ به د تعظيم او پوره رغبت په ملتيا غوره کړي، او د ورځې په بدل کې به نور هيڅ غوره ونه کړي، بلکې که ټوله دنيا ورته د ورځ په بدل نه، د لږ وخت په بدل هم ورکول کيږي غوره به يې کړي، بلکې د کلمې د اندازې وخت به پرې غوره وبولي، ځان هوښيار کړه او د وخت قدر وپېژنه، کلمه ډېره تکرار کړه او د مرګ د جټکو په وخت کې له حسرتونو او ارمانونو څخه له وسه نه ځان وژغوره، زما د دې خبرو له دلائلو څخه مه بې خوفه کيږه، الله پاک دې مونږ او تاسو ته په دې نصيحت خير او ګټه راورسوي، او الله دې زمونږ د ژوند پايلې نيکې او صالحه کړي، والسلام عليک ورحمة الله وبرکاته[١].

رقّام وايي ما د عبدالرحمن [يعني ابن ابي حاتم] نه پوښتنه وکړه چې ولې دې د خپل پلار څخه روايتونه او پوښتنې ډېرې دي؟ هغه وويل: که هغه خواړه هم

(١) حلية الأولياء: (٢/١٣٩). کتاب الحسن الى عمر بن عبدالعزيز: (١٣٤).

خوړل، که روان به و، که قضاء حاجت ته به تلو، که کور ته د څه شي لپاره ننوته، زه به لګیا وم او اورول به مې ورته کول(۱).

امام رازي وايي د علي بن احمد خوارزمي نه مې واورېدل چې د عبدالرحمن بن ابي حاتم نه مې واورېدل: اووه میاشتې مو د ورځې په مصر کې له خواړو پرته له دې کبله تېرې کړې چې د شیوخو سره مو د درسونو وختونه تقسیم و، او د شپې له اړخه به مو نسخې سره کتلې چې تېروتې خو نه یو.

یوه ورځ زه او ملګري مې استاذ ته راغلو نو خلکو راته وویل: هغه ناجوړه دی، په لاره کې مو کب (ماهی) ولید ډېر مو خوښ شو وامو اخستو، د کور ته رسېدو سره د بل استاذ درس شروع کېدو والا و دکب صفا کولو او پخولو ته جوړ نه شول، مونږ درس ته لاړو او په کب درې ورځې دغسې تېرې شوي نزدې و چې خراب شي نو ووم (کچه) مو وخوړو، دومره نه وزګاریدو چې کب مو په اوبو کې ایشلي وی. بیا وايي: علم په راحت نه شي حاصلیدای(۲).

قاسم بن عساکر وايي: چا راته وویل چې سُلَیم بن ایوب به د ساه په اخستلو کې له ځان سره محاسبه کوله، له ګټې اخستو پرته به یې وخت بیخي نه پرېښود، یا به یې لیکل کول، یا به یې درس ورکو، یا به یې لوستل کول، دا یې هم راته اړوند ویل شوي دي چې د قلم د جوړولو په وخت کې به یې هم ژبه خوځیده(۳).

ابو الوفاء علي بن عقیل د خپل ځان باره کې وايي: راسره نه ښایي چې له ژوندخخه مې لږوخت هم ضایع کړم، که ژبه مې له مذاکرې او سترګې مې دکتاب له ویلو سترې راشي، پروت یم او سوچ مې په کار اچولی وي، راپاڅېدلی لا نه یم او یو څه لیکل مې ذهن ته راغلي وي، زه په اتیا کلنۍ کې د علم دومره شوق لرم چې په شل کلنې کې به مې لا دومره نه وي لرلی(٤).

هغه دا هم وايي: ځان لپاره مې د خواړو وختونه لږ لږ ټاکلي دي، ډوډۍ په اوبو

(۱) سير أعلام النبلاء: (۲٥۱/۱۳).
(۲) سير أعلام النبلاء: (۲٦٦/۱۳).
(۳) سير أعلام النبلاء: (٦٤٦/۱۷).
(٤) المنتظم: (۲۱٤/۹). د ابن الجوزي لیکنه. سوانح وتأملات في قيمة الزمن: (۳٤) د خلدون احدب لیکنه.

لمده کړم او خورم یې په دې خاطر چې په ژویلو یې وخت ونه لګیږي او لوست ته وزګار شم او یا هم هغه فوائد ولیکم چې ما نه وي لیکلي(۱).

۞ د ابن الجوزي استاذ، فقیه او وزیر یحیي بن محمد بن هبیرة باندې دې الله ورحمیږي، هغه وایي:

وَالْـوَقْـتُ انْـفَـسُ مَـا عَـنِـيْـتَ بِـهِ — وَارَاهُ اسْـهَـلَ مَـا عَـلَـيْـهِ يَـضِـيْـعُ

ژباړه: ډیر لائق ده چې په خپل وخت دې اهتمام وکړې، خو زه ګورم چې له تا څخه په ډیره اسانتیا سره ضایع کیږي.

۞ ابن النفیس -چې د خپل وخت ماهر طبیب و- ویل کیږي: چې کله به یې لیکل کول تیار پرېکړل شوي قلمونه به ورته کیښودل شول، او لکه د روان سیلاب په څیر به یې لیکل کول، د لیک په وخت کې چې به کله قلم بې کاره شو وبه یې غورځو او بل بې راواخست تر څو د قلم په تېره کولو کې وخت تېر نه شي... یوه ورځ حمام ته ننوت له ځینې غسل وروسته د کالو (جامو) اغستلو ځای ته راغی او دوات یې وغوښت، هم هلته یې د نبض په حالت تر پایه یو مقاله ولیکله، بېرته حمام ته ننوت او غسل یې پوره کړ(۳).

۞ ابن الجوزي ﷀ د خپل ځان باره کې وایي: ما ډیر خلک ولیدل چې د ملاقات په نوم یې عادتونه جوړ کړي دي د یو او بل کره ځي راځي، خپل دغه کار ته خدمت وایي، یو بل سره ناست وي، بې فائدې خبرې یې شروع کړي وي او پردي غیبتونه کوي.

زمونږ دې وخت کې خلکو ځانونه دېته وزګار کړي دي، د ملاقاتونو لپاره سره خلک یو بل ته بلنې استوي، شوق لري، ځاني وحشت په ګپونو شپونو ختموي، په ځانګړې توګه د اخترونو او خوشحالو په موسمونو کې په سلام او ملاقات بسنه نه کوي بلکې تېوکې ټکالې او وختونه پکې ضایع کوي.

زه چې کله وپوهېدم چې وخت ارزښتناک دی او د خیر کارونو په کولو ترې ګټه

(۱) ذیل طبقات الحنابلة: (۱/۱۷۷). سوانح وتأملات في قیمة الزمن: (۳٤).
(۲) ذیل طبقات الحنابلة: (۱/۲۸۱). سوانح وتأملات في قیمة الزمن: (۳۹).
(۳) روضات الجنات: (۵/۹۰ – ۹۳). د خوانساري لیکنه. سوانح وتأملات فی قیمة الزمن: (۳۷).

اخستل په کار دي، نو د خلکو دغه کردار مې له پامه بدي راغلی په دوه و کې هک پک حيران پاتې شوم:

که انکار پرې کوم زه د ځاني وحشت سره مخامخ کيږم او که يې غوښتنې قبولې کړم وخت مې ضايع کيږي، د توان په اندازه مې د خلکو له ملاقاتونو ځان را قابو کړ، او که به د خلکو سره يو ځای شوم داسې خبرې به مې کولې چې له خلکو څخه په چټکه ځان خلاص کړم.

د خلکو سره د خبرو اترو په مهال به مې داسې کارونه کول چې د هغوی سره د خبرو مانع به نه جوړېدل تر څو وخت فارغ تېر نه شي، د خلکو سره د ملاقاتونو په وخت کې به مې د ليک لپاره کاغذ تياره و، قلمونه به مې تېره کړل، کتابچې به مې تياري کړې، ځکه دا عملونه د زړه حضور، او ذهني تياری نه غواړي، نو کار به کار وشو او وخت به هم ضايع نه شو[1].

(۱) صيد الخاطر: (۱۸۴ ۱۸۵).



# په خندا او ټوکو کې د سلفو انداز

انس ﵁ وايي: نبي ﷺ ته يو سړی راغی او ورته يې وويل: د سپرېدو لپاره سورلی راکړه، هغه ورته وويل: مونږ به دې د اوښې په بچي سپور کړو، سړي ورته وويل: داوښې په بچي به زه څه وکړم؟ نبي ﷺ ورته وويل: ولې اوښان واړه بچي نه زږوي؟[(١)]

صهيب رومي ﵁ وايي: زه نبي کريم ﷺ ته راغلم او د هغه مخې ته ډوډۍ او کجورې پرتې وې، ما ته يې وويل: رانږدې شه خوره، ما کجورې خوړې نو نبي ﷺ راته وويل: ستا خو سترګې خوږيږي ولې کجورې خورې؟ ما ورته وويل: زه يې په بله ژامه خورم، نو نبي ﷺ وخندل[(٢)].

اسيد بن حضير ﵁ وايي: له خلکو سره مې د خندا خبرې کولې نو نبي ﷺ په تشي کې لرګي باندې ووهلم، بيا يې وويل: بدل دې واخله، ما وويل: په ما کميس نه و او په تا کميس دی، نبي ﷺ کميس پورته کړ هغه يې تشی ښکل کړ، بيا يې ورته وويل: ای د الله رسوله! زما مطلب دا و[(٣)].

معاوية بن بهز ﵁ وايي ما د نبي کريم ﷺ نه اوريدلي دي: هغه څوک دې هلاک شي چې د خلکو خندولو لپاره خبرې کوي، هلاک دې شي، هلاک دې شي[(٤)].

ابوهريرة ﵁ وايي صحابه کرامو نبي ﷺ ته وويل: ته کله ناکله مونږ سره خوش طبيعتي هم کوې! هغه ورته وويل: زه په هر حالت کې د حق وينا کوم[(٥)].

---

(١) سنن ابي داود: كتاب الأدب، باب ما جاء في المزاح، حديث نمبر: (٤٩٩٨). صحيح أبي داود: (٩٤٣/٣) شمير: (٤١٨٠). جامع الترمذي: كتاب البر، باب ما جاء في المزاح، حديث نمبر: (١٩٩٢).

(٢) سنن ابن ماجه: كتاب الطب، باب الحمية، حديث نمبر: (٣٤٤٣)، صحيح ابن ماجه: (٢٥٣/٢، حديث نمبر: ٢٧٧٦).

(٣) سنن أبي داود: كتاب الأدب، باب فى قبلة الجسد، حديث نمبر: (٥٢٢٤). صحيح أبي داود: (٩٨٠/٣، حديث نبمر: ٤٣٥٢).

(٤) سنن أبي داود: كتاب الأدب، باب في التشديد فى الكذب، حديث نمبر: (٤٩٩٠). صحيح أبي داود: (٩٤٢/٣، حديث نمبر: ٤١٧٥).

(٥) جامع الترمذي: أبواب البر والصلة، باب ما جاء في المزاح، حديث نمبر: (١٩٩١). او حديث ته يې حسن صحيح ويلي دي.

محمد بن النعمان بن عبدالسلام وايي: د يحيې بن حماد نه مې څوک ډېر عابد انسان نه دی ليدلی، او زما په خيال هغه بيخي خندلي نه دي.

ذهبي تعليقاً وايي: تبسّم او لږه خندا کول بد اثر نه لري، خو په اهل علم کې يې نشتوالی دوه ډوله دی:

**لومړی**: هغه افضل دی چې د الله پاک څخه د خوف او ډار له کبله، او پخپل ځان باندې د رحم له امله يې پرېږدي.

**دوهم**: که څوک يې د رياکارۍ، حماقت او يا د کبر له وجې پرېږدي دا مذموم دی، د خلکو په نظر کې هغه سړی ډېر بد ښکاري چې ډېرې خنداګانې کوي، خو د ځوان په پرتله خندا په بوډاګانو کې ډېره بدې ښکاري.

خو تبسم، ورون تندي له هر څه نه افضل او غوره دي، نبي ﷺ فرمايي: [مسلمان ورور ته ستا خندا صدقه ده(۱)] جرير وايي: نبي ﷺ چې ما ته کله هم کتلي دي راته يې خندلي دي(۲).

دا اسلامي خويونه دي، لوړ مقام پکې د هغه چا دی چې د شپې ژاړي او د ورځې خلکو ته خاندي، نبي کريم ﷺ فرمايي: **[لَنْ تَسَعُوْا النَّاسَ بِامْوَالِهُمْ، فَلْيَسَعهُمْ مِنْهُمْ بَسْطُ الوَجْه]**(۳).

ژباړه: تاسو که خلکو ته خپله شتمني نه شئ ورکولی، نو هر څوک بايد په کولاو مخ ورسره ليدل کتل وکړئ.

يوه خبره پاتې شوه: څوک چې ډېره خندا او تبسم کوي بايد اندازه يې کمه کړي،

(۱) الأدب المفرد: حديث نمبر: (۸۹۱). جامع الترمذي: كتاب البر، باب ما جاء في صنائع المعروف، شمير: (۱۹۵۷).

(۲) صحيح البخاري: كتاب الجهاد، باب ن لا يثبت على الخيل، حديث نمبر: (۳۰۳۵). او: كتاب الأدب، باب التبسم والضحک، حديث نمبر: (۶۰۷۹). مسلم: فضائل الصحابة، باب من فضائل جرير بن عبدالله، حديث نمبر: (۲٤۷۵).

(۳) مسند البزار: حديث نمبر: (۱۹۷۷). حلية الأولياء: (۱۰/۲۵). مستدرک الحاکم: (۱/۱۲٤). ټولو د ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت کړی دی، په سند کې يې عبدالله بن سعيد المقبري دی په تقريب التهذيب ترجمه شميره (۳۳۵۶) کې ورته متروک ويل شوي دي، حاکم حديث ته صحيح ويلي دي خو ذهبي وايي چې عبدالله کمزوری دی.

او په دې خاطر پرې ځان ملامته وبولي چې مزید نور ډېر ونه خاندي، او څوک چې ډېر غصه ناک او زیات قهر لري، باید خپله رویه سمه کړي، او پخپل دغه ناوړه اخلاقو ځان ته په قهر شي، له میانه روۍ څخه هر کږلیچ مذموم دی، اړینه ده چې نفس سره ضرور محاسبه وشي[١].

(١) سیر أعلام النبلاء: (١٠/١٤٠ – ١٤١).



# پای

دغه د سلفو صالحینو اقوال او کردار و، او زمونږ اخلاق او کردار په څه ډول دی؟ د دغې لوړو او غښتلو اخلاقو څخه مونږ چرته یو؟ زمونږ او د سلفو صالحینو د اخلاقو ترمنځ باغوره انسان د فاصلې لوي واټن محسوسوي، خو ولې د سلفو مینه ګړکې د هغوی په پل پسې د توان اندازه زیار وباسي، کوښښ کوي چې خپل ځان دغو نیکو خلکو ته نزدې کړي، خو په چا کې چې دغسې صادق اخلاص او رښتنونې توجه وي الله پاک ورسره د سلفو صالحینو لوړو اخلاقو ته په رسیدګۍ کې مرسته کوي او لارې ورته اسانوي، او په نیکه لاره یې روانوي، الله پاک فرمایي:

﴿ وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ ﴾ [سورت العنکبوت: ٦٩]

ژباړه: په دین کې چې څوک جدجهد کوي مونږ به ورته هرومرو خپلې لارې وښایو او الله پاک د نیکو کارو خلکو مل دی.

که څه هم له سلفو صالحینو وروسته په راغلو خلکو کې قصور لازمي صفت دی او اخلاق مو له هغوی څخه په بهترۍ کې ډیر کم دي، خو بیا هم مونږ د هغوی سره مینه لرو او احترام یې کوو، له الله څخه امېد لرو چې مونږ د هغوی ملګري جوړ کړي او حشر نشر مو له هغوی سره وکړي، دا وعده د نبي کریم ﷺ نه غوځ صحیح ثبوت لري چې یو سړی نبي کریم ﷺ ته راغی او ورته یې وویل: قیامت کله دی؟ هغه ورته وویل: تا قیامت له څه تیارې کړي دي؟ هغه ورته وویل: هیڅ تیاری مې نه دی کړی خو د الله او د هغه د رسول سره مې مینه ده، نبي کریم ﷺ ورته وویل: ته به د هغه چا سره یې چې ورسره مینه لرې، انس رضي الله عنه وایي: مونږ د نبي کریم ﷺ په دې خبره چې (ته به د هغه چا سره یې چې مینه ورسره لرې) ډیر زیات خوشحاله شو، بیا انس رضي الله عنه وویل: زه د نبي ﷺ سره، د ابوبکر سره، د عمر

ﷺ سره مينه لرم، که څه هم د هغوی په څېر نيک عملونه نه لرم خو اميد لرم چې د ميني له کبله ورسره يو ځای شم[1].

ای الله! د نبي کريم ﷺ سره، د هغه د ملګرو او تابعينو سره مونږ تا پخپلې مينې ګواه کوو، ای الله! مونږ ورسره يو ځای کړې، که څه هم مونږ له هغوی نه په نيکو عملونو کې کم او کوتا يو خو ته مو ورسره حشر نشر وکړې، ای الله ته دعا اورېدونکی او قبلونکی يې.

ای الله مونږ ته، زمونږ هغه مسلمانانو ورونو ته چې په اسلام باندې له مونږ څخه وړاندې تېر شوي دي مغفرت او بخشش راته وکړه، زمونږ په زړونو کې مومنانو بندګانو ته بغض او کينه مه راوله، ای الله! ته مهربان او رحم کونکی يې.

واخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمين

(١) صحيح البخاري: كتا ب فضائل الصحابة، باب مناقب عمر بن الخطاب رضي الله عنه حديث نمبر: (٣٦٨٨). فتح الباري: (٥١/٧ – ٥٢).

## داخستنليكونو لړ ليک


- قران كريم.
- **ارواء الغليل في تخريج احاديث منار السبيل**: د محمد ناصر الدين الباني ليكنه، المكتب الاسلامي - بيروت دوهم چاپ - ١٤٠٥.
- **الاصابة في تمييز الصحابة**: د احمد بن علي العسقلاني (ابن حجر) ليكنه، مكتبة ابن تيمية - قاهرة ١٤١١.
- **تاريخ الرسل والملوك**: د ابو جعفر محمد بن جرير الطبري ليكنه، تحقيق: محمد ابو الفضل ابراهيم، دار المعارف قاهره دريم چاپ.
- **تقريب التهذيب**: د احمد بن علي العسقلاني (ابن حجر) ليكنه) تحقيق محمد عوامة، دار القلم دمشق، دريم چاپ ١٤١١.
- **جامع البيان عن تاويل آي القران**: د ابو جعفر محمد بن جرير الطبري ليكنه، دار الجيل، بيروت، ١٤٠٧.
- **حلية الاولياء وطبقات الاصفياء**: د ابو نعيم احمد بن عبدالله اصبهاني ليكنه، دار الكتاب العربي، بيروت پنځم چاپ ١٤٠٧.
- **الدرر المنثور في التفسير بالماثور**: د جلال الدين (عبدالرحمن بن الكمال) السيوطي ليكنه، مطبعة الانوار المحمدية القاهرة، ١٩٩٠ م.
- **روضة المحبين ونزهة المشتاقين**: د محمد بن ابي بكر بن القيم الجوزية ليكنه، دار الكتب العلمية، بيروت ١٤٠٣.
- **سلسلة الاحاديث الصحيحة**: د محمد ناصر الدين الباني ليكنه، مكتبة المعارف، الرياض، دوهم چاپ ١٤٠٧.
- **سنن ابي داود**: د ابو داود سليمان بن الاشعث السجستاني ليكنه د معالم السنن

د خطابي شرحې سره، تحقيق: عزت عبيد دعاس، چاپ: محمد علي السيد، حمص سوريا ۱۳۸۸.

- **سنن الترمذي:** د ابو عيسي محمد بن عيسي بن سورة الترمذي ليكنه، تحقيق: عزت عبيد دعاس، المكتبة الاسلامية استانبول تركيا.
- **سنن الدارمي:** د ابو محمد عبدالله بن عبدالرحمن الدارمي ليكنه، تحقيق دكتور مصطفي ديب البغا، دار القلم د مشق ۱۴۱۲.
- **سنن النسائي:** د ابو عبدالرحمن احمد بن شعيب النسائي ليكنه، د سيوطي د شرحې او د سندي د حاشي سره، دارالكتب العلمية بيروت لبنان.
- **سوانح وتاملات في قيمة الزمن:** د خلدون احدب ليكنه، مكتبة دار الوفاء جده، دريم چاپ: ۱۴۱۰.
- **سير اعلام النبلاء:** دمحمد بن احمد بن عثمان الذهبي ليكنه، تحقيق: شعيب الارناؤوط، مؤسسة الرسالة بيروت، اتم چاپ ۱۴۱۲.
- **شرح السنة:** د حسين بن مسعود البغوي ليكنه، تحقيق: شعيب الارناؤوط او محمد زهير الشاويش، المكتب الاسلامي بيروت، دوهم چاپ ۱۴۰۳.
- **شرح العقيدة الواسطية:** د شيخ الاسلام ابن تيمية متن او د محمد خليل هراس شرح، ادارة احياء السنة، گوجرانواله پاكستان.
- **صحيح البخاري:** د ابو عبدالله محمد بن اسماعيل البخاري ليكنه، او فتح الباري د احمد بن علي بن حجر العسقلاني ليكنه، تحقيق: محمد فؤاد عبدالباقي او محب الدين الخطيب، دار الريان للتراث قاهره ۱۴۰۷.
- **صحيح سنن ابن ماجة:** د محمد ناصر الدين الباني ليكنه، اشراف: زهيز الشاويش، مكتب التربية العربي لدول الخليج رياض، او مكتب الاسلامي بيروت، دريم چاپ ۱۴۰۸.
- **صحيح سنن أبي داود:** د محمد ناصر الدين الباني ليكنه، تعليق: محمد زهير شاويش، مكتب التربية العربي لدول الخليج رياض، لومړي چاپ ۱۴۰۹.

❂ **صحیح مسلم**: د ابو الحسین مسلم بن الحجاج النیسابوري لیکنه، تحقیق: محمد فؤاد عبدالباقي، دار احیاء الکتب العربیة (فیصل عیسي البابي الحلبي) قاهره.

❂ **صفة الصفوة**: د ابو الفرج عبدالرحمن بن علي بن الجوزي لیکنه، تحقیق: محمود فاخوري او محمد رواس قعله جي، دار الوعي حلب، لومړي چاپ ۱۳۸۹.

❂ **ضعیف سنن ابي داود**: د محمد ناصر الدین الباني لیکنه، اشراف: زهیر شاویش، المکتب الاسلامي بیروت ۱٤۱۲.

❂ **الطبقات الکبري**: د محمد بن سعد بن منیع لیکنه، تحقیق: محمد عبدالقادر عطاء، دار الکتب العلمیة بیروت، لومړي چاپ ۱٤۱۰.

❂ **عقیدةالسلف واصحاب الحدیث**: د ابو عثمان اسمعیل بن عبدالرحمن الصابوني لیکنه، تحقیق: نبیل سابق السبکي، مؤسسة البشائر العالمیة للتجارة والتوزیع ریاض ۱٤۱۳.

❂ **القاموس المحیط**: دمجد الدین محمد بن یعقوب الفیروز ابادي لیکنه، تحقیق: مکتب تحقیق التراث مؤسسة الرسالة، نشر: مؤسسة الرسالة بیروت دوهم چاپ: ۱٤۰۷.

❂ **الکامل في التاریخ**: د ابو الحسن علي بن محمد الشیباني (ابن الاثیر) لیکنه، دار الکتاب العربي، بیروت.

❂ **المستدرک علي الصحیحین**: د حاکم ابو عبدالله محمد بن عبدالله نیسابوري لیکنه د ذهبي د حاشي سره، دار المعرفة بیروت.

❂ **المسند**: دامام احمد بن حنبل لیکنه، مؤسسة قرطبة، قاهره.


❂ ❂ ❂



# دا كتاب

د سلفو صالحينو منهج عقيدې، تصور، سلوک او اخلاقو ته شامل مفهوم لري، نو ضرور ده چې د هغوی د عقيدې او منهج په تشريح کې سلوک او اخلاق هم وڅېړل شي، لکه څنګه چې له چا څخه د سلفو عقيدوی اړخ اهمالول او سلوکو ته يې عملي بڼه ورکول نه قبليږي داسې ورڅخه دا هم نه قبليږي چې عقيدوي اړخ يې پلی کوي خو سلوکي جانب يې اهمالوي.

که څه هم د سلفو صالحينو عقيده او منهج په نورو کتابونو کې الحمدلله په کافي او شافي انداز بيان شوی دی خو ولې دا کتاب يې د اخلاقي او سلوکي جانب د توضيحولو يو هڅه ده، دا کتاب مو د امام ذهبي له (سير أعلام النبلاء) او د ابن ا لجوزي له (صفة الصفوة) څخه راخستی دی، هڅه مو کړې ده چې د سلفو صالحينو درېځونه پکې په موضوعي ترتيب وڅېړو، خيال مو ساتلی چې هم د کتاب حجم کم او لاس رسی هم ورته اسان وي، په کتاب کې مو نږدې شپږويشت فصلونه ذکر کړي دي. له رب متعال څخه سوال کوو چې د سلفو صالحينو اخلاق خپلولو توفيق راکړي، او د مومنانو ترمنځ د نشر او اشاعت توان راکړي، وصلى الله على محمد وعلى آله وصحبه وسلم.

IslamHouse.com

www.IslamHouse.com IslamHouse.com IslamHouseEn IslamHouseEn

For more details visit
www.GuideToIslam.com

GUIDE TO ISLAM

contact us :Books@guidetoislam.com

GuidetoIslam.org Guidetoislam1 Guidetoislam www.Guidetoislam.com

المكتب التعاوني للدعوة وتوعية الجاليات بالربوة

هاتف: ٩٦٦١١٤٤٥٤٩٠٠+ فاكس: ٩٦٦١١٤٩٧٠١٢٦+ ص ب: ٢٩٤٦٥ الرياض: ١١٤٥٧

ISLAMIC PROPAGATION OFFICE IN RABWAH

P.O.BOX 29465 RIYADH 11457 TEL: +966 11 4454900 FAX: +966 11 4970126

# مونږ او سلف صالحين ..
# موازنه او پرتله

د كتاب په اړه: أين نحن من أخلاق السلف د كتاب اسلوب او رنګ ډېر ښايسته دی!! ډېر اسان فهمه او ډېر علمي دی!! د تزكيې او تربيې كتاب دی، د زهد كتاب دی، د پرهيزګارۍ او هدايت كتاب دی، په خپل راقي اسلوب يې زمونږ د سلفو صالحينو ژوند څرګند كړی دی، لوستوال يې پيروۍ ته هڅوي، پر نېكو عملونو، تقوا او اخرت ته يې په استعداد تېزوي، د كتاب منځپانګه شپږويشت تربوي بابونه لري، هر باب په عالي اسلوب معنون او ځلېدونكی مضمون لري، زړونه په اطاعت او له سترګو څخه د ګناهونو په سبب اوښكې روانوي، لوستوال په دې روزي چې هواپرستۍ ترې دستمال جوړ نه كړي، او مصيبت يې لا پسې شقي نه كړي، ځكه چې بنده رحيم او كريم رب لري، ګناهونه يې بخښي او پيروي يې يو په لس ان تر اووه سوه پورې قبلوي، دا كتاب لوستوال پوهوي چې دنيا له هغو خلكو څخه تللې ده چې يې په ولكه كې وه، او تر هغو خلكو راغله چې يې نه غوارې، دا كتاب لوستوال ته ښايي چې سلف صالحين اسلام ښوونكي او دعوتپال ول، هغوی باغي او طاغي طبقه نه وه، دنيا هم كور دی او اخرت هم او دواړه بچيان لري، كه مو توان وي د اخرت بچي جوړ شئ خو د دنيا بچيان مه جوړېږئ.





IslamHouse.com
مركز أصول
Osoul Center
www.osoulcenter.com